

ناول

# کوچي ملا

محمد صدیق پسرلی

کوچي ملا

محمد صدیق پسرلی

دا ناولګی مې د ۱۳۶۵ل کال په وروکې د کلتوري ټولنې په دفتر کې په مختلفو فرصتونو کې لیکلی و، چې څو کاله څه شان پاتې پاتې پروت و.

د ۱۳۷۹ل کال په وروستیو شپو ورځو کې مې سره ترتیب او له تجدید نظر سره مې له سره پاکنویس کړ، چې د ۱۳۸۰ل کال د حمل په نولسمه په موجوده بڼه رانقول او چاپ ته اماده شو.

لیکوال

0787899692 0776484320

# کوچی ملا

ناول

د لاسته راوړلو ځای : تاند انټرنیټ پاڼه

راخیستونکی : رحمت الله شاکر

غوره ویناوی:

**که ټول انسانان دخپلی پوهی په اندازه خبری وکړی دونیا به چپه پاتی شی**

**ناپیلیون بناپارت**

**زموږ اختر به هغه ورځ وی چی د دهقان دیوه کال خواری د بادشاه دیوی شپی نه شی**

Download from: aghalibrary.com

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

د دوی پایکپ موټر دویم موټر و چې د جګړې د لومړۍ کرښې پر خوا په بېړه روان و، دوی ټولو سرونه له دوړو او یخنۍ نه په بړستنو کې پټ کړي وو.
جلیل د موټر په مخکینۍ برخه کې ولاړ و، پر غوږونو یې خپله خولۍ ښه ټینګه کړې وه، سره له دې چې د جګړې تر سیمې پورې لا ډېر واټن پاتې و، خو ده یوه او بله خوا داسې څارله لکه چې د خپلو دښمنانو په منځ کې وي، دی پوهېده چې په شا و خوا کلیو کې نېږدې خوا نه لري، شا و خوا یې په ډېر دقت څارله خو کله کله به یې له رحیم ګل سره چې هغه هم له بړستنې سر را ایستلی و یوه نیمه خبره وکړه، په کلیو کې له یونیم ماشوم پرته هیڅوك نه ترسترګو کېدل، یو ځل په کلي کې یوه سپي د دوی په موتر پسې منډې کړې تر ډېره یې پسې غپل یو بل ډز پرې وکړې سپی پر ځمکه پرېووت او د موټرو په دوړو کې پټ شو، عبدالجلیل له کلي سترګې بلې خوا ته نه اړولې، له هرې کلا به چې تیر شو بېرته به یې مخ را واړاوه، تر هغه به یې ورته کتل چې له سترګو به الونیا شو، د زړې کلا پر بام یې د یوې پیغلې په لیدو سره دا سندره له خولې ووتله:
پر بام ولاړه یې نازکې ولیلو، دا رنګ دې ولې ژیړ دی جا. . .
خو د رحیم ګل د خندا غږ یې سندره په خوله کې وچه کړه
جلیل چې هماغسې یې د زړې کلا بام ته کتل ورته وویل:
_څنګه دې داسې په یټکې وخندل؟
_ستا پر لېونتوب مې وخندل.
جنګ ته، ته په خوشحالي روان یې او لیونی ماته وایې؟
_ما پر دې وخندل چې تا بیا د هغې رنګ څه ولید چې زیړ دی که سپین او که تور؟
جلیل وخندل:
_هی هی: ګله ساده ګله ته ووایه څوك چې زموږ دا موټرې



Download from: aghalibrary.com

او په موټرو کي دا د راکټو ګیډۍ او زموږ د ملګرو دا اوږدې اوږدې ګرګوټې څنې ویني څنګه به یې رنګ ژېړ نه وي؟
جلیل سوړ اسویلی وکیښ، چې هغه څه ونه ویل پسې زیاته یې کړه:
_هو ته رښتیا وایې، خو دوی زموږ په زړه څه خبر دي، چې څه پکې تېریږي؟
_ته له مرګه نه ډارېږې که څه؟
_هی هی وایي په توره شپه کي هر څوك ډارېږي خو څوك حال وایي، څوك یې نه وایي، مرګ دې خدای لیرې لري، څوك به مرګ ته تیار وي.
رحیم ګل په خندا شو:
_خدای دې خوار نه کړه پرون دې د امیر صاحب خبرو ته داسې سر ښوراوه، ما ویل چې دا دی اوس به جنګ ته روان شې او نن بیا له مرګه وېرېږې.
ګوره رحیم ګله ما و تا خو پخوا هم ډېرې خبرې سره کړې دي. . .
جلیل خپله خبره دلته پرېښوده سوړ اسویلی یې له خولې ووت، څه ووایم.
بیا یې د کلاشینکوف د میل په څوکه خپله زنه وګروله پسې زیاته کړه:
_اوس مې دغه خورکۍ چې د بام پر سر ولیده له تا یې څه پټه کړم، سترګو ته مې خپله کور ودانه (مېرمن) ودرېده، هغه به هم اوس زما لارې څارې له دې څوك خبر دی چې د دې ښځې ورور یا خاوند به زموږ د دښمنانو په ډله کې وي، او یا به زموږ له خوا نن ووژل شي څوك څه پوهېږي چاته.
رحیم ګل یې خبره پرې کړه:
_هغې د چا لاره نه څارله، د تاوخانې مورۍ یې پټوله ځکه پر

بام ولاړه وه، او تا ته بیا خپله کورودانه در په یاد شوه، لکه چې دېره دربانديِ ګرانه ده ها؟
_ورك يې كه په زخمو مي مالګې مه دوړوه، دا دی درې ورځې وروسته اختر دی، ما په کور کي ويلي و، چې له اختره مخکې راځم، له بل چا سره دې ګډه قرباني نه کوي، زه به له ځان سره له بازاره د قرباني لپاره پسه راولم.
رحيم ګل وخندل:
_لکه چې کوم ځای دي ښه ونډ منډ لګېدلی دی چې سږ کال پسه قرباني کوې؟
_زه د ونډ لپاره نه يم راغلی.
_له طلايي غاښو خو دې دغسې مالومېږي، د چا چې ونډ نه وي لګېدلی د سرو زرو غاښونه نه ږدي.
_دا ډېر پخواني دي، ان په دوبۍ کي مې ايښي وو.
يره جليله نن داسې بل ډول. . .
خبره يوه هيبتناك اواز پرې کړه، موټر په شدت سره بريك شو، شا و خوا دوړې او دودونه پورته شول ټول له موټرو ښخه را كوز شول، يوې بلې خوا ته يې منډې كړې،لومړی موټر ماين وهلی و، څو تنو هغې خواته منډه کړه، څو د خپلو ملګرو غوښې او هډوکي چې يوې او بلې خواته پراته و راټولي كړي، خو د كاريز او ورته نژدې باغ له خوا د ګوليو باران پرې جوړ شو، دوی ټول د سړك په يوه بله خوا كي په كروندو كي پټ شول او بې له دې چې ځای مشخص وي يوې او بلې خواته په ډزو پيل وکړ.
عبدالجليل په يوه کوچني لښتي "وياله" کي ځان په ډيره سختي ځای کړی و، ده ډزې نه کولې، سر يې ښكته نيولی و، خپل كلاشينكوف يې هم داسې د پښو په منځ كي ټينګ نيولی و، لكه چې له چا ښخه يې پټوي.
مخامخ ولاړ واښه سره وښورېدل ده لږ ځان سره سم کړ،

کلاشینکوف یې را پورته کړ، قید یې ووهه او هغې خواته ځیر
شو، د کلاشینکوف قید ته یې وکتل په ضربه یې ودراوه او د
مخامخ ولاړو درګو او وابنو په لوري یې نښان برابر کړ،
داسې معلومېدل لکه د وښو په منځ کې چې څوك پټ وي، خو
دا مالومه نه وه چې خپل دی که پردی.
جلیل ځان نور هم په ځمکه پورې ونښلاوو، د کلاشینکوف په
ماشه یې ګوته کېښوده فکر یې وکړ:
څه وکم، ویې ولم، که ډزې وکم نو. . . نه نه، زه څوك نه
وژنم، ولې څوك مړ کم، د چا په مرګ کې زما څه ګټه ده ګنا
لري.
ورته نژدې وابنه وښورېدل داسې معلومېده چې څوك د ده
خواته رانژدې کېږي.
له ځان سره یې وویل:
اوس نو څه وکم که غږ پې کوم زما ځای ورته مالومېږي او
ډز راباندې کوي.
شا و خوا ډزې نورې هم پسې زیاتې شوې، دوی یو له بله
ورك شوي وو، دا مالومه نه وه چې خپل کوم دی او پردی کوم
دی، له هرې خوا د ډزو غږونه راتلل، یوه نیمه ګولۍ به د
جلیل له سره تېره شوه، جلیل له ځان سره سوچ وکړ:
ولم یې توکل په خدای،که نه ما وژني.
بیا تلولی شو:
اوف خدایه! څه وکم په اومر (عمر) مې څوك نه دې وژلي،
اوس یې څنګه مړکم.
نژدې درګې او وابنه بیا وښورېدل جلیل ورته ځیر شو، خو
وابنه دومره ګڼ و چې څوك نه پکې مالومېدل، کوښښ یې
وکړ چې په ویاله کې ځان وښویوي او ځان ترې لرې کړي
خو شا ویاله تنګه وه، و خوا یې وکتل که بل پټ ځای پیدا کړي
او ځان په یوه منډه ور ورسوی، خو هیڅ داسې ځای یې پیدا نه

کړ، له ځانه سگره یې وویل:
نشته داسې لوری، چې ور وتښتي کمزوری، توکل مي دې په خدای وي ولم یې، که دی و نه ولم ما وژني،
کلاشینکوف یې د وښو په لوري برابر کړ شا.
ماشې ته یې گوته ورنژدې کړه، سترگې یې پټې کړې، په ماشه یې گوته ټینگه کړه خو ډز یې و نه کړ، لکه چې لاس یې سوځېدلی وي، ژر یې ترې ایسته کړ، له سر نه یې خولۍ ایسته کړه، ځان یې نور هم له ځمکې سره ونښلاوو
کلاشینکوف یې هماغسې د وښو په لوري نیولی و، بیا یې ماشې ته گوته ور وړه او چېغه یې کړه:
څوك یې؟ که نه ومې ویشتې.
له هغې خوا په بېړه پرې غږ وشوزه یم رحیم گله جلیل یم.
جلیل په غوصه وویل:
_ کړی وي زوی مړې اوس خو مې غلبېل ولې دې غږ نه کاوو.
رحیم گل رانژدې شو په زگېروي یې وویل:
_ سینه را وښویېده د چېغې مه وهه، نه وینې چې شا و خوا ټول دښمنان را تا و دې ، او له دې سره د جلیل په لوري په
جلیل پام شو چې د رحیم گل له کینې لاس څخه وینې بهېږې په خواشینۍ یې وویل:
_او هو ته خو زخمي یې، لکه چې وینه دې ډېره زایه (ضایع) کړې ده دا څنگه؟
_اوه پوښتنې مه کوه.
جلیل پخپل دسمال د رحیم گل لاس و تاړه، خپل ځای یې ورته خوشې کړ ورته و یې ویل ته دلته څمله زه به د هغې پولې تر څنگ کېنم،:
جگړه تر پخوا سره شوې وه، خال خال ډزې روانې وې د جگړې د بل لوري، ډزې له لرې اورېدل کېدې، خو دوی بیا

هم ښايي له وېرې يوې او بلې خواته ډزې کولې، څه شېبه وروسته د دوی د موټرو او زر پوښونو غرهار اواز هم واورېدل شو جليل په خوښۍ وويل:
لکه چې حرکت دی، ځه چې د سرك خواته ولاړ شو چې هسې له دې لانتي "لعنتي "ځای نه ځانونه وباسو خو رحيم ګل زړه نا زړه و،جليل بيا وويل_ تلای په شا شه که نه شې را لکه چې زړه دې نه کېږې که څه؟ کېږې که څه؟ ماته
_نه نه ښه يم، پخپلو پښو تلای شم.
جليل يو ځل بيا شا و خوا وڅارله، د کوچني ديوال تر څنګ يې د سړك پر لوري منډه واخيستل
خو د رحيم نا څاپي غږ ځای پر ځای ودراوو.
، چېګرې منډې وهې؟ ودرېږه دا زما کلاشينکوف هم ته واخله زما لاس ډېر خوږېږي.
جليل بيرته د ده په لوري روان شو، رحيم ګل چې د کلاشينکوف ميل د ده په لورې نيولی و په ماشه ګوته کېښوده.
جليل په وارخطايي ورته وويل:
مه مه دا څه کوې څه. . .
او له دې سره په ځمکه ولوېده.
موټرونو هارنونه کول، قوماندان موټرو ته د مړو او زخميانو د پورته کولو امر وکړ، د لومړيو مورچلونو جنګياليو ډزې کولې او نورو مړي او زخميان په موټرونو کې ځای پر ځای کول، رحيم ګل د جليل د جسد تر څنګ خواشينی ناست و سوړ اوسيلی يې تر خولې ووت.
اوه، لکه چې ټولې ګولۍ يې په خوله کې لګېدلې وي، ټول شاجور يې په خوله کې تش شوی دی غاښونه يې ورك دي.
اخ غاښونه، دسرو زرو غاښونه، لکه چې د دواړو له خولې ووتل!!!

## سوې نارې

جګړه چې له څو ورځو را په دېخوا روانه وه، وار په وار زیاتېدله، له دواړو خواوو د توپونو، ټانکونو او توغندیو پرله پسې ډزو پر خلکو خوب درولی و، په تېره د دواړو خواوو د الوتکو بمبارۍ چې د دوی په کورونو کې کېدلې ډېر وارخطا کړي وو، په تېرو ورځو کې د سیمې هغه اوسېدونکي چې له خپلې کورنۍ څخه پرته یې دلته ژوند کاوه او کورنۍ یې له جګړې څخه دمخه امن ولایتونو او بهرنیو هېوادونو ته لېږدولي وې، د شپې له خوا له سیمې څخه وتښتېدل خو هغو اوسېدونکو چې له خپلو کورنیو سره یو ځای دلته اوسېدل په دې دوو اوونیو کې و نه شوای کولای چې له سیمې څخه ووځي، ځکه دلته د خپلو بلاکونو لاندې په زېرزمینیو کې څه په امن کې وو، خو د وتلو په بڼه کې یې د ژوندي پاتې کېدلو ډېر لږ امکانات موجود وو.

نن جګګړه د تېرو ورځو پرتله سخته شوې وه، الوتکو په پرله پسې ډول بمباري کوله له هرې خوا سرې ګولۍ بادېدلې په دې ټولو سختیو کې نواب له خپلې کورنۍ سره پخپل کور کې اوسېده، ځان یې پر خدای (ج) سپارلی و.

یوې خوا ته یې د تلو نیت نه درلود او نه یې په ښار کې داسې څوک لرل چې پناه وروړي، ان تر دې چې د خپل بلاك زېرزمینۍ ته هم نه و کښته شوی، خو د نن ورځې جګړه هغه هم وارخطا کړی و، په تېره بیا کله چې یو توغندی د دوی د کور پر پخلنځي ولګېده او دوه کوټې یې سره یو کړې نو دی زیات وارخطا شو.

بې له دې چې د کور دروازه وتړي له خپلې مېرمنې او درېیو تنو اولادونو سره په بیړه زېرزمینۍ ته کښته شو. د دوی د اوسېدو بلاك د نورو بلاکونو په پرتله یو څه په امن کې و، ځکه چې د نورو بلاکونو په منځ کې واقع و، کله چې زېرزمینۍ ته ور کوز شول هلته د سر د لګېدو ځای هم نه و، ځکه د ټولې سیمې خلکو له خپلو کورنیو سره ځانونه دلته رارسولي وو.

دوی هم د خلکو په منځ کې ځانونه ځای کړل دلته ټول وږي، تږي ناست وو هیڅوك دباندي نه شوای وتلای، له هرې خوا د ماشومانو چیغې او ژړاوې اورېدل کېدې، تي خورو ماشومانو به ژړل او نورو ماشومانو به په پرله پسې ډول ډوډۍ، ډوډۍ چیغې وهلې، خو پلرونو او میندو نه شوای کولای د دوی دغه غوښتنه ترسره کړي، په دوی کې داسې ماشومان هم وو چې پلرونه یا میندې یې په جګړه کې وژل شوي یا ترې ورك شوي وو، چا له دوی سره مرسته هم نه شوای کولای، ځکه ټول وږي وو، ټولو ډوډۍ غوښته، ټول له یخنۍ څخه لرزېدل، ټول بېرستن او کمپله غوښته، د روژې د مبارکې میاشتې اتمه ورځ وه په دغو کسانو کې داسې خلك هم وو چې درې څلور ورځې یې روژه نه وه ماته کړې.
نواب د جنګ په لمبو کې خپل کور ته ننوت، څه چې یې په کور کې لرل زېرزمینۍ ته یې راوړل او پر ځینو ناستو کسانو یې ووېشل، خو کاشکې چې نه یې وای رواړي، د ډوډۍ په لیدو سره ټولو د ده پر خوا را منډې کړې او ډوډۍ یې سره خوله خوله کړه. ډوډۍ ډېرو لږو کسانو ته ورسېده، له دې سره د خلکو او په تېره د ماشومانو فریادونه لا زیات شول، هر یوه به د ډوډۍ غوښتنه کوله، خو د دوی دغې غوښتنې ته هېچا ځواب نه شوای ویلای او هېچا هم څه نه شوای ویلای.
یوازې به یې ساړه اسوېلي وکښل او له ځانه سره به یې څه وویل. د دوی دغه اوازونه یوازې د توپونو په ډزو سره بدرګه کېدل.
هغه ډېره وحشتناکه شپه وه، له هرې خوا د ډزو غږ راته، د سلواغې میاشت وه، واوره اورېدله او سوړ باد چلېده.
د توپونو او توغندیو ډارونکي او د باد لرزوونکي غږ هغې تیارې ته نوره هم وحشتناکه بڼه ورکوله، هغه شپه او تر شپې تیاره ورځ په همدې ډول تېره شوه. د ورځې هم جګړې دوام درلود، چا د ساه ایستلو توان او وخت نه درلود، کابل په تورو دودونو کې پټ و، له هرې خوا د اور سرې لمبې را پورته کېدلې او تورو دودونو د ښار

فضا نيولې وه. دويمه شپه په همدې ډول جګړه روانه وه، د توپونو او توغنديو ډزو به جګړه لا نوره هم پسې زياته کړه، د زېرزمينۍ په اوسېدونکو باندې نور د لوږې له لاسه طاقت درېدلی و، ټولو فيصله وکړه چې د سپېدو په وخت کې به له دې دوزخي سيمې څخه وځي.
دوې ټوله شپه همداسې تېره کړه، يوه هم خوب ونه کړ، ټول د رڼايۍ په هيله ناست وو،خو رڼا له کومه کېده، رڼايي خو ټولو غوښته خو رڼايي نه وه او رڼا يوازې د توغندي په ميل کې تر سترګو کېده او بس.
هلته تياره وه، لوږه وه، جګړه وه او نا اميدي، ټول هك پك ناست وو او د توغندي له هر ډز سره به په وارخطايۍ سره له خپل ځای څخه پاڅېدل او د يوه نيم له خولې خو به چيغه هم ووته.
د توغنديو او ټانکونو ګولۍ يوې او بلې خوا ته تېرېدې، د توغندي يوه ګولۍ مخامخ پر زېرزمينۍ ولګېده، تور دود جوړ شو، چيغې او فريادونه او د ماشومانو او ښځو ژړاوې راپورته شوې، هېچا هېڅوك نه ليدل، دا هم معلومه نه شوه چې د توغندي د لګېدو له امله څه پېښ شول. خو لکه چې ټول په يوه غږ وي هر يوه کوښښ کاوه چې له نورو دمخه له زېرزمينۍ څخه ځان وباسي، هـر يوه خپل کوچنيان په غېږو کې واخيستل او په نامعلومه لوري د نامعلوم برخليك پر لوري په توره شپه کې وخوځېدل، له بلاك څخه دباندې له يوه څخه د بل پته ورکه شوه، دا معلومه نه شوه چې څوك ژوندي لاړل او څوك د توغنديو خوراك شول، دلته پر سرکونو لا وينې ډنډ ولاړې وې او په هره شېبه کې به دلته راکټ لګېده خو تر ټولو د نواب بخت بيدار معلومېده، هغه يو کوچنی زوی په ملا پورې تړلی او بل يې په غېږ کې نيولی او له يخنۍ څخه په کاليو کې پټ کړی و، په بيړه روان و.
اوس نو هغه د خطر له ځای څخه راوتلی و، خو هغه بيا هم په ستړې ساه منډې وهلې او د ښار د شمال لويديځ لوري ته په حرکت کې و، نه پوهېده چې چېرته لاړ شي، دلته يې څوك خپلوان نه درلودل، د

ده د يوه كليوال كورنۍ چې په دې سيمه كې اوسېدله لا پخوا د جګړو له امله كډه كړې وه او نور يې هېڅوك نه لرل چې هلته ورشي. د سهار د لمانځه پر وخت هغه دې ځای ته چې د ښار د جګړه ځپلو سيمو نور خلك به هم دلته راتلل راورسېدل او مخامخ يوه ښوونځي ته لاړ، خو دلته د ده په شان په زرګونو مهاجرين اوسېدل، د سر د لګېدو ځای هم نه و،هغه چې ډېر ستړی شوی و او نور يې د تلو توان په ځان كې نه ليده ښوونځي ته نژدې يوه جومات ته لاړ.

هلته هم همدا حال و، خو جومات لوی و او د خلكو هم پرې زړه وسوځېده، ده له خپلې كورنۍ سره هلته واړول، په سترګو كې يې د خوښۍ او بري نښې برېښېدې، خپل يو كوچنی يې پر مځكه كښېښود او بل يې له اوږو ښځه چې په ټادر كې يې تړلې و را خلاص كړ، ټادر يې پرانيست چې خپل زوی ته له جګړې ښځه د خلاصون او امن ځای ته د رارسېدو زېری وركړي او د هغه په ليدو سره خپل مات زړه ته تسل وركړي، خو د ټادر په پرانيستو سره د هغه له خولې چيغه ووتله مېرمنې يې هم چيغې كړي.

_اه څه وشول لكه چې مخ مې تور شو، زوی مې مړ شوی . . .

_نه كاشكې مړ وای!

_څه؟ كاشكې مړ وای؟

مېرمنې يې چې كوچني ته وكتل په چيغو او نارو يې پيل وكړ،كله يې چې له دا بل كوچني ښځه پټو ليرې كړ، بيا هم همداسې انګولا جوړه شوه .خلك پرې ور ټول شول، هغوی دوی دواړو ته حيران حيران كتل، ماشومانو چې د دوی ژړا وليده هغوی هم په ژړا پيل وكړ.

نواب خپلې مېرمنې ته مخ واړاوه:

_نو زموږ اولادونه به چېرې وي؟ اه خدايه دوه زامن دواړه ورك، نو دا پردي ماشومان به څه كوو، د دوی پلرونه به چېرې وي؟

اه خدایه اه خدایه.
پکتیا زرمت

## د ډوډۍ په لټه

په ژورو چورتونو کې ډوبه وه، سترګې یې لوېدلې وې، لکه چې ټوله شپه یې په ویښه تېره کړې وه.
شمعې ته یې وکتل نژدې په تمامېدو وه، له خپله ځایه را ولاړه شوه، د مشر زوی سر ته ودرېده، شونډې یې ورپېدې. خدایزده څه یې وویل بیا یې د خپل کوچني زوی له مخ څخه برستن پورته کړه، پر مخ یې ښکل کړ، سوکه یې له ځان سره وویل:
_اه خدایه! ته ښه پوهېږې په ټوله ورځ کې یوه خاشه (ټوټه) ډوډۍ، خدایه څه وکم، چا ته ورشم خپلوانو ما ته سترګې نیولي دي.
له خواشینۍ یې سترګې راډکې شوې، ښه ځنډ یې وژړل، په ژړا کې یې له واره چیغه کړه:
_نه، نه، نه شم کولی، خدای دې مرګ راکړي نه، نه.
اوښکې یې پاکې کړې بیا د خپلو سوچونو دنیا ته ستنه شوه، تېر وختونه وریاد شول، هغه چې ښکلې ځواني یې لرله او ټولې سترګې به د دې پر لوري کږې وې، له دې سره د روزي خان لېونۍ مینه او بیا له هغه سره د ګډ ژوند خوږې شپې.
روزي خان یې سترګو ته جګ ودرېد، داسې ورته ښکاره شوه چې هغه ورته نارې وهي.
_هیلو وه هیلو، ما مه هېروه پر عبدالله او بسم الله پام کوه چې درنه وږي نه شي.
هیلۍ په ویښه خوب لید، له ځایه را ولاړه شوه، شمعې ته چې وروستۍ لمبې یې کولې ودرېده.
_تم ژاړې، ته څه غم لرې، تر ما خوښه یې، اوښکې تویې کړې، بیا مړه شې. . .
خپل غږ یې پسې لوړ کړ:
_ما ته راشه چې ویلې کېږم، مړه کېږم نه.

بیا یې ورو له ځانه سره وویل:
_وی زه خوم چوره لېونی یم، زامن به راویښ کړم، بیا به ډوډۍ غواړي.
پر خپل ځای کښېناستله. د اولادونو لوږه وریاده شوه، په سوچونو کې ډوبه شوه، په خپله هم وږې وه، زړه یې سولېده، پورته په تاخچه کې یوه ټوټه ډوډۍ یې را واخیستله، نیمه یې کړه خو بیا یې په زړه کې څه ور وګرځېدل، ډوډۍ یې بېرته پر خپل ځای کښېښوده. دا یوه ټوټه ډوډۍ یې بېګا له خپلو زامنو څخه سپمولې وه، نور نه په کور کې ډوډۍ وه، نه پیسې.
د کور د کالیو ډېره برخه یې لا پخوا خرڅه کړې وه، پخپله لوږه نه وه، د اولادونو لوږې یې زړه خوړ، له ځانه سره یې وویل:
_څه وکم، چېرې لاړه شم؟ څوک به مې غم وخوري، هدیرې ته ځم تر ژوندو مړه ښه دي، ژوندي پر چا زړه سوی نه لري خو مړه خپل هډوکي ورکوي، ټول خلك دا کارونه کوي، خرڅ به یې کم، ډوډۍ به پې واخلم.
عبدالله او بسم الله یې له خوبه را ویښ کړل، عبدالله ډوډۍ غوښته مور یې هغه یوه ټوټه ډوډۍ د دوی تر منځ وویشله خو عبدالله ډوډۍ ایسته غورځاره کړه او په ژړا یې پیل وکړ، هیلۍ یوه کلکه ځپېړه پر مخ ورکړه:
_خدای مې دې درچې) څخه) خلاصه کړي، لېونی دې کړم.
عبدالله پرمخې پربووت ژړا یې نوره هم پسې زیاته شوه، مور یې بېرته په غېږ کې ونیو، دې هم ورسره ژړل په ژړا کې یې ورته وویل:
_مه ژاړه در جار مې کړې، اوس خو ډېره ډوډۍ به راوړم.
هیلۍ په هدیره کې پوه شوه چې شپې پسې اخیستې وه، سپیده داغ ته لا وخت پاتې و، ګښنۍ واخیسته، ټول وجود یې له ډاره لرزېده خپل ځان یې ملامت کړ چې ولې په توره شپه کې دلته راغله.
یو نیم کال دمخه هغه ورځ وریاده شوه چې خلکو د روزي خان

جنازه دغې هدیرې ته راوړه او دا په وچ زور تر هدیرې ورسره راغله او د دېواله څنګ ته یې له خپلو زامنو سره ژړل.
د غو سوچونو یې وېره له یاده وایسته، دواړه زامن یې په څادر کې پټ کړل او دا په کار لګیا شوه، سره له دې چې تیاره وه خو په قبرونو کې د هډوکو ټولول دومره ګران کار نه و، ډېر قبرونه دمخه سپړل شوي وو.
هیلۍ په تلوار کله یوه او کله بل قبر ته تله او په وړه پلاستیکي بوجۍ کې یې هډوکي اچول یو وخت یې پام شو چې له خپلو زامنو څخه لیرې شوې ده، په منډه خپل ځای ته راغله عبدالله او بسم الله ویده وو، هیلۍ بیرته په کار لګیا شوه.
د تیارې لمن په ټولېدو وه او د سهار رڼایي خورېدله هیلۍ سره له دې چې په تیاره کې وېرېدله خو د سهار رڼا ته هم دومره خوشحاله نه وه هغې ته دا رڼا د کفن په څېر سپینه معلومېدله، اوس نو بوجۍ ډکه شوې وه، دواړه زامن یې له خوبه ویښ کړل. بسم الله ورته وویل:
_ببۍ تا خو ویل ډوډۍ به اخلو.
_دا ده اوس خو دومره ډوډۍ به درته واخلم چې ته ووایې بس.
بوجۍ یې پر اوږو کښېښودله، هیلۍ په دې خوشحاله وه چې چا په هدیره کې نه وه لیدلې، د هډوکو بوجۍ یې په اوږو دروندوالی کاوه، بوجۍ بل ډول ورته ښکارېده کټ مټ داسې لکه چې د روزي خان جنازه پر اوږو وړي، نن ځان بېخي بل ډول ورته ښکارېده، په غوږونو کې یې ډول ډول غږونو انګازې کولې.
چېګرې یې وړې، هی هی دومره ژر دې هېر کړم.
هغه دي یو یې وړل، لوږې پسې اخیستې ده، زما هډوکي وړي، زما هډوکي خوري.
هی هی ژوندي وګوره، حرص لېوني کړي دي، نور به لاڅه کوي.
مړه هم درڅخه په ارام پاتې نه شول.
ځان وخوری، دلته مو هم نه پرېږدئ، پر ځان یې هم د انسان نوم

ایښی. . . .
هیلۍ فکر کاوه چې دا غړونه به د دې په څېر ټول اوري، دې ته هکه پکه وه چې ښار ولې چوپ دی، ولې ځواب نه وايي.
سره له دې چې اوس یو څه رڼايي وه خو هیلۍ سختې وېرې اخیستې وه پښې يې پسې درنې وې، شا ته يې نه کتل، په ګډو وډو سوچونو کې لوی واټ ته ورسېده له څه مزل وروسته يې لویه شین رنګې دروزاه وټکوله دغه پته يوه اوونۍ دمخه نګارې ورکړې وه او ورته ویلي يې وو، چې هغه د هډوکو لوی دلال دی هډوکي په ښه بیه اخلي.
یوه پنډه سړي چې کونډۍ ږیره يې لرله، سپېنې جامې يې په تن کې وې او له حالته يې معلومېده چې د دروازې ټك ټك له خواږه خوبه پاڅولی، په ډېر کاوړ سره دروازه بېرته کړه، خو د ځوانې ښځې په لیدو يې پر پربېړو شونډو موسکا خوره شوه داسې يې وښوده چې له ډېر پخوا يې پېژني:
_اوهو ته له کومه، په خیر راغلې خدای دې راوله.
هیلۍ خپل ټیکری په سر سم کړ، یوه څنګ ته ودرېده. ویې ویل:
_په دې بوجۍ کې مې هډوکي راوړي دي. . . .
_راځه راځه دننه راځه.
_ته مې زامن وینې چې وږي دي، ډوډۍ غواړي هډوکي من په څو اخلۍ؟
د هیلۍ له تروې ټنډې یوه شو چې په رضا نه ورسره ځي، بله لومه يې ورته کېنېښوده.
_هډوکي؟ خبره داسې ده چې هډوکي بېخې ډېر شوي، ټول ګودامونه له هډوکو ډك دي، پاکستان کې يې هم نرخ ټیټ شوی دی، خلکو ته دې خدای انصاف ورکړي، چې یوه شي ته يې پام شي ټول منډې پسې وهي.
هیلۍ سوکه وویل:
_نو نه يې اخلې.

0787899692 0776484320

_اخلم يې، خو په يوه شرط. . . .
د هيلۍ د ټيکري پېڅه يې ونيوله، خبره يې داسې بشپړه کړه:
_چې ته هم کور ته راسره لاړه شې، څنګه خوښه دې ده؟
دا خبرې نه وې د ټوپک ټك و، د هيلۍ په سترګو توره شپه شوه، سر پرې وګرځېده د خپلو زامنو سپېرو مخونو ته يې وکتل، ستونی يې راډك شو ټيکری يې له سره اوږو ته وښويېده، ټوله سره پوړېده سترګې يې رډې راوختې، د هډوکو په بوجۍ ورټيټه شوه دوه غټ هډوکي يې راواخيستل پنډ سړی يې پر مخ پرې وويشت. سړي غبرګ لاسونه سرته نيولي وو خلك پرې راټول شول، د خلکو په ګڼه ګوڼه کې د هډوکو د دلال غږ اوربېدل کېده:
_مه يې کوئ غريبه لېونۍ ده، لېونۍ ده.

کابل ښارندوی مېنه

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

## مینه او وسواس

نور مې له ژونده زړه تور شوی و، ښايي هسې د عادت له مخې سهار له کوره وتم او ماښام بيرته راتلم، د هيلو ټولې دروازې مې مخې ته تړلې ليدې.
د هغې مغروره ښکلا د اسارت کړۍ راته ګرځېدلې وه، د ښکلو بادامي سترګو انځور مې يې په هر څه کې ليده.
زموږ د اداري زلمو خپلې خولې د هغې د نوم په اخيستلو خوږولې، د پېغلو خو به پرې کينه راته او په هغې يې دومره ښکلا نه لورېده، داسې څرګندېده چې له ما سره دا دواړه احساسه ملګرې وو، د هغې نوم مې د خاطرو د کتابچې د هرې پاڼې ښکلا وه، زړه مې نه ترې صبرېده، دا تېر دوه کلونه خو مې هر څه وکړل، خو دې يو ځل هم په هغو سترګو راته ونه کتل په کومو چې ما ورته کتل، کله کله به مې ځان ملامتاوو، ښايي زما په کتو کې به داسې څه و، چې هغې سم نه راته کتل دا څه ډول ښکلا وه، کاشکې دومره ښکلې نه وای، کاشکې دا پوزه خو يې لږ ټيټه وای، دومره غټې سترګې، که يوه يې ړنده وای يا په يوه کې يې ګل وای څومره به ښه و، که جګه نرۍ پوزه يې لږ هم پلنه وای نو نرۍ جګه ونه به يې لږ بدرنګه کړې وای اوس به يې ناز هم لږ و، که لږ له ونې ټيټه وای څه به شوي و، او خدايه! که دا زنه يې لږ نوره اوږده شوې وای، يوازې يوه سانتۍ اوږده وای نور يې په ښکلا کې يو وټ پيدا کېده، عجيبه ده که بله نجلۍ د دې غوندې په صورت خواره وای، ولاکه يې چا اننګو ته کتلي هم وای، خو د دې سرو اننګو يې ښکلا لس چنده کړې ده، د نورو چې شونډې يو څه غټې وي، څومره بدې ښکاري د دې شونډې خو لا اور لګوي، دا اننګي او شونډې يې ولې داسې سره او ښکلې دي، دا به د دې پوډرو او رنګونو کار وي، نه نه وايې په دنيا کې کوم شی چې د دې ترې ورټ کېږي هغه پوډر دي، نو بيا؟ بس زما د ځورولو لپاره دومره ښکلې شوې ده، که له دې لوړې ونې سره يې زلفې لږ لنډې وای، بيا به هم ښکلې نه وه، کاشکې څوك ورته ووايې

چې ظالمې دا زلفې خو لړ لنډې کړه، دا لنډۍ به مې خولې ته راغله.

خدایه! د مور یې ورته پام کړې
چې په لنډۍ زنه یې ووهې خالونه

یا خدایه! د چا ورته پام کړې چې ورته ووایې، دا زلفې خو دې لړ لنډې کړه شا و خوا دې ګوره بله نجلۍ هم ستا غوندې اوږدې زلفې لري؟ خلك به څه وایې چې دا د چا لور ده؟ د چا لمسۍ ده؟ د چا وریره ده؟ دا د اوږدو زلفو واله شوخه نجلۍ د کومې کورنۍ ده؟ که ډېرې دربانديې ګراني وي لړ خو یې لنډې کړه، هیڅوك پیدا نه شول چې ورته ووایې ښایې زما غوندي به یې خوند هم ترې اخیست، او زما غوندي به د نورو هم دا لنډۍ د زړه په تخته لیکلې وه چې:

مسافر تلې در جګګه نه شوم
تر پښګو مې لاندي شول د زلفو تنابونه

ښایې دا لنډۍ هم د دې لپاره ویل شوې وي، نه پوهیږم دا نو څه ښکلا ده چې د سړي لاس ور ونه رسیږي باید ښکلا یې ونه بولو، نور پخپله مینه شکمن وم، نه پوهېدم، دا نو اوس مینه ده که کینه؟ کله کله به مې له ځان سره ویل، که په ښکلا کې یې لږ "خو" پیدا شي بس نو زه به یوکامل مین شم، اوکه همدومره ښکلې او مغروره وي بیا یې نو زما پرې څه هغسې خو په اسمان کې سپوږمۍ هم شته، زه پخپله دې هیله کي هم صادق نه وم.

یوه ورځ دفتر ته نه وه راغلې چا ویل چې سترګې یې خوږېږي، په هغه ورځ مې له ډېره غمه د هغې سترګو ته څلور شعرونه ولیکل، په چا مې خطاطي کړل، چې ور یې کړم، خو تر اوسه مې هم لاندي ورکړي، زه د خپلې مینې او ورسره دومره کینې په اصلې علت نه پوهېدم خو ښایې د نورو لاملونو تر څنګ یو د دې کبر هم وي، پلوشه دومره کبرجنه وه چې خبرې خو څه سم یې راته کتل هم نه.

یوه ورځ مې ټینګ هوډ وکړ، توکل په خدای چې هر څه کېږي نن د زړه ټولې خبرې ورته کوم، له دې تل وسواسه خو به خلاص شم، بیا

که هـر څه پېښ شول وي به.
د پوهنتون د شپې د درسونو د پيل لومړۍ ورځ وه، د رخصتي په وخت کي د دوی د لين د مامورينو موټر ته پورته شوم، شاته کښېناستم او تر سترګو لاندي مي دا څارله، پلوشه د ښار په منځ کي له موټره پلې شوه، په ښار کي مي ځو ځله کوښښ وکړه چې ترې دمخه شم سترګو ته يې ښه ډېر وګورم او بيا ټولې خبرې ورته وکړم، خو ورته نژدې به شوم بيرته به شاته شوم، ښايې دا به زما نېکمرغي وه، کومې خواته چې زما د تللو نيت درلود دا هم په هغه لوري روانه وه، د پوهنتون په موټر کي کښېناستله، د زړه درزا مي زياته شوه، دا هم لکه چې پوهنتون ته ځي، نه نه دومره نيکمرغه هم نه يم هغې خواته به يې څه کار وي، که هر ځای پلې شوه هغلته به ټولې خبرې ورته وکړم، د زړه غوټه به ورته خلاصه کړم، هر څه چې راپېښ شول، که يې راپوري وخندل بيا؟ په زړه کي مي د خپلې پوښتنې ځواب جوړ کړ د ځان وژلو مخه خو مي څوك نه نيسي.
زما ګومان په رښتيا بدل شو پلوشه د پوهنتون مخې ته له موټر څخه پلې شوه، ما لا تر هغې ګړۍ د دې په لاس کي کتابونه نه و ليدلي، حتماً دا هم په پوهنتون کي زدکړه کوي، زما دا لومړی کال و، دا به په کوم پوهنځي او کوم ټولګي کي وي؟ اوس نو دا وسواس راسره وه چې دا به په کوم پوهنځي کي وي، خو بيا هم په دې خوشحاله وم، چې په پوهنتون کي يې هره ورځ ليدای شم، نېکمرغي چې چاته مخه کړي بيا نو ټولي خوښۍ په يوه ورځ ورځي، هغه روانه وه او مخامخ د ادبياتو پوهنځي ته تله، دوهم پوړ ته پورته شوه، د مهال وېش تختې ته ودرېدله، زه څومره نېکمرغه يم، دا هم زموږ په پوهنځي کي ده، د نه منلو وړ خبره ده موږ دواړه په يوه پوهنځي کي زدکړه کوو، زه په همدې چرتونو کي وم چې پلوشه د محصلينو په منځ کي را نه ورکه شوه، سترګي مې هرې خواته پسي سترې وې هو ومې نه ليدله.
د درسي ساعت د پيل زنګ ووهل شو، محصلين درسي ټولګيو ته

ولاړل، خو ما دا لټوله، اخير زړه نا زړه خپل ټولګي ته ننوتم، له ډېري خوشحالۍ مي نژدې له خولې چېغه وتلې وه، پلوشه زموږ د ټولګي په لومړي کتار کي ناسته وه، زما په حالت يوه شوه په تروه تنده يې راته وکتل.

آه زه څومره نېکمرغه يم.

درسونه پيل شول او ورسره زموږ سيالي هم شروع شوې هر چا هڅه کوله چې په ازموينو کي نومرې واخلې او د ټولګي اول نومره شي، ما خو د پلوشې لپاره هم ډېرکوښښ کاوو اوس مي نو کولای شول چې هره ورځ له هغې سره ووينم او خبرې ورسره وکړم، خو د زړه خبره مي لا هسې په زړه پاتې وه.

يوه ورځ يې د رخصتي په وخت کي راته وويل:

_نن مي ستا د نوټ کتابچه په کار ده، رايې کړه سبا به يې بيرته راوړم.

نه پوهېږم ولي مي ورته وويل:

_نه

_تا خو ټول نوټونه اخيستي دي.

_نوټونه مي اخيستي دي خو ستا لپاره نه.

په حيراني يې وپوښتل:

_ولي زما لپاره نه؟

_هغسې چې ستا سترګي زما لپاره نه دي.

ښايې د داسي لنډ او نا سنجول شوي ځواب تمه يې نه لرله، حيران حيران يې راته وکتل، څه يې ونه ويل رانه روانه شوه، خو زه پخپل دې ځواب کي پښېمانه نه شوم، لکه چې د کلونو ارمان مي پوره شوی وي، د هغې له حيران حيران او په عين حال کي مظلومانه کتو مي ځانګړی خوند واخيست.

اوس چې مي د هيلو له سلو ګلانو څخه يوازي يو ګل غوړېدلی و، ځان مي کامياب باله، ما داسي احساسول چې اوس نو هغه ضرورت راته لري، نو پرېږده چې د بدرۍ جمالي ښاپېرۍ غوندې يې اوه

ګامه اخیستلو ته مجبوره کړم، د لومړي سمستر په ازموینو کي د ټولګي اول نومره شوم، ښایي له همدې کبله د هغې پاملرنه ماته زیاته شوې وي، د پلوشي یوازینۍ هیله دا وه چې په ازموینو کي کامیابه شي، او زه په درسونو کي ورسره مرسته وکړم.
وايي سیف الملوك چې بدرۍ جمال د ډېرو کړاوونو له ګاللو وروسته د ځان کړه، د کسات لپاره یې ورته وویل: چې اوس به اوه ګامه پلی تګ کوې، بدرۍ جماله چې په ټول ژوند کي یې پښه په ځمکه نه وه ایښې، دغې سزا په غوسه کړه په هر ګام کي یې له پښو وینې څڅېدلې اوس پوهېږم چې سیف الملوك به څومره خوند ترې اخیستی وي.
خو ما چې د سیف الملوك غوندي په دې پسې اوه جوړې د اوسپنو کپۍ نه وې زړې کړي، د هغه غوندي زړه ور هم نه وم، په لومړي ګام کي د دې د نازکو پښو له وینو سره زما له نازك زړه څخه هم وینې جارې شوې.
په هغه ورځ مي چې د نوټ له ورکولو څخه ډډه کړې وه، او دې په رڼو سترګو حیران حیران راته کتلي و، هغه شپه ما هسي یوه غوسه وبلله چې کسات مي ترې اخیستی وي، خو بیا خوبونو د هغې پټې اوښکي یوه یوه دانه راته وښودلې، او هره اوښکه یې د بدرۍ جمالې د هر قدم په اندازه راته ښکاره شوه:
_اه څومره به ځورېدلې وي.
ځان یو ګناهکار راته ښکاره شو.
اوس نو د خپلې دغې غلطۍ د جبرانولو په لټه کي شوم.
له پلوشي سره مي په درسونو کي تل مرسته کوله، نه یوازي خپل نوټونه مي هغې ته ورکړل، ډېر ځله به مي د هغې کتابچه کور ته راوړله او سهار به مي لیکلې بیرته ورکوله. په ازموینو کي به ماته نژدې کښېناستله، ما خپله کامیابي د پلوشي په کامیابي کي لیدله.
زه پوهېدم چې د نورو محصلینو په موږ څومره کینه راځي خو موږ دواړو د هیچا پروا نه کوله.

ښې شپې ورځې ژر تېرېږي، په څو ورځو کې حالات بدل شول، د جګړو لمبې زموږ تر پوهنتون پورې هم راورسېدې او زموږ مینې او خوښۍ پکې وسوځېدې موږ بیا پوهنتون ته نه ولاړو، ځوك چې ورغلي و بیرته رانه غلل.
د جګړې په دوړو کې مې پلوشه ورکه کړه، کور مې یې لیدلی و، خو هغه سیمه هم د پوهنتون په څېر یوه بله پاچاهي وه.
یوه ورځ چې اوربند وشو ورغلم، دوه پوړیز کور یې د خاورو او خښتو په یوه ډېران بدل شوی و، په هغه ډېران کې مې د خپلو هیلو هدیره ولیده نه پوهېږم څومره وخت به هلته درېدلی یم، یو وخت مې چا په مټ لاس کېښود، چې مخ مې ور واړاوو، یو ځوان و چې خړ پکول یې د سر په یوه خوا ایښې و، په کیڼ لاس کې یې مخابره نیولې وه، ما د پوښتنې په نښه سر ورته وخوځاوو، وسله وال له ما سره د خبرو پر ځای په مخابره کې په خبرو بوخت شو.
_الو الو تمام، الفتح، تمام، الفتح که دې اوریدلي وي اطمینان.
د مخابرې له بغس سره اواز راغی:
_الفتح، تمام اورم اورم.
وسله وال داسې په بېړه او سترې ساه خبرې کولې تا به ویل چې په منډو دی.
_الو الو د خوشال مېنې د کورونو کنډوالو ته دښمن داخل شوی دی، دښمن دښمن که دې اوریدلې وي اطمینان.
د مخابرې بغس بیا لوړ شو، ما د مقابل لورې خبرې وانهورېدې، خو وسله وال بیا وویل:
_هو هو موږ ته هم راپورونه را رسېدلې دي د میثاق خون له خوا ټولو ته ووایه چې د محاصرې کړۍ تنګه کړي.
وسله وال ماته وکتل، زه هماغسې هك پك ولاړ وم کله به مې د پلوشې د کور په ځای ډېران او کله وسله وال ته کتل، ورټ مې ترې وشو، په زړه کې مې وویل:
_همده دا کور وران کړی دی.

زړه مي و د پلوشې د کور خښته راواخلم وسله وال پرې وولم او د پلوشي د کور د ورانېدو غچ ترې واخلم، مخې ته پرته یوه پخه خښته مي په نښه کړه، بس چې پام یې بله خوا شي په خښته یې ولم، وسله وال مې تر سترګو لاندي څاره، هغه په داسی حال کې چې ماته یې کتل په مخابره کي ګډ و:

. . . _هو، بس یو دېوال هم لوړ مه پرېږدئ، دښمن د همدغو دېوالو شاته پټېږي.

شك مي په یقین بدل شو، ده دا کور وران کړی دی د خښتې خواته سوکه سوکه نژدې شوم، یو ځل بیا مي وسله وال او بیا ډېران ته وکتل، دوه پوړیز ښکلی کور، د کور مخې ته اوه بې مېوې ونې ولاړې وې، ماشومانو ترې لاندې لوبې کولې، د کور په انګړ کې له دروازې تر کوټو پورې له لرګیو څخه جوړ شوي دا نګور سیوري د کور ښکلا دوه برابره کړې وه.

وسله وال ته مي وکتل، هغه دومره په مخابره کي په خبرو بوخت و چې زه یې هېر کړی وم.

په هغه ورځ هم ده په مخابره کي داسې خبرې کولې، د پلوشې د کور مخې ته ودرېده، دوو تنو نورو وسله والو د پلوشې د پلار موټر له ګاراج څخه را ویوست نور وسله وال کورته ننوتل په یوه شېبه کي له کوره د ښځو چېغې او ژړاوې راپورته شوې د دغه وسله وال پر اوږو په هغه ورځ توغندی و، همداسې د کوڅې له خولې یې یو کور په توغندی وویشت، له کور نه سرې لمبې جګګې شوې، ټوله کوڅه تورو دودونو ونیوله، ټوپکوال یوې بلې خواته منډې کړې.

هو هو همدغه ټوپکوال و، دغه و، دا د ولاړو دېوالونو دښمن همدغه دی، په سترګو مې توره شپه شوه.

د چا غږ په هوښ کړم، یو ټوپکوال بل ته ویل:

_دا د فلسطین سر تیری څوك دی، چې دلته ولاړ دی؟

بل ټوپکوال ورته وویل:

_لیونی به وي.

یو یې را نژدې شو:
_ای! دلته څه کوي؟ چې نېغ ولاړ یې لکه. . .
ما یوازې وویل:
_ام.
دواړو سره وخندل.
_لیونی دی.
_هسې نه چې د دښمن جاسوس وي.
یوه بل وویل:
_نه نه، وګوره ږیره یې نوې رسېدلې ده، چېرې به مامور مامور څه شی و، اوس به لیونی شوی وي.
یوه بل وخندل.
_هو دغه خلک په کابل داسې خپه کېږي لکه چې د پلار کور یې وي.
زه هماغسې هك پك ولاړ وم، یو بل چې تر اوسه غلی ولاړ و رانژدې شو ویې ویل:
_موږ دلته یوه چمبه جنګ لرو، له دې ځایه ولاړ شه، هسې نه چې خون دې راله غاړې شي.
کابل مې د دوی یوې چمبې جنګ ته پرېښود، ما هم کډه ترې بار کړه، لکه چې ټول کابل پېښور ته راکوچېدلی وي ټول دلته و، خپلوان دوستان، د دفتر ملګري د پوهنتون هم ټولګیان، خو د خپلې نیمګړې مینې وسواس دلته هم را سره ملګری و، اوس مې نو د هغې د کور ډېران د خوبونو ملګری و، خو په خوبونو کې هغسې نه وه، لکه ما چې لیدلی و، یوه غونډۍ وه چې پر سر یې لویه هدیره جوړه وه، د زیارت تر څنګ به د قران شریف سیورې ته پلوشه ناسته وه چې ور نږدې به شوم رانه ورکه به شوه، ستورې به شوه او اسمان ته به پورته شوه.
د شپې به خوبونو کابل ته بېولم او د هغې غونډۍ په سر هدېرې ته به ورتلم او د ورځې د چرسو نشې په خیال کې د هغې هدیرې ملنګ

کړی وم.
که مې زموږ د دفتر امر حکیم خان نه وای لیدلی، ښایي زه هم د چرسو په نشو کې د خلکو د خندا شوی وای او د سوال لاس مې چاته اوږد کړی وای، د حکیم خان ټوله کورنۍ په شیږ شاه مېنه کې تبا شوې وه، یوازې دی او یو ځوان زوی یې چې دواړه پښې یې غوڅې وې، پېښور ته رارسیدلي و، خو حکیم خان ځان نه و بایللي زوی یې جواری الوی کول او بیا به یې خرڅول ده پخپله کېلې خرڅولې، اوس یې بل واده کړی و، او په کچه ګړۍ کې یې بل کور ودان کړی و.
حکیم خان ماته هم جرئت راکړ، د همده په مرسته مې یوه کراچۍ پیدا کړه او په بورد کې به مې مالټګې خرڅولې.
په هغه ورځ هم پولیسانو پسې واخیستلم، د بورد له بازاره راووتم او خپله د مالټو کراچۍ مې د ګنده نالۍ تر څنګ ودروله هسې مې هم هر مازدیګر د خپلې ورځنۍ ګټې یوه برخه مهاجرو سوالګرو ته بېلول، او مازدیګر مازدیګر به مې سوالګرو ته په پټه خوله یوه، دوه روپۍ تر پنځو او لسو پورې ورکولې خو هغې د ژیړې زړې چادرې والې جګې ښځې ته مې چې دوه روپۍ ورکړې او رانه روانه شوه، بیرته مې غږ پسې وکړ.
هغه ځای په ځای ودرېدله، ورته ومې ویل:
_که ماتې پیسې لرې نو دا سلګون واخله پنځوس بیرته ماته راکړه.
ما هسې خبرې اوږدولې.
_ولې سوال کوې څوك نه لرې چې کار وکړي؟
په ډك ستونې یې ځواب راکړ:
_څوك د چا له حاله خبر دي، په کابل کې مو ټول کور تبا شو یوازې زه او ناروغ پلار مې پاتې یو، چې هغه هم په بستره کې پروت دی، زه. . . زه. . . له. . .
هغې نور څه ونه ویل، یایې نه شوای ویلای، خو زه پخپله دې بې واره پوښتنې چې معمولاً هر بدای یې له سوالګرو کوي، او د دې

پوښتنې تر شا يې ډېر څه پټ کړي وي، پښېمانه شوم، اته کاله دمخه د پوهنتون لومړۍ شپې ورځې را يادې شوې هغه ورځ چې پلوشې ته مې د نوټ کتابچه ور نه کړه، بيا مې چې د شپې د هغې اوښکې په خوب وليدلې، زما حالت بل شان شو، کټ مټ د هغې شپې په څېر چې په هغه ځورونکي خوب را ويښ شوم ما هم څه نه شواى ويلاى، عملاً مې خبرې نه شواى کولاى، په زړه کې مې خبرې جوړې کړې وې خو لکه چې په ستونې کې د راوتو لاره نه وه.

دا پلوشه ده؟ خبرې او لوړه ونه خو يې د هغې دي.
نو بيا يې ولې زه ونه پېژندم؟ ايا زه دومره بدل شوى يم چې اوس مې خپله مينه هم نه پېژني؟
پخپله اوږده سپينه او توره ږيره مې لاس را تېر کړ، له واره مې ترې وپوښتل:
محمدولي پېژنې؟
_هو، هو ولې چېرې دى تا ليدلى دى؟
ښځه دومره هيجاني شوه لکه چې ډېر قيمت لرونکى غمى يې په لاره کې پيدا کړى وي، او نا څاپه د سيند په اوبو کې ترې لويدلى وي.
ښځې بيا بيا پوښتنې کولې ما په ارامه وويل:
_هو پېژنم يې.
سلګون يې په مالتو برسيره واچاوو په همغه نا کراري يې وويل:
_که ولې چا راسره مخامخ کړ د سر. . .
ښايې ويل به يې چې که ولې چا راسره مخامخ کړ، د سر ټيکرى په زېري کې ورکوم.
خو ښايې خپل ځان او خپلې څيرې څيرې زړې چادرې ته يې پام شوى وي او يا يې هغه ورځې وريادې شوې وې چې له کابله سر توره راووتله.
چوپ شوه، ښايې پخپل ذهن کې په مناسبه خبره پسې ګرځېده، ښايې کوم بل نذر يې مانه، داسې نذر چې وس کې يې پوره وي.

خو ما له واره وويل:
_زه. . . زه. . . محمد ولي يم.
پلوشې چادرې واړوله، سر تر پايه يې راته وکتل لکه چې باور يې نه راته چې دا سپين ږيري دې هغه خوشحاله محمد ولي وي، چې د دې د خپلولو لپاره يې داوسپنو څپلۍ په پښو کړې وې يوازي يې وويل:
_اوه. . .
_اه. . . د هغې مړ ژوانده څېره څومره له غمونو ډکه وه اوه خدايه دا ولي؟ دا چا؟ خپل ځان ته مي غوسه راغلله اته نهه کاله دمخه شپې ورځې را يادې شوې، ما هغه وخت څه غوښتل کټ مټ هماغسې راته ښکاره شوه، غونډه منډه زنه يې هما غومره اوږده راته وبرېښنده، چې ما غوښتل،خدايه! ولي نه پوهېدم ولي مي دومره کينه کوله، په اننګو کې يې هغه پخوانۍ سرخي ورکه شوې وه، غټې غټې تورې سترګې يې ړندې شوې نه وې، خو داسې ښکارېدې لکه چې ړندې سترګې د درملو په زور بيرته بينا شوې وي، جګه نرۍ پوزه يې لکه څنګه چې ما غوښتل پلنه شوې نه وه،خو نوره هم پسې جګه شوې وه، او د دې ښکلي او موزنه څېره يې نا موزونه او بدرنګه کړې وه، خدايه ما څومره ګناه کړې ده، پخپله بې ځايه کينه وشرمېدم، لکه چې ما دې حال ته رسولې وي، پلوشې په ځير ځير راته کتل د کتلو مانا يې دا وه.
_اوس خو به دې ښه زړه يخ شوی وي، تا په دې حالت غوښتم کنه څنګه اوس خو به خوشحاله يې؟
زه پخپل بې ځايه کبر او کينه پښېمانه وم، رښتيا ژوند موږ دی انسان پخپله نيکمرغي نه پوهېږي ډېر ځله پخپلو غوښتنو پښېمانه وي، زه هم پخپلو غوښتنو پښېمانه وم، زما په غوښتنو کې مينه او کينه دواړه نغښتي و، خو په مينه کي وسواس مې د کينې پله درنه کړې وه، او اوس پخپله کينه پښېمانه وم، خدايه دا مي څه کړي دي.
زما بدرۍ جماله له کابله تر پېښوره په لوڅو پښو راغلې وه او دلته . . .او ه خدايه!

0787899692 0776484320

کابل خارندوی مېنه

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

## د شپې نوم

ما هم خپلې نامينځلې ځنې غوړې کړې او له نورو انديوالانو سره د ډاډسن موټر په سورلي د کابل پر لوري روان شوو، زموږ د کلي د عُشر پخواني امر جمرود چې موږ ټولو به امر صاحب باله، لا يوه مياشت دمخه د چا په خوله احوال رالېږلی و چې يو ځل يې ليدلو ته ورشو، خو دا څو ورځې هلته جګړې وې، معلومه ده چې جمرود هم ښه پکې بوخت و، موږ هم ډېره تلوسه لرله چې لاړ شو هم هغه ووينو او هم ځينې نور حکومتي چارواکي.

ځکه زموږ په منځ کې‌ګ هم لانجې وې، لونګ او غلام د ولايت پر سر دعوه لرله، د لونګ سړو د ولايت ودانۍ نيولې وه او د غلام وسلوالو بيا فرقه نيولې وه، جمعه الدين لا په ټولو کې‌ګ ښه و، چې په امنيه قونانداني يې ځان قانع کړی و.

د لونګ او غلام د وسلوالو کسانو تر منځ جګړه ونښته څو ورځې يې يو بل ته مورچلونه نيولي وو او د يو بل سړي يې يرغمل نيولي وو، هر يوه غوښتل چې والي شي، خو اخر زموږ د کليوال نياز محمد په خبره "ژاولې چخونيا شوې نه د تا شوې نه د ما شوې" يعنې سرور له پاسه مکتوب راوړ او ځان يې والي وټاکه. خو لا تر اوسه د لونګ وسلوالو هغه ولايت ته نه و ورپرېښی.

په لاره کې‌ګ مو ښه تود مجلس جوړ کړی و، ځانونه مو داسې ښودل چې پخپلو منځو کې‌ګ هېڅ اختلاف نه سره لرو، يوه وويل:

_ياره که جمرود اوس ووينې ولاکه يې و پېژنې، پهو داسې مزې شوي چې خبرې يې مه کوه، برګه دريشي يې اغوستې وي، ځمکې ته لا سم نه ګوري.

لاهوري ورغږ کړ:

_هسې نه چې اوس موږ ونه پېژني.

روح الله وخندل.

_لېونی کې‌ګره مه، هغه اوس موږ او تاسې ته اړ دی، د چوکيو په سر ټول ورسره دښمنان شوي دي چې موږ د ځان ملګري نه کړي،

په يوازې سر به څه کوي او بيا يې ما ته مخ راواړاوه:
_که څنګه ماليم صاحب؟
ما يوازې سر ورته وښوراوه، زه پخپلو سوچو کې غرق وم، ټولو ته مې ويلي وو، چې که خدای کول له هغې خوا به ولسوال راځم، خو ولسوالۍ ته معراج الدين هم سترګې پټې کړې وې او اوس هغه هم له موږ سره په دې سفر کې‌ګ ملګری و.
معلومه نه وه، چې برد به زما وي که د هغه، ده هم ترڅنګ راته کتل، زړه يې نه غوښتل چې زه هم په لاره کې‌ګ ورسره ملګری و اوسم، ما پخپل زړه کې پاچاهي جوړه کړې وه، ولسوال وم، خلك مې مبارکۍ ته راتلل، ما امرونه کول.
په دې وخت کې د لارې په پاټك کې چا زموږ موټر ودراوه، وسلوال د موټر دروازه خلاصه کړه په غوسه يې وويل:
_راکوز شئ، مېلمانه ياست؟.
لونګ په بې اعتنايۍ ورته وويل:
_وايه څه وايې؟
_اسناد مو راکړئ.
لونګ جمعه الدين ته مخ ور واړاوه:
_کارتې دې راوړې دي؟
_هو دغه دی.
وسلوال کارټ په يوه بله خوا واړاوه، شونډې يې پرې ښورولې بيا يې سر ترې راپورته کړ:
_په کارت مارت دې نه پوهېږم، دا ووايئ چې د چا نفر ياست؟
لونګ په غوږ کې څه ورته وويل. د وسلوال رنګ تور واوښت.
_ښه داسې؟
دوه نور وسلوال يې چې هلته ولاړ وو، هم را وغوښتل له موږ څخه يې وسلې واخيستلې او بيا يې په يوه کوټه کې بنديان کړو.
لږه شې‌به وروسته هماغه وسلوال له يوه بل وسلوال سره راغی لونګ په غوسه ورته وويل:

_اخر د څه لپاره مو دلته کښېنولي يو، تاسې کوم امر يا قوماندان
لرئ که نه، چې زه خبري ورسره وکړم؟
وسلوال په بې تفاوتۍ وويل:
_دلته موږ هر يو امر يو، پوه شوې که نه؟
بيا يې سم له لاسه ټول تلاشي کړو، پيسې او ساعتونه يې راښخه
واخيستل، دروازه يې خلاصه پرېښوده، څو ګامه لاړ، بېرته را
وګرځېده په موسکا يې وويل:
_اوس نو تلای شئ.
موږ هم پټه خوله بهتره وبلله، ځوړند سرونه راروان شوو، ټول پټه
خوله وو، تر ډېره مو څه نه ويل.
خو دا چوپتيا جمعه الدين ماته کړه، تر اوږده اسوېلي وروسته يې
وويل:
_په ګړۍ مې ډيره خوا بده ده راديو ګړۍ وه راديو .
روح الله په خندا وويل:
_مه خپه کېږه څه خپل ساعت خو دې نه و، په کومه لار چې
راغلی و -په هغه لاړ.
دا نورو ته يې سترګه ووهله پسې زياته کړه:
_کانه جامه دينه، زه او ته خو سره پوهېږو.
په کابل کې بيا جګړه پيل شوې وه، دوه شپې مو نورې هم د لارې په
يوه سماوار کې تېرې کړې، په درېيمه ورځ جګړه د ښار بلې څنډې
ته لاړه، موږ هم د کابل پر لوري حرکت وکړ، غرمه مهال ښار ته
ورسېدو، ښه و جمرود دفتر ته راغلی و.
جمرود رښتيا هم بدل شوی و، په څرخي څوکۍ کې به کله يوې خوا
کله بلې خوا ته تاو شو، خدای شته چې له موږ سره يې په چلند کې
کوم بدلون نه و راغلی له ټولو سره يې په غېږ روغبړ وکړ، د هر
يوه يې ځان- ځان ته پوښتنه وکړه، موږ خپلې خپلمنځي ستونزې او
لانجې يوه يوه ورته بيان کړه، ټولو ته يې غوږ نيولی و، زموږ له
خبرو وروسته يې په بې تفاوتۍ سره وويل:

_ورك يې كړئ، په ولايت او ولسوالۍ پسې مه ګرځئ اوس زموږ له لاسه وتلي دي، هغه مو په وېش کې دا نورو ته ورکړي دي.
له دې خبرې سره مې زړه کش وښويېده كه و كه نه و ما خو ځان ولسوال بللی و خولې رابانډې راماتې شوې، ژر ژر مې د څادر په پڅه پاکې کړې، د لونګ رنګ هم ژېړ غوندې شو، جمعه الدين هم سترګې ښکته واچولې، د خپلې څپلۍ په سګك لګيا شو، امر صاحب لکه چې زموږ په خپګان او وارخطايۍ پوه شوی وي.
تر لږې چوپتيا وروسته يې وويل:
_خو تاسې غم مه کوئ، په داسې ځايونو کې به مو مقرر کړم چې په يوه مياشت کې هر يو د شخصي والګا څښتنان شئ.
بيا يې لونګ ته مخ ور واړاوه:
_تا خو به سمدستي د يوې قطعګګې کومندان "قوماندان "کړم.
لونګ ورته وويل:
_څه ووايم، زه خو له والي توبه بل شی نه غواړم.
_لېونيه! په خدای، ډېر ښه ځای دی، ډګرجنرالي به هم درکړم.
_نه نه زه بايد والي شم والي. اوس مې کور ودانې مبارکي راکړې ده.
امر صاحب جمرود په بې حوصله ګۍ وويل:
_توبه لانت "لعنت" دې په شيطان وي، درته ومې ويل چې په وېش کې ولايت د دې نورو په پچه ختلی دی، ډګرجنرال تر والي غټ وي، لونګ پر خپله خبره ټينګ و:
_نه نه يا بايد والي شم، كه بيا مې والي کوئ نه، نو ډګر جنرالي نه غواړم بيا بريد جنرالي راکړه.
_ډګر جنرال خو تر بريد جنرال غټ وي، چې بيا ته بريد جنرالي غواړې، دا يې بريد جنرال، پيريانو ته غزنی څه دی دا خو. . .
جمعه الدين يې په خبره کې ور ولوېده:
_بيا نو دا ډګرجنرالي ما ته راکړه.
چورت مه خرابوه، اسانه ده.

بیا یې ما ته مخ راواړاوه:
_ښه مالیم صاب ته څه شی غواړې؟
ما ورته وویل:
_ما خو ولسوالۍ ته ځان جوړ کړی، خو چې ته وایې هغه د بل چا په پچه ختلې ده، بیا نو ما ته هم کومه جنرالي منرالي راګوره.
جمرود له څوکۍ را پاڅېده په دفتر کې یې په قدم وهلو پیل وکړ زما مخې ته ودرېده:
ګوره مالیم صاب ته خو نام خدای هوښیار سړی یې، موږ کار د کار هل (اهل) ته سپارو، ته جنرالي څه کوې، خپل کار او مسلك ته دې لاړ شه.
بیا یې پسې زیاته کړه:
_شونډې دې ولې وځړېدې، خپه کېږه مه، بیرته دې اول صنف ته نه لېږم، په پانتون (پوهنتون) کې به دې د کوم پوهنځي معاون مقرر کړم، د ریاست لپاره یې بل څوك په زوره راولېږه.
_نو زه به هلته څه وکړم؟
_وارخطا کېږه مه، علمي رتبه به هم درکړم، پوهنوال موهنوال به دې کړو، بیا په رئیس اسناد پیدا کړه که خدای کول په یوه میاشت کې به یې بستره په څټ کې ورکړم او تا به رئیس کړم.
بشیر په پوزخند سره وویل:
_دی غریب خو اول جومات ته سبق نه شي ویلای په پانتون کې به څه کوي.
_مه ګرځه، رئیس هم څه د تورې بنګړی نه دی، دی خو یې لا معاون دی.
امر صاحب جمرود هر یوه ته په مکروریانو کې د یوه یوه کور وعده هم ورکړه، زه پر حالاتو ډاډه نه وم، په سبا مې د خپلې مقررۍ مکتوب تر لاسه کړ، هسې نه چې بل څوك تر ما ړومبی شي. مخامخ پوهنتون ته لاړم، د دروازې د مخې پیره دار ودرولم:
_ای څه کوې خیر خو به وي چې داسې نېغ نېغ روان یې؟

ما خپل مکتوب ور وښود.
_دا دی مکتوب زه دلته ماوین (معاون) مقرر شوی یم.
_د چا په امر؟
_د جمرود په امر.
وسلوال له خندا سره په شا ولاړ:
_زوی دې مړ شه وایي پکه چا په ورا نه پرېښوده، دې د سرکجاوې غوښتې، هغه اوس دومره شو چې خلك مقرروي توبه، توبه.
ټوپکوال په زوره خندل، خو له خندا سره یې په ټېده (تندي) کې ګونځې را پیدا شوې په لږ څه لوړ غږ یې راته وویل:
_ځه ورك شه، رنګ دې د مامین (معاون) نه دی.
خو ما لا ټینګار کاوه په زاریو مې پیل وکړ، وېرېدم هسې نه چې اوس بل څوك مکتوب راوړي او تر ما ړومبی څوکۍ ته ځان ورسوي، زما زاریو د ټوپکوال زړه هم نرم کړ راته ویې ویل:
_ځه لاړ شه، د پوستې د قوماندان جنرال میرزا امر راوړه.
په قوماندان پسې یوې بلې خوا ته وګرځېدم، جنرالان ډېر و، خو جنرال میرزا مې پکې پیدا نه کړ، د پوهنتون بلې څنډې ته پسې لاړم. دلته حالت بل ډول و، وسلوالو په ویالو، او د ټولګیو په کړکیو او د ګلانو د وچو بوټو په منځ کې مورچلونه نیولي وو، یوه نیم خو له شګو څخه د ډکو بوجیو شا ته ځان پټ کړی و، څو ګامه لا نه وم تللی چې یوه راباندې غګړ.ګ کړ:
_اهای چېرته ځې د شپې نوم لرې؟
_د شپې نوم؟ اوس خو ورځ ده.
بل ملګري یې له لیرې را غږ کړ:
_دې ته ورځ وایې؟ چې موږ په مورچلو کې پراته یو او دا نور په پستو چوکیو نرم ګرم ناست دي؟
چې ما څه ونا ویل نو خپل ملګري ته وویل:
_ورشه شپه ورته وښیه.
زه ځای پر ځای ولاړ وم، نه پوهېدم څه ووایم له شا څخه د

کلاشینکوف د کنداغ وار راباندې وشو، سر راباندې وګرځېده سترګې مې توري شوې خو پر ځمکه ونه لوېدم لاس مې په دېوال تکیه کړ، ټوپکوال په غوسه وویل:
_څنګه اوس شپه ده که ورځ؟
_ش، ش، شپه.
خو هغه بل چې ځان یې قوماندان قوماندان کاوه، دا بل ته په قهر وویل:
_شپه دې ورته ونه ښودله. وایم په ورځ کې د اسمان ستوري پې ووینه پوه شوې کنه.
ټوپکوال دا ځل په ډېر قوت سره ټوپك پورته کړ، نور زه په ځان نه یم پوهېدلی.
اوس توره شپه ده، نه پوهېږم چېرته یم پر مخ مې لکه چې وینې وچې شوې وي چې لاس وروړم لکه په ختو چې کاګل شوی وي، نور نه پوهېږم بېخي تیاره ده داسي معلومېږي چې موږ په یوه لویه خونه کې بندیان یو، په دېوال د تختې په څېر څه شی په ګوتو راځي. کېدای شي د پوهنتون کوم ټولګی وي کېدای شي د هغه پوهنځي ټولګی وي چې زه یې مرستیال ټاکل شوی یم، څوك څه خبر دي کېدای شي زما دفتر وي، خو د زخمونو دردونه مې په دې باره کې نورو فکرونو ته نه پرېږدي راسره نور بندیان ډاډ راکوي وایې چې غم مه کوه ته بختور یې تنظیم لرې که امر یا قوماندان دې خبر شي حتماً به دې په تبادله کې په چا بدل کړي، ازاد به شې، افسوس زموږ په حال چې نه په اسمان ستوری لرو نه په ځمکه سیوری!!!

کابل

## توره کڅوړه

کانتینر ورو ورو تودېده، تودوښه دومره زیاته شوه، چې په کانتینر کې‌گ شپږ تنه زندانیان له خپلو ځایونو څخه پورته شول، کله به یې یوه پښه او کله بله پښه په ځمکه لګول، نور په هغو کې د درېدو توان نه و او پښې یې سوځېدې. په کانتینر کې یې یوې او بلې خوا ته منډې وهلې، د خلاصون ټولې لارې تړل شوې وې هغسې چې د ننوتلو په وخت کې وسلوالو ورته ویلي وو، چې کلمه مو وواياست نور مو امید له لاسه ورکړئ او نور له ژونده لاس ومینځی.
ډګرمن زمان د کانتینر په کونج کې ځای نیولی و، هڅه یې کوله چې د کانتینر په دېوالونو د چت پر لوري پورته شي، خپله خولۍ او کورتۍ یې وایستلې او تر پښو یې لاندې کړې. په هغه وخت کې هم د خپل یوازېني څلورکلن زوی په چورت کې و، چې د وتلو په وخت یې ورته ویلي وو، بابا موټلك (موټرك) دې هېل (هېر) نه شي.
زمان به بیا شونډې وچیچلې او له ځانه سره به یې وویل:
_یا خدایه، ته پرې مهربانه شې، او بیا یې د خپلې مېرمنې ټولې خبرې ور په زړه شوې.
_ګوره فکر دې وي چې ژر راشي په بېلرکې یوه لپه اوړه پاتې دي د بېګاه لپاره څه نه لرو اوړه ژر را ورسوه.
د کانتینر د تودوښې لا زیاتوالي د هغه د چورتونو لړۍ پایته ورسوله، د حاضرو کسانو چغې پورته شوې، له یوه بله یې پناه غوښته او د کانتینر دېوالونه یې ګړبول د زمان تر پښو لاندې هم ځمکه زیاته سره شوه.
او ترې لاندې کالیو دودونه پورته شول، هر یوه په لوړ اواز کلمه شریفه ویله او خدای(ج) ته په زاریو وو، د دروازې پر لوري به یې منډې کړې او چې نا امیده به شول بېرته به یې بلې خوا ته منډې کړې، د کانتینر دېوالونه به یې ټکول، دوو درېیو تنو خو ځانونه د کانتینر په دېوالونو پورې په ډېر کړاو ځوړند کړي وو، خو په دې وخت کې په ناڅاپي ډول د کانتینر دروازه خلاصه شوه، ټوله په یوه

وار په نیمکښه دروازه ورمنډې کړې او د سترګو په رپ کې یې په داسې حال کې چې اف اف نارې وهلې له کانتینر څخه ووتل، دوو تنو وسلوالو نه شوای کولای چې د دوی مخه ونیسي، ایله دومره یې وکوله چې د کانتینر مخې ته یې غونډ کړي او د تېښتې مخ یې ونیسګي، یوه تن زمان تر مټ ونیو او له ځانه سره یې رهي کړ، څو تنه نور وسلوال راغلل او پاتې پنځه تنه یې یو یو بېرته په کانتینر کې واچول، زمان په مخ روان و او شا ته به یې کانتینر ته کتل، پر کانتینر لیکل شوي وو "ظالم و مظلوم نباشید" په ټوله لار کې د هغو پنځو تنو په فکر کې و، له ځانه سره یې ویل:

_څه کې مې اعدام ته بیایي، بیا هم د دنیا په سر له دوزخ څخه خو خلاص شوم.

زمان په ډار او وهم کې له وسلوال سړي سره روان و، یوې او بلې خوا ته یې کتل، خو د تېښتې ټولې لارې تړل شوې وې، نه یې شوای کولای چې وتښتي. وسلوال پر هغه پوه شو ورو یې په غوږ کې ورته وویل:

_وېرېږه مه زه تا پېژنم، زه ستا دوست یم قربانعلي ستا عسکر یم ډګرمن صاحب تا له ما سره ډېرې نېکۍ کړې دي او اوس زما وار دی چې ستا احسان پر ځای کړم.

خپلې کوټې ته یې راوست او تر چای څښلو وروسته یې ورته وویل:

_که له موږ سره پاتې کېږې او همکاري راسره کوې خوشحاله به شو او که دې کور ته سودا وي نو په مخه دې ښه.

زمان بې له دې چې څه ووایي، له ځایه راولاړ شو، پر قربانعلي یې غېږ وګرځوله ورته ویې وویل:

_که رښتیا په خپله خبره کې صادق یې، نو ماته اجازه راکړه چې لاړ شم یوولس ورځې مخکې مې په کور کې اوړه نه لرل اوس به یې څه حال وي.

_ته کولای شې چې لاړ شې، خو په لاره احتیاط کوه، موږ هم هر یو ځان ته پاچا یو.

زمان په ګړندیو ګامونو روان و، خو له پاسه یوه تن ورباندې غږ
کړ:
_چېرته ځې، ودرېږه له تا سره کار لرم.
د زمان وار پار خطا شو، پوه شو چې په بله لومه کې کښېووت،
ځای پر ځای ودرېد، زمان له ځانه سره د تېښتې پرېکړه وکړه او د
دېواله خوا ته نژدې شو، خو کله چې یې مندې ته ځان جوړاوه، بیا
غږ پرې وشو:
_نه مې وو درته ویلي چې ځای پر ځای ودرېږه، او بیا یې په خندا
وویل:
رښتیا چې مار خوړلی له پړي هم وېرېږي، ها واخله دا کڅوړه امر
صاحب راکړه بېګاه ته یې پخه کړئ، زمان کڅوړه ترې واخیستله
او پر خپله لار رهي شو، څو ځله په زړه کې ور تېر شوه، چې دغه
توره کڅوړه ایسته غوځاره کړي، خو بیا یې له ځانه سره وویل:
نه ضرور نه ده، دا هم ښه ده که چا په لاره کې نیولم، ورته وبه وایم
چې په اجازه راغلی یم او دا کڅوړه هم ستاسې امر صاحب راکړه.
زمان په ګړندیو ګامونو روان و او په ځان نه پوهېده زړه یې
غوښتل چې وزر یې لرلای الوتې وای او خپل کور ته رسګېدلی
وای، له ځانه سره یې ویل که خدای په خیر ورسولم، نجیب جان به
څومره راته خوشحاله شي، هغه به موټر غواړي څه به ورته وایم،
کڅوړه به ورښکاره کړم، ورته وبه وایم چې په کڅوړه کې مې تا ته
موټر او منې راوړې دي، څومره به خوشحاله شي، زمان ښه
وړاندې راغلی و دلته نو بله پاچاهي وه هو بېخي بله د نورو
مشرانو عکسونه او نور بېرغونه.
زړه یې غوښتل چې کڅوړه چېګرته واچوي او ځان له دغې
بدمرغې تورې کڅوړې بېغمه کړي، خو بیا یې په زړه کې ور تېر
شول تاوان یې څه دی؟ له ځانه سره یې وویل چې ویې وګورم، خو د
کور د لیدو تلوسې هغه ته دا وخت ور نه کړ چې د کڅوړې خوله
پرانیزي او ویې وګوري، یوازې یې پر هغې لاس را تېر کړ،

غوښه ورته معلومه شوه.
اوس په سرويس کې د کور پر لوري راون و، ځان داسې ورته ښکارېده لکه چې مړ راژوندی شوی وي، يوې او بلې خوا ته يې وکتل، له هر څه يې بېل خوند اخيست، خو د کڅوړې فکر هغه يوه شېبه هم ارام نه پرېښود، له ځان سره يې وويل:
_دلته به يې په موټر کې پرېږدمه زه به کوز شم، نه بابا ګټه يې څه ده، نه هر وخت چې له موټر څخه کوز شوم، ايسته به يې غوځاره کړم، ډېر ورتې مې ځنې کېږي په زړه کې به يې ځان ته خندا راغله چې په څه چټياتو لګيا دي، موټر د کور خوا ته ورسګېده او زمان د کور خوا ته په چټکو ګامونو روان و، د کور د ليدو خوشحالي يې هېره وه، د کڅوړې په فکر کې و.
_څه بد کار مې وکړ، بايد په موټر کې مې پرې ايښې وای، اوس څه پرې کړم هېڅ نه شم پرې کولای، هغه دی، حاجي باز محمد له کوره راووت ما ته ګوري ټول خلك ما ته ګوري، بايد کور ته يې يوسم، بيا به يې له ځانه سره وخندل.
_زه هم عجيب سړی يم، په څه فکرونو لګيا يم، سمه غوښه کور ته نه وړم، پخوا به مې په درېيو مياشتو کې دومره غوښه نه شوه پيدا کولای، اوس تياره غوښه کور ته نه وړم، عجيب لېونی راڅخه جوړ شوی، يوولس ورځې زندان او بې‌لابېلې جزاګانې، خو له سړي څخه داسې لېونی خامخا جوړوي...
په دې فکرونو کې د کور دروازې ته ورسېده، زوی يې د هغه په غېږ کې ځان واچاوه او د پلار بېلتون موټر ورڅخه هېر کړی و، مېرمنې يې له ډېرې خوشحالۍ اوښکې تويولې، د کوڅې خلك او ګاونډيان خبر شول، ټول يې پوښتنې ته راغلل، رښتيا هم لکه مړی چې را ژوندی شوی وي،ځکه ټول خبر وو، چې ډېرې خطرناکې سيمې ته په ډېرو خطري لارو په اوړو پسې تللی و.
مېلمانه تلل راتلل او له ډېرو ليرې ځايونو څخه هم خپلوان او دوستان راورسېدل.

زمان خپلې مېرمنې ته هغه توره کڅوړه ورکړه او ورته وېې وويل:
_مېلمانه ډېر شول، دغه غوښه ټوله پخه کړه، ويې ګوره که کمه وي چې نوره راوړم، بيا ووايه چې هېر دې نه شي.
زمان له مېلمنو سره خبرې کولې او د تېرو يوولسو ورځو کيسې يې چې مېلمنو ته نوې او ځينې يې د منلو وړ هم نه وې ورته کولې، دوی په دغو کيسو کې وو چې زوی يې په منډه کوټې ته راننوت.
_بابا، بابا، مور. . .
کله چې زمان پخلنځي ته ورغی، مېرمن يې د پخلنځي پر غولي لوېدلې وه.
_څه خبره ده؟ څه وشول؟
_ت، ت، ت ته ته ته.
_څه څه څه خبره ده؟ خبرې وکړه، څه بلا ووهلې.
_ت ت ت ت ته ته ته غه غه غه غه.
_ته ته څه خبره ده، خبرې وکړه، روغه جوړه ښځه يې، څه شوې دي.
_هغې نور څه ونه ويل او سترګې يې د کڅوړې پر لورې وازې پاتې شوې.
ټول پخلنځي ته راغلل د زمان د مېرمنې جسد يې له ځمکې څخه پورته کړ، زمان چې کڅوړې ته وکتل له خولې يې چيغه ووته.
_الله دا څه وينم، په کڅوړه کې تی دی، الله فضل وکړې، له دې خبګرې سګره په ځمکه ولوېده.
کابل څارندوی مېنه
28/2/1374

0787899692 0776484320

# کوچی ملا

لیکوال:محمد صدیق پسرلی

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

## لومړی برخه

د اوړي وروستۍ میاشت وه، د تودوښې زور په ختلو و، لمر ته هم څه شيبه ناستې کېدای شو. غټ مازیګر څو تنه ځوانان د پالېزه په خوا کې، د تلو پر سرونو ناست ول. خټکې يې مات کړي وو، د کندز د خټکیو وروستی فصل و. ځوانانو هر یوه یوه یوه خربوزه خوښه کړې وه. اوس يې کتل چې څوك خټکی ښه پېژني؟ ټولو د هرې خربوزې څکه کړې وه، خو په دې يې لا قناعت نه و سره حاصل کړی، چې د چا خټکی خوږ دی؟ ځکه چې هر چا ته د خپلې غوړکې تروې خوندورې وې او هر يوه به ځان تجربه کاره باله. بحث يې لا روان و، چې يو مسافر پر لاره راښکاره شوه، لاره د پالېزه په خوا کې تېرېده. کله چې مسافر د دوی برابر ته راورسېد، احمدشاه ورنارې کړې :

وا بابکه! وا بابکه! راوګرځه، خټکی مو مات کړی دی، راسره وبه يې خورې.

مسافر وروګرځېد، له سلام علیك او عادي ستړې مشې وروسته ورسره کښېناست. هر یوه له خپلې خربوزې یوه نرۍ دړه ورته کښېښودله.

احمدشاه ورته وویل :

کاکا! د دا ټولو خوند وګوره او بیا ووایه چې کوم خټکی خوږ دی؟

_ناڅکلې پوهېږم چې درست خواږه دي.

_پر ناڅکلو خربوزو څرنګه حکم کوې، چې درست به خواږه وي؟

_له دې جهته وایم چې دیارانو په ټولنه کې خواږه درست خوندور وي.

ځوانانو ته د مسافر خوږې خبرې خوند ورکړ، یوه وپوښت:

بده خو به نه وي، که پوښتنه وکړم چې څوك يې؟!

_د خدای بنده. د رسول الله امت، د افغانستان تبعه. کافي ده که نور هم پسې لاړ شم؟

ځوانانو وخندل، یوه بیا وپوښت:

له کومه راځې؟
_له خپله کوره راځم.
_کور دې چېرې دی؟!
_څو چې زه راتلم، تر دغه وخته خو د غزني په شلګر کې و .
احمدشاه وویل :
ولې بلې خوا ته روان و، که څه؟!
_روان خو نه و، لېکن يو خدای تعالی په يوه حال دی، په انسانانو لاڅه باور دی؟
ځوانان پوه شول، چې ښه خوښ صحبته او خولور سړی دی. بيا يوه وپوښت:
کاکا! څه کار کوې؟
مسافر چې په خربوزه شخوند واهه، ويې ويل:
سملاسي خو دادی خربوزه خورم.
درستو وخندل. احمدشاه وويل:
کسب او پېشه دې څه ده؟!
_هرکاره يم. په هره پېشه کې مې ګوتې وهلې دي. ځکه نو اوس زه هم نه پوهېږم چې د کومې کټوي مساله يم؟
_مثلاً څه څه کارونه کولای شې؟!
_معلمي، ناظري، ختګري، دکانداري، لږ ډېر دړزيتوب، رنګمالي او.. ملايي يعنې امامت .
_داسې ښکارېږي چې په غريبۍ پسې راوتلی يې!
_هو! په خوارۍ پسې راوتلی يم. چا رته وويل دلته دې وطنداران اوسي، نو ما ويل لومړی بايد په خپلو وطندارانو حال واخلم. که مې دلته څه نوك ښخ شو، بل ځای ته به څه ضرورت وي .
_اوس دې په دومره کارونو کې کوم کار ته ډډه لګېږي؟!
_پخوانو ويلي دي په خوارۍ کې اسانه دروېزه ده. که امامت په لاس راشي، نور هرڅه ورسره کېدای شي.
احمدشاه په داسې حال کې چې کښته پورته يې راته کتل او د ده له

شنې لونګۍ، شنو ستر ګو، سرو وېښتو، خړو جامو يې نظر سرو څپلیو ته وښویاوه. ورته ویې ویل:
اتفاقاً زموږ د کلي ملا صاحب په دغو ورځو کې بل ځای امامت نیولی دی. خدای دې وکړي چې کليوال سره سلا شي، امامت تا ته وسپاري، خو ګومان نه کوم .
_تاسو مې یوځل جومات ته ورسيخ کړئ، بيا به که خدای کول، سره جوړ شو.
_ما چې وویل ګومان نه کوم، له دې کبله مې نه وویل چې سترګې دې شنې دي، یا دې وېښته ژړبخون دي، ما له دې امله وویل چې ستا ناسته ولاړه او د غاړې جامې د امامانو نه دي .
_د امامت سپینې جامې د خيرات په سپينو روپو جوړېږي، چې څه مې نه وي خوړلي، د څه شي ټېغونه رابانډې باسئ؟!
_ملا صاحب! دا دې نه وویل چې کومه خربوزه ډېره خوږه وه؟
_اوس چې وربانډې موړ شوم، څه به ووايم. ماړه ته خواړه خوند نه ورکوي .
_ما ويل زموږ دعوه به رافيصله کړې، خو تا هم ځان تېر کړ .
_زما په عادي امامت پسې څپلۍ وشلېدې، تاسو رانه قضاوت غواړئ.
_قضاوت خو هم د ملا صاحبانو کار دی.
_زه خو چې ملا صاحب شم. په محراب کې کښېنم. بيا راشئ وګورئ چې څرنګه فيصلې صادروم؟!
_یعنې له محرابه لیرې حکم نه کوئ، یا نه کېږي؟
_که قاضي له محکمې بهر حکم صادرکړی وي، زه به يې هم صادر کړم .
چې دا يې وويل، له جېبه يې ګړی وایستله (پخوانی وېښتېنډ ګړی وه) ورته ویې کتل، بيا يې دوی ته وويل:
_د مازیګر د اذان ټېم دی، که مو خوښه وي، اوس به خدای یاد کړو .

ټولو ورسره ومنله او د کلي پر لوري روان شول. کلی ډېر لیرې نه و، څلور پنځه سوه قدمه لار وه، چې جومات ته ورسېدل، ملا صاحب خپله غوټه کښېښودله. لومړی اذان ته ودرېد، په ډېر خواږه ږغ يې اذان ووايه، بیا يې لمونځ ورکړ. له لمانځه وروسته د ماښام تر لمانځه هلته د جومات په چوتره له څو تنو کليوالو سره کښېناست، کليوالو ملا صاحب ته په حيرت کتل چې کړه وړه يې د ملايانو نه دي، خو لمونځ او اذان يې تر ډېرو ملا صاحبانو خوندور وو، د ماښام له لمانځه چې فارغ شول، له احمدشاه سره د دوی مېلمستون ته لاړ، احمدشاه خپل پلار "حاجي صاحب" ته معرفي کړ. حاجي صاحب روغبړ ورسره وکړ، سره کښېناستل، له يوې خوا بلې خوا سره وږغېدل. طبعي يې سره ولګېدې. حاجي صاحب هم د ملا صاحب غوندې ډېره برخه په بهرنيو هېوادونو کې تېره کړې وه، خو تفاوت يې په دې کې و، چې حاجي صاحب به همېشه د تجارت په سلسله په لويو ښارونو کې اوسېده. ملا صاحب به په خوارۍ پسې په کليو، په ځنګلونو کې ورك و. ملا صاحب هم څو ژبې زده کړې وې، حاجي صاحب هم کله ملا صاحب پنځلس شپاړس کاله طالبي کړې وه، ديوه متوسط ملا په اندازه يې مروج علوم لوستي وو، خو له علمه يې استفاده لږ کړې وه، د حاجي صاحب تعليم لږ و، خو مطالعه يې تر اوسه جاري وه، له ډېرو داسې خبرو خبر و، چې ملا صاحب نه و ترې خبر.

حاجي صاحب د اويا، پنځه اويا کلونو په عمر، له ونې لوړ، په صورت زهير، د لنډې مونډې ږيرې خاوند؛ خودداره او زړور سړی و، په سر او ږيره کې يې سپينو وېښتو پر تورو بری موندلی و، کرۍ ورځ به له مېلمنو سره ناست و، په کور کې يې يوه وړه کتابخانه لرله، چې د دوی د خوښې کتابونه، مجلې او رسالې په کې خوندي وې، چې مېلمه به يې نه درلود، په مطالعه به بوخت و، دغه راز يې د نړۍ له پېښو سره ډېره دلچسپي لرله، يوه ترانزيستوري راډيو به يې په خوا کې ايښې وه. د کابل راډيو، د پېښور راډيو، د

ډيلي راډيو، مسکو راډيو، بي بي سي او نورې خپرونې به يې اورېدلې، د هر استېشن پښتو_ پارسي او اردو خپرونو ځايونه او وختونه يې يادداشت کړي وو، چې کله به يې کومه مهمه خبره واورېدله، په هغه شپه به يې د دغو ټولو راډيوګانو خبرونه په درې واره ژبو اورېدل .
ملا صاحب هم د متوسطې درجې ديني عالم و، هم يې د ډېرو سفرونو ډېرې خاطرې او ډېرې تجربې لرلې، د ښه ږغ او ژوندي زړه خاوند هم و. په هند کې يې داسې معلومېده، چې د موسيقۍ لمن يې هم نيولې وه، چې د هر بحر او هر وزن شعرونه به يې په ترنم سره ويلای شول. په تېره بيا په قوالي موسيقۍ کې، د يوه مجرب قوال په سويه وارد و، چې د حاجي صاحب زړې خاطرې يې وربانديې تازه کولای شوې .
د حاجي صاحب نظر ډېر ژر ورمعلوم شو، چې له قشري ملايانو يې ښه نه راځي او دی هم فطرتاً سختګير ملا نه و، سره ويې لګېده او په هغه شپه يې د امامت معضله حل شوه، د سحر اذان يې د کلي د امام په حيث ووايه. کليوالو ته د ملا صاحب پوښ او په خبرو کې لاقيدۍ خوند نه ورکاوه، ځکه چې دوی سپينه بګړۍ، سپينې ارتې جامې او ورو ورو، شمېرلې خبرې د امامت له لوازمو ګڼلې، چې بيا خبر شول چې ملا صاحب راډيو هم اوري، ټوکې ټکالې يې هم خوښې دي او سندرې لا ګوښې بولي دا چارې يې د امامت توهين بللې. هرڅه ملا صاحب بله دنيا وه، بېل خويونه او ځانګړي عادتونه يې لرل، چې له نورو ملا صاحبانو سره يې ډېر توپير و، خو ځرنګه چې حاجي صاحب منلی و، چا څه نه شو په کې ويلای .
ملا صاحب به د شپې د حاجي په مېلمستون کې و، ورځ يې هم ډېره برخه له حاجي صاحب سره تېروله، ده هم له نړيوالو پېښو سره دلچسپي ښکاروله، خبرونو ته يې ښه غوږ نيوه، نو به يې نسبتاً روغه تبصره هم وربانديې کولای شوای، نو حاجي صاحب ته تر ده ښه مصاحب په ګرانه لاس ته ورتلای شو.

ملا صاحب یوه اوونۍ امامت وکړ. د هفتې په پای کې یې ورته وویل: حاجي صاحب! که ستاسو خوښه وي، زه به په خپلې کلې پسې لاړ شم، ښځه او ماشومان مې په شلګر کې پرې ایښي دي، نور څوك نه لرم، یو بې پروا وروړ لرم، خدای خبر دی چې پوښتنه به یې کوې، ان شا الله تعالی اوومه اتمه به مې کلې راورسوم.

حاجي ورسره ومنله، په کلي کې یې دوه خونې ورته تشې کړې، چې ملا صاحب په کې واړوي. سبا ته ملا صاحب لاړ او په رښتیا اوومه شپه راورسېد، د ملا صاحب دا په پروګرام عمل کول لا د حاجي صاحب خوښ شول، دوه درې جواله غنم، څو باره بوټي او څو سوه روپۍ یې ورکړې، چې د ژمي ګذاره یې وربانديې وشي .

ملا صاحب چې کله ځای پر ځای کړه، د ورځې به د لمانځه له وختونو پرته یا په چکر وتلی و، یا به له حاجي صاحب سره ناست و، د شپې ډوډۍ خو به یې اکثر له حاجي سره خوړه، ملا صاحب له پښو ګړندی و، ستړیا یې نه پېژندله، په لنډ وخت کې یې د شا و خوا کلیو له اوسېدونکو سره هم وپېژندل. ډېر یاران_ دوستان یې پیدا کړل. بله ورځ یې په نژدې کلیو کې له چا څخه یو زوړ او له کاره ولېدلی سایکل په درې شله روپو واخیست او کاله ته یې راوړ. سبا ښار ته لاړ د سایکل نیمګړې پرزې، ټایرونه او نور ضروري سامان یې واخیست، چې راغی، په خپله وربانديې توښ شو فعال یې کړ، روغ سایکل ورته په دوه دوه نیم سوه تمام شو، له هغه وروسته چې به له کوره ووت، که به جومات ته هم روان و، په سایکل به یې پښه واړوله، که به د حاجي کور ته ورتلو هم به سپور ورتلو.

ځینو کلیوالو حاجي صاحب ته تر غوږ ورتېره کړه، چې د ملا صاحب به پر نور هرڅه برغولی کښېږدو، دا سایکل سواري یې د یوه امام له شان سره نه وایي، موږ به یې څه کوو، هسې نه چې تاسې ورپورې سپك شئ!

حاجي ورته وویل: تاسو څومره خطا وتلي یاست؟! ایا امامت بس تیار خوري، لټي او له ژونده لاس اخیستلو ته وایي؟ چې یو بېعلم او

ناپوه انسان د ژوند له شیرازیو استفاده کولای شي، یو عالم دې ولې
ترې بې برخې وي، سایکل د تلو راتلو یوه وسیله ده، که ملا صاحبان
ترې استفاده وکړي، څه بدي به ولري؟ تاسو دنیا نه ده لیدلې، د نورو
وطنوالو امامان موټرونه لري او په خپله یې چلوي .
_ملا باید دروند او ناست سړی وي. دی په یوه منډه شا و خوا کلي
درست راغواړي، اوس چې د سایکل خاوند شو، اوس به یې لکه د
چوټي یو ځای هم کرار نه وي.
_تاسې یوه بې لاس او بې پښو بنیادم ته عالم وایاست او د امامت وړ
یې ګڼئ، حال دا چې چینجي او ماران نه عالمان دي، نه انسانان،
انسان چې څومره اجتماعي وي، څومره چې یې اجتماعي روابط
پراخ وي، هغومره ښه وي.
_له یوه ملا امام سره نه ښایي چې د جومات په خوا کې لګیا وي،
مستري توب کوي او یا سایکل ته باد ورکوي.
_بیا هم درته وایم، تاسو ته تیار خواره، لټان او د ژوند له چارو
بېخبر او بې پروا خلك عالمان ښکارېږي، حال دا چې داسې نه ده.
دا چې ملا له یوه زاړه او له استفادې وتلي سایکل څخه د استفادې وړ
سایکل جوړ کړ، دا یې عیب نه دی، دا یې کمال دی، کمال ته په سپکه
سترګه کتل ناپوهي ده. کاشکې زموږ عالمان په تخنیکي چارو هم پوه
وای .
حاجي صاحب په دې توګه هم په کلي کې، هم له کلي بهر د
ملاصاحب مدافع و، نور نو ملا صاحب په هېچا اړ نه و، دا چې د
حاجي تایید ورسره و، کافي یې ګڼله، نوره یې خپله ژبه هم د ډم تر
بیاتي کمه نه وه، د هرچا ځواب یې ویلای شو، ملا صاحب که د چا
ښه اېسېد که بد، د حاجي له سترګو یې په شا و خوا کلیو کې هم
احترام کېده، چې په کوم غم یا ښادۍ کې به له حاجي صاحب سره
کوم کلي ته تللی و، په ګرانه به نورو امامانو د تلاوت یا نورو خبرو
وار ترې نیو. هم یې اواز ښه و، هم په تجوید پوهېده، هم یې په
سفرونو کې ډېرڅه لیدلي او اورېدلي وو. د ژوند په هر اړخ کې یې

تر نورو ډېرې تجربې او ډېر معلومات لرل، په هند او پاکستان کې يې په لويو غونډو کې ډېر نامتو خلك له نژدې ليدلي وو، د لويو عالمانو له خولې به يې نقل قول کاوه. د وينا چل هم ورتلو، که کله به يې په خبرو کې يو نيم طنز هم نغښتی و، چې په خړو جامو کې به يې له سپين روبو ميدان ووړ، خو څرنګه چې په خبرو کې به يې د اردو او ورسره انګرېزۍ لغتونه هم له خولې وتل، خلکو ته به شك ورولېده، چې هسې نه د ملا په عنوان کوم وظيفه دار پېرنګی نه وي. د شا و خوا ملا صاحب نو هم سپي ښه نه ورته غپېدل، خو په پردي ملا د چا څه کار دی؟ هغه هم د حاجي صاحب په ملا، چې هم منلی مشر و، هم تر دوی ټولو هوښيار او باخبره سپين ږيری. نو په ښکاره يې څه نه ورته ويل، پټ غاښ چيچی يې ورته حتمي خبره وه. په تخريب پسې يې درست ملايان يوموټي شوي وو، د حاجي صاحب کليوال هم غولۍ غولۍ کېدل، خو حاجي د ملا صاحب په کوټه ولاړ و، د ملا صاحب له هېچا هم سترګې نه سوځېدې، هېڅ مجبوريت يې نه محسوساوه، چې خپل وړ بدل کړي، ځکه چې حاجي صاحب په دغه ډول ډېس او دغه خوی خصلت خوښ کړی و. حاجي صاحب ايله د خپلې خوښې ملا موندلی و، داسې امام چې هم امامت کولای شي، هم په خبره پوهېږي، هم يې مجلس ورسره تود وي، هم يې يار وي، هم مشاور.

که به کله حاجي صاحب له چا سره په خبرو د کومې راډيو د خپرونې وخت هېر کړی و ملا صاحب به خپله ګړۍ راوايستله ورته وبه يې ويل:

حاجي صاحب! د پلانۍ راډيو د اردو خبرونو د خپرولو ټېم دی. حاجي به ژر خپلې ګړۍ ته وکتل او بيا به يې په مطلوب سټېشن پسې د راډيو ستن وګرځوله. بيا به دواړو خبرونو ته داسې غوږونه نيولي وو، چې تا به ويل د کومې ورځپاڼې لپاره خبرونه ثبتوي. د هرې راډيو پاړسي، اردو او که به يې پښتو خپرونه هم لرله، پښتو خبرونه به يې هم اورېدل، چې دا مکررې خبرې به د احمدشاه او

نورو لپاره ډېرې ستومانوونکې وې، خو دوی دواړه نه ورباندې
سترې کېدل، نو حاجي صاحب د خبرونو ترې موندلي وو، له دې
امله هم ورسره خوښ و .
د حاجي صاحب دستور و، چې هره ورځ به سهار له کوره راووت،
که به یې څه خاص مېلمانه نه لرل، یو چکر به په خپله مځکه
راوګرځېد، خپلې کروندې به یې تر نظر تېرې کړې، په خپل باغ
به یې حال واخیست، بیا به تر ماسخوتنه په مېلمستون کې له
مېلمنو سره ناست و، چې تېر ماسخوتن به کور ته لاړ، ملا
صاحب به یا له راډیو هندي سندرې اورېدې، یا به یې د احمدشاه په
غوښتنه په خپله ورته قوالۍ سندرې ویلې، هغه هم اکثرې پښتو
قوالۍ. چې له دې امله د احمدشاه هم ورسره جوړه وه .
احمدشاه د حاجي صاحب مشر زوی، له ونې میانه، په کړه وړه
متناسب، په عمر دېرش کلن، د دوو زامنو پلار و، څو جوماته درس
یې ویلی، له لیك لوست سره اشنا و. خو د مطالعې شوق یې نه درلود.
له کتاب او سیاست سره یې نه لګېده، ژوند یې په لوبو، ټوکو او
مېلو تېراوه، له موسیقۍ سره یې ډېره جوړه وه، فلمي سندرې یې
خوښېدې، د هند مشهور سندرغاړي یې نالیدلي درست پېژندل. ملا
صاحب ته د احمدشاه ذوق معلوم شوی و،د هغه د زړه ساتنه یې هم
پر ځان لازمي ګڼله.
د ژمي اوږدې شپې یې په خوشحالۍ سره تېرې کړې، د کلیوالو او
نژدې شا و خوا خلکو حساسیت هم له ملا صاحب سره کم شوی و،
نور یې چا په خړو کوچیانیو جامو او سایکل پورې څه نه ویل، خو د
ملا صاحبانو پټ تبلیغ لا ورپسې روان و .

## دوهمه برخه

د ورې د میاشتې هم ډېره برخه وتلې وه، د بادامو ونې په شګوفو کې
پټې وې. واښه داسې راټوکېدلي وو، چې تا به ویل مځکه په زرغونه
سمندر کې غوپه شوې ده .رېدیو له بامونو دېوالونو سرونه راځوړند
کړي وو، د مځکې د مخ ننداره یې کوله، د تازه خوړمنې له فیضه

وطن د ښایست نندارتون و. هرځای سبزه، هره خوا ګلونه او هر طرف ښایست.
ملا صاحب به کری ورځ په باغونو، کښتونو او کله لا په دښتو کې داسې ګرځېده، لکه د پسرلي سترې وږمه چې ارام نه پېژني. تا به ویل د شاتو مچۍ ده، د خپلو تصوراتو کندو ته شات ورتولوي. کله به یې په سایکل پښه واړوله، د غره لمن ته به یې ځان ورساوه، وچ غره ته به یې کتل، چې د موسم لورېینې سره او زرغونه شالونه وربانديې اچولي دي، د رنګین ځوړمني ننداړو یې ابي سترګې نورې هم وررونې کړې او په زړه کې به یې د حسن پرستۍ خاموشې جذبې بیا راپارولې وې.
ژړ مازیګر و، د لمر وروستیو شغلو د تاندو ګلونو تندي ښکلول او تر سبا یې په خدای سپارل. ملا صاحب د کلي خوا ته پر یوې ښکلې غونډۍ ناست و، د مځکې او اسمان د ښکلیو خدای په امانۍ ته یې کتل. په دغه وخت کې له کلي ځوك ورپسې راغی او په ملا صاحب یې زېری وکړ چې د ورور کډه یې راورسېده .ملا صاحب اوچت پاڅېد، په منډه له غونډۍ کښته شو. پر سایکل یې پښه واړوله، کور ته روان شو، چې ور ورسېد، په رښتیا شرف الدین له خپلې کډې او ماشومانو سره رارسېدلی و .ملا غېږ ورته پرانیستله، شرف الدین یې په غېږ کې ونیو، په مینه یې روغبړ وکړ، بیا یې له ورېنداړې سره پوښتنه وکړه او وربرونه یې ښکل کړل، له حال احوال یې سره وپوښتل.
شرف الدین ورته وویل: ملا وروره! څه به درته وایم؟ یوه خو وایي چې دوه پك هغه هم سره ورك، نه زه له تا پرته ځوك لرم، نه یې ته لرې، درپسې راغلو، بله خبره دا ده چې په ژمي "دامان" ته لېښل راڅخه پاته شوي وو، په "شلګر" کې خوله باد ته نه نیول کېږي.
کډه مې راواخیستله، ما ویل دلته به ګوندې د خلاص مټ څه کار روزګار پیدا کړم.
ملا وویل: زما زړه هم تاسې ته درختلی و، ډېر دې ښه وکړل، دا

ځای د کار او غريبۍ ځای دی، که څوك همت وروړاندې کړي، هر کار دلته پيدا کېږي، هر چا ته د خپل کار، خپل همت او خپلې پوهې په اندازه ګټه رسېدای شي.

_دلته به زه څه وکړای شم؟!

_که نور هېڅ نه وي هغه د "دېرې" په شان که دلته هم په کليو پنډې وګرځوې، خامخا دومره څه په کې درپاته کېږي، چې ګذاره دې ورباندې وشي. خو ته صبر کوه ساه به دې جوړه شي، څو ورځې به شا و خوا ځان بلد کړې، ماته ګوډه پاړسي به زده کړې، بيا به چورت په کې ووهو.

_ماته ګوډه پاړسي دې ياده کړه، ولې دلته پښتانه لږ دي، که څرنګه؟!

_پښتانه خو تر نورو ډېر دي، خو دا زموږ شا و خوا کلي وزبك او ترکمن ډېر دي او له دوی ښه ګټه کېږي، وزبکان او ترکمنان هم لږ لږ په پاړسي پوهېږي.

_نو تر هغه وخته به څه خورو؟

_تر هغه وخته خو دې زه نه يم خوړلی! زما او ستا وېش چا کړی دی؟ خوره، څښه، حساب مه منه...!

دوی لا په دغو خبرو سره ږغېدل، چې د حاجي صاحب نوکر ورته ودرېد او ورته ويې ويل: ملا صاحب! حاجي صاحب وويل ته او ورور به دې راشئ د ماښام ډوډۍ به زما سره وخورئ.

_ډېره ښه ده، چې د ماښام لمونځ وکړو دربه شو.

شرف الدين ملا ته وويل: دا ستا حاجي عجيب ښه سړی نه دی، موږ لا پوره پوښتنه نه ده سره کړې، ده بيا مېلمستيا ته وبللو؟!

_حاجي صاحب يو سخي سړی دی، هغه ته خدای لوی زړه ورکړی دی، هره ورځ يې په حجره کې لس دوولس تنه نابللي مېلمانه ناست وي. زموږ غوندې خلکو مېلستيا ورته څه خبره نه ده، اوس به ستا له راتلو خبر شوی وي، ځکه يې ورو‌بللو.

_خير و، کراره وه، سبا بل سبا يې هم وربللای شوو.

_ما ورته وويل چې د حاجي صاحب لپاره دوه درې مېلمانه څه تشويش نه پيدا کوي، په تياره ډوډۍ يې وربللي يو، ممکن يا به يې تا ته سودا وه چې ودې وينې. يا به يې دا فکر کړی وي، چې په دې ناوختۍ کې به زه ستاسو لپاره څه سرشته نه کړای شم. ستا بار به يې زما له اوږو کوزاوه. په هر حال، د ښه نيت خاوند دی، خدای دې اجرونه ورکړي. ډېر انتظار يې بايد پرې نه ږدو.
له دې خبرې سره پاڅېدل، جومات ته ورسېدل، له لمانځه وروسته د حاجي مېلمستون ته ورغلل. اتفاقاً حاجي په هغه شپه نور مېلمانه هم نه لرل. حاجي ورپاڅېد روغبړ يې ورسره وکړ، چې سره کښېناستل، له يوې خوا بلې خوا يې شرف الدين ور وږغاوه .بيايې ورته ويل:
ښه دې وکړه چې راکډه شوې، دا د کار او غريبۍ وطن دی، دلته هر وخت کار_ کسب موندېږي، چې سړی همت وروړاندې کړي، وږی نه پاتې کېږي. خدای پاك رازق مطلق دی، خو زه ستا وسيله، ته زما وسيله، بندګان يو په بل چلېږي. دا وعده درکوم چې که تا کار ته اوږه ورکړې، دلته نژدې د کور په خوا کې له ما څخه هم نه وزګارېږې، بې‌غمه اوسه.
له ډوډۍ وروسته يې هم څه مجلس سره وکړ، کله چې رخصت شول، په لار کې شرف الدين وويل:
دا خو عجيب ښه سړی و، هلته د دامان د خوا و ډېره ګان خو په اسمانونو کې ګرځي، مځکې ته وايي چې ته رالاندې ځه، چې ورشې، دی به په کټ کې غځېدلی وي، ته به په خاورو کې ورته کښېنې او خوښ به لا هم يې، چې خبرې دې اوري. حاجي صاحب ته هم خدای پاك ډېر جايداد ورکړی دی، لوی زميندار دی، بلکې تر ډېرو هغو وډېره ګانو يې ژوند ژواك په سل چنده ښه دی. بيا هم له موږ سره پر يوه توشك ناست و، نه يې تر چا ځان لوړ باله، نه يې له چا د لاس مچولو تمه لرله:
_خبره دا ده چې هلته د مغلو دوران تېر شوی دی، چې د سيمې

خلك به يې سيالان نه ګڼل، بلکې خپل بندګان يې بلل، بيا ورپسې يوه يوه نيمه پېړۍ د پيرنګيانو باچهي وه، چې له صاحبانو (پيرنګيانو) پرته راجګان، نوابان، خانان او وډېره ګان هم د هغوی نازولي وو.
هغوی يې د ولس پر څټونو ورسپاره کړي وو، ځکه هلته دومره توپير موجود وو. دا وطن د افغانانو دی، تل يې خپله باچهي وه، که يې خان دی، که ملك دی، که وزير دی، که باچا دی، درست افغانان دي او د دې ولس هډ وزر ګڼل کېږي. دلته چې څوك ځان تر نورو پورته ګڼي، يا له نورو ډېر ټيټېدل غواړي، هغه نه شي چلېدلای.
چې څو ورځې ووتلې، شرف الدين شا و خوا مطالعه کړې وه، د حاجي ناظر ورته ترځان بېکاره ښکاره شو، ملا ته يې وويل:
د حاجي ناظر خو زما په خيال د دوو خرو وربشې هم نه شي وېشلای، يو سوړې بوړې سړی دی، نه په څه پوهېږي نه څه ترې جوړېږي. بېډۍ يې ميره شوې ده، چټ ګرځي، غوا نه پيايي، تش په توره باټي کلا خان شوی دی. هم يې قدر کېږي، هم مفته تنخواه اخلي. خوښه دې نه ده چې د حاجي په پوست ورننوځو او دا ناظري ترې ګوتو ته کړو، د کرارې کار دی، پنځه واړه ګوتې به مو په غوړو کې وي .
_اوس لا نوی راغلی يې، نه د حاجي له خوی سره اشنا شوی يې، نه دې د دې سيمې بزګري ليدلې ده، نه د بزګرانو لارې چارې درمعلومې دي، اول به يې حاجي ونه مني، که يې بيا ومني هم ته ورته جوړ نه يې، صبر وکړه، چې ښه بلد شې، سترګې دې سمې وغړېږي بيا به مټې ورته ونغاړو.
_ناظري لا څه کمال دی؟ چې څه حاجي راته وايي هغه به بزګرو ته وايم، چې بزګران په څه کار توښ وي، حال به يې حاجي ته راوړم، دا شوه ناظري، هغه هم ښه ناظري.
_لامبو هم سړي ته په اول نظر دغسې ښکارېږي، چې سړی بل ته وګوري، چې څرنګه پر اوبو ځان وغوړوي او بيا څرنګه لاسونه او پښې ووهي، د دوو ټکيو خبره ده، خو چې د رښتيا ځای راشي،

دومره هم ساده عمل نه وي، ډېر په کې ډوب شوی دی.
_یو خو مې د تا دا ناباوري نه خوښېږي، ناظري دې هم د ملايي غونډې راته ګرانه کړه. چې په شل کاله سبق به زده کېږي، درته وایم چې بې ګودره نه ګډېږم. ډېر سوچ مې په کې وهلی دی، ته ولې ما دومره بې خولې، بې ژبې ګڼې؟!
_زه ستا لپاره وایم هسې نه چې سبا په کې خرمخی شې، صبر کوه د مراد مېوه په صبر پخېږي.
_ته لاس په کار شه، حاجي په تا باوري دی، ما په خدای وسپاره، که خدای کول نه به راباندې شرمېږې.
_بیا هم درته وایم، که ډېر نه وي یو کال غاښ وچیچه، د ناظرۍ چارې څاره، که دې بیا هم ناظري خوښه وه زه درته ولاړ یم .
_په رښتیا چې ملا یې، ملایان ډېر ډارن خلك وي، لوټه به ورته پېچومې ښکارېږي .
_که لوی ملا نه یم، ووړ ملا خامخا یم، خو له ملايي سره جهان دیده هم یم، ډېر وطنونه مې لیدلي او هر کار ته مې لاس اچولی دی. د تجربې له مخې درته وایم، د ډار احساس مې نه درزغوي.
له کافي بحث وروسته شرف الدین قانع شو، چې څه موده نور هم غور ورباندې وکړي. له هغې ورځې وروسته به یې د ناظر کار کسب ته په دقت سره کتل، چې له وظایفو یې پوره خبر شي .

## دریمه برخه

ملا صاحب لا په شلګر کې د خپل کلي ملك ته خپل نوم ورکړی و، ملك لګیا و خپل قوم ته یې د ناقلینو په توګه مځکې غوښتې، په دغو ورځو کې یې کار له پاسه راخلاص شوی و، فرمان یې راوړ، ملا ته یې خبر ورکړ، ملا ورغی څو ورځې د املاکو په مدیریت او مستوفیت کې کښته پورته سره وګرځېدل، مځکې د ارچې په پای کې پاته وې، هغه وروښودل شوې، دوی ورباندې قناعت وکړ، ملك لاړ چې کډې راولي. ملا صاحب خوشحاله کاله ته راستون شو، چې د ملك- پټي خاوند کېده.

میاشت به لا نه وه وتلې چې کډې راورسېدې، څرنګه چې د کورونو د اړولو لپاره په ارچې کې ځای نه و، چا په امام صاحب او چا په چاردره کې واړول. ملك (چې اوس به دوی وکیل صاحب باله) بیا پایڅې بر وهلې چې مځکې وروسپارلې شي، په لږو ورځو کې یې مځکې ورجریب کړې، هر چا پر خپله مځکه قبضه وکړه، ملا صاحب ته هم شل جریبه ابي مځکه ورجریب شوه، ملا صاحب تر خپلې مځکې پوله وګرځوله، چې له نورو سره ګډه نه شي. بیا د بزګر په تلاش کې شو چې د کرنې لپاره یې وروسپاري، په نژدې کلي کې یې بزګر هم وموند، مځکه یې ورتسلیم کړه.
ملا صاحب د خدای تر کوره خوښ و، چې په تېر عمر کې یې مځکه موندلې وه، په هفته کې به یو ځل په خپل زاړه سایکل سپور درته راغی، پر مځکه به وګرځېد، د بزګر کار به یې ولید، له بزګر سره به د هغه په کور کې کښېناست، چای او ډوډۍ به یې ورسره وخوړله، د بزګر خبرې به یې واورېدې او خپل نظر به یې هم وروښود، بیا به ترې لاړه شپه به یې امام صاحب ته ورسوله. په امام صاحب کې یې هم ځینې وطنداران پېژندلي وو، له هغوی سره به یې شپه تېره کړه، په سبا به بېرته چاردرې ته وخوځېد. د چاردرې د ارچې تر پایان ابه لږه لاره نه وه، د موټر د خاوند به هم په هغو کوړو نااوارو لارو وارخطا و، خو ملا صاحب ته هواخوري وه.
د شرف الدین هېڅ کار ته ملا نه ټیټېده، د ناظرۍ خوبونه یې لیدل، ځان، کور او اولاد یې په ملا تاوان وو، خو پټ به په زړه کې ورته پسخېده چې ملا ځان ته امامت پیدا کړی دی، مځکه یې هم لاسته کړه، د ده په غم کې نه دی، دا فکر نه کوي چې دی به څه کوي؟
حاجي د ده هره خبره مني، خو دی دومره نه کوي چې د ناظرۍ خبره تر غوږو ورتېره کړي...
یوه ورځ حاجي صاحب له شرف الدین څخه پوښتنه وکړه:
کله چې ملا صاحب وکیل ته خپل نوم ورکاوه، تا ولې نه ورکاوه،

اوس به تا ته هم شل جريبه مځکه دررسېدلې وای؟!
_ملا زورور سړی دی، ډېر يې له مخه کېږي.
_دا څه د زوروری خبره نه ده، ما چې له ملا صاحب څخه پوښتنه کړې ده، تر اوسه يې ټول ټال دوه دوه نيم زره افغانۍ ورباندې لګېدلې دي. داسې معلومېږي، چې ستاسو وکيل سم سړی دی، بس د مصرف پيسې يې ټولې کړې دي، دومره روپۍ خو به دې په لږ زحمت هم پيدا کړې وې، نورې منډې به هم وکيل درته وهلې.
_حاجي صاحب! يوه خبره دا ده چې زما له مځکې سره نه لګېږي، بله دا چې د ملا مځکه که نن وي که سبا وي، زما ده، نو څه سر خوږوم؟
حاجي په تعجب ورته وويل:
د ملا مځکه څرنګه ستا ده؟!
_ملا خو به تر قيامته نه وي ژوندی، زوړ سړی دی مري به، چې مړ شي ميراث خور يې زه يم، ما ته راپاتې کېږي.
حاجي په ورټ وروکتل، بيا يې وروته وويل:
يعنې تا پخه راوړې ده، ته به نه مرې؟!
_ټول مرو، له مرګه خلاصون نه شته، زه به هم مرم، خو تر ده ډېر کشر يم.
_مرګ په ځوان، په زاړه نه دی، څه پوهېږې چې ته به له مخه مرې که دی؟!
_که زه تر ده مخته شم، دی زوی نه لري، بيا به هم زما اولاد ته پاتېږي، څه زه، څه مې زامن.
_دا درته وايم چې په ژوند اعتبار نه شته، په اولاد هم مه غره کېږه.
خدای پاك ته هرڅه اسان دي، دا دې ډېره بده خبره وکړه، ملا له تا سره ځان خوري، تا يې ميراث ته اړولی دی. په دې خوښ يې چې زوی نه لري، ډېر مې زړه درڅخه تور شو.
شرف الدين چې د حاجي صاحب ناظري ته وړه کړې وه، پوه شو چې د حاجي خوا راڅخه وګرځېده. ژر يې خبره واړوله، ويې ويل:

حاجي صاحب! ما هسې ټوکه کوله، په دې ټوکه مې خپله ناپوهي
پټوله، کنه نو زه نو له ملا پرته څوك لرم، چې ملا نه وي زه څه يم،
مځکه دې اور واخلي، مځکه به څه کوم؟
_داسې ټوکې له بده زړه راوځي .

## څلورمه برخه

.شرف الدين له يوې خوا د حاجي په رموز پوه شوی و، چې له ده
څخه يې بد راغلی و، له بلې خوا به يې کتل چې په ملا يې سخته خوا
بدېږي، هيلې يې نوره هم ساه واخيسته، چې ګوندې د ملا خبره پر
مځکه نه ورغورځوي، په ملا پسې شو چې د ناظرۍ خبره ياده
کړې، ملا مجبور شو په مناسب فرصت کې يې ور وزونګوله.
حاجي ورته وويل:
شرف الدين دی مه رايادوه، نه انسان دی، نه د انسان له څنګه تېر
شوی دی، څوك چې د ورور مرګ له خدايه غواړي، د ميراث لپاره
د ورور د ژوند شپې ورځې شمېري، هغه به د بل څه خير
وغواړي؟!
_حاجي صاحب! نه پوهېږم څرنګه داسې فکر کوئ؟!
حاجي صاحب د شرف الدين کيسه واوروله.
_شرف الدين زما يکي يو ورور دی، ګومان نه کوم چې دومره به
زما په ژوند پکو وي، خو دومره عرض کوم چې له خولې چړپن
سړی دی. کله کله يې چړپ شي تر خولې يې دغسې بېځايه خبره
راووځي.
_زما داسې چړپن ناظر نه دی په کار، چې سبا يې په خوابدۍ شړم،
خير يې په دې کې دی، چې له سره يې ناظر نه وټاکم.
ملا پر دې خبرې برغولی کښېښود، بله موضوع يې رامنځته کړه،
چې د حاجي پام په بله کړي. دا معامله يې کوم مناسب وخت ته
پرېښوده.
څو ورځې ملا صاحب دا خبره نه يادوله، په ناظر پسې يې ځار کاوه
چې عيبونه يې ومومي او بيا د بيزو پرهار ترې جوړ کړي، ګوندې د

حاجي تر پام بد شي. چې د ناظر څه سهل انګاری ورمعلومې شوې، په مناسب فرصت کې به یې په ډېر چل او هنر د ده نیمګړتیاوې د حاجي غوږونو ته ورسولې.
خو حاجي د ناظر په هکله د ملا صاحب خبرې په ډال اخیستې، ده ته داسې ښکارېدله چې ملا د ورور لپاره ترښځ وهي او دېته هم ممکن ورور مجبور کړی وي.
ملا صاحب سربېره پر دې چې د حاجي په خوی بلد و، بیا یې هم له دې خبرې لاس نه اخیست، ټینګه ملا یې ورپسې تړلې وه، چې ناظر راوپرځوي، ناظر هم خبر شوی و، هغه به په ملا صاحب پسې پروپاګند کول، حاجي ته به یې پر ملا خاورې اړولې. خو حاجي په هغه هم پوهېده چې کوم ځای یې خوږېږي؟
دا مسابقه ډېره اوږده شوه، یوه جانب هم بری ونه موند، نه ناظر له ناظرۍ ووت، نه ملا له ملایۍ.
په مني چې ملا صاحب د زکات غله ترلاسه کړه، ارچې ته لاړ، بزګر ته یې د نوي کال لپاره د تخم غنم وروسپارل، څو ورځې یې ورسره تېرې کړې چې د تخم په شیندلو ډاډه شو، لاړ، حاجي صاحب ته یې وویل:
زه چې اوس د خپل ملك پټي خاوند شوم نه امامت ته رسېدګي کولای شم، نه د زکات مستحق یم .ښه به دا وي چې تاسو بل امام وټاکئ او زه یو ازاد مصروفیت پیدا کړم.
حاجي ورسره ومنله، بل امام یې وموند، د ملا صاحب کور لا په هغه کلي کې و، حاجي ورته ویلي وو چې څو دې خپلې خونې نه وي جوړې کړي او په خپله خوښه دې کډه نه وي اخیستې دلته اوسه، هېڅ تشویش مه لره، څوك به څه نه درته وایي.
ملا صاحب چې په معقول عذر امامت پرېښود، د حاجي صاحب تر پام نور هم ښه شو، د شا و خوا کلیو مشران یې وروبلل او دېته یې جوړ کړل، چې په سیمه کې د کلیوالي ښوونځي معلمی ته په ګډه سره ملا صاحب پېشنهاد کړي، په دې توګه ملا صاحب په لنډ وخت کې

معلم صاحب شو.
چې څو ورځې تېرې شوې، ملا صاحب د ښوونځي چپړاسي ته اوبه خړول شروع کړل، اخر یې پلمه ورته جوړه شوه، هغه یې رخصت کړ او پرځای یې شرف الدین وټاکه. شرف الدین ته د کرارۍ کار په لاس ورغلی و، کار یې لږ او معاش یې تر هېڅ ښه و، که به یې چپه حکمونه کول که راسته، ملا صاحب به وربانډې سترګې پټولې. ورو ورو سړی زړور شو، په شتمنو هلکانو یې د میاشتې لس لس افغانۍ او په نورو یې د هفتې دوه دوه هګۍ حواله کړې، هر څو ملا صاحب منع کاوه، شرف الدین نه منل. هلکانو او د هغوی مشرانو هم سر نه پسې ګرځاوه، ځکه چې پخواني چپړاسي هم داسې کول، اوس نو د شرف الدین عواید تر ملا صاحب مخ په ډېرېدو وو، د کلي په څنډه کې یې یوه خونه تشه پیدا کړه او کډه یې وروړه، نور نو د ملا دومره پروادار نه و .ملا هم سر نه ورپسې وګرځاوه.
څرنګه چې ملا صاحب زیرك او له پښو چټك سړی و، په لنډه موده کې له دفتري امورو سره اشنا شو او د معارف ډېر چارواکي یې وپېژندل، چې غرمه به یې ماشومان رخصت کړل، پر سایکل به سپور شو، کندز ته به یې ځان ورساوه، له مفتشانو او د معارف له عمومي مدیر سره به یې ولیدل، خپل مشکلات به یې وربانډې حل کړل، د هغوی لارښوونې به یې واورېدې، د مازیګر لمونځ به یې کلي ته راورساوه. ملا صاحب په ډېر لږ وخت کې ځان په مدیر منلی و، هم ملا و_ هم جهان دیده و_ هم یې څو ژبې زده وې_ هم خوش اوازه و، هم یې د معارف د ترانو لپاره ښې لارښوونې کولای شوې_ هم په خوله، ژبه ډېره فصیحه او بلیغه ورته ښکارېده، هم یې د مسوولیت احساس د قدر وړ و، د معارف مدیر به ویل:
کاشکې مو داسې یو څو تنه استادان لرلای. نو چې ملا صاحب به هر پېشنهاد وکړ، منل کېده به. له ملاصاحب څخه شاګردان او د هغوی پلرونه او مشران هم راضي وو، ځکه چې هم یې درسونو ته

ښه توجه لرله، هم يې حوصله پراخه ساتله. په ځای بېځایه به يې نه
ترټل، نور دوی څه غوښتل؟ ملا صاحب به د تفريح په وخت کې د
شاګردانو د منډو ترړو او شورماشور مخه نه نيوله. اتڼ يې لا ګوښي
ورزده کاوه. د ده ښوونځی په ولايت کې يو نمونه کليوالي ښوونځی
شو، چې د معارف مدير به نورو معلمينو ته د دوی ښوونځی ورپه
ګوته کاوه او ويل به يې زه دا شان ښوونځي او داسې ښوونکي
غواړم.
ملا صاحب چې چاردرۍ ته نوی راغلی و، په پاړسي پوهېده، خو
ژبه يې ښه نه پرې اوښته، ځکه چې د دوی په خواوو کې پاړسي
ژبي څوك نه وو، که وو هغوی هم تر پاړسي پښتو ښه ويله .ده
پاړسي په طالبيني کې د پنج کتاب، ګلستان، بوستان، يوسف زليخا او
سکندرنامې له مخکې په درسي توګه زده کړې وه، نه په کوڅو او
بازارونو کې، اوس چې ورته اړ شو، په لږ وخت کې يې ژبه پرې
واوښته، خو د عاميانه لهجې پرځای به يې ادبي پاړسي په خوله
ورتله. پر دې سربېره يې اکثره جمله بندئ د اردو په شان وه او
يونيم د اردو او انګرېزي توری به يې هم ورګډاوه، له دې امله
مفتشانو او د معارف نورو چارواکو ته د ډېرې ژورې مطالعې خاوند
ښکارېده. په ظاهره يې ډېر احترام کېده او مولينا صاحب به يې باله.
خو چې دی به نه و، مفتشانو او ځينو استادانو به ويل مولينا يې بلا نه
دی، د مدير مرستيال خو به لا ويل:
خدای مې دې غاړې نه بندوي، ما ته خو داسې ښکارېږي چې په
درست بدن کې به يې يو څاڅکی وينه هم افغاني نه وي، رنګ او کړه
وړه به يې لا پر ځای پرېږدو. په افغانانو کې هم سره، سپين او شين
سترګي پيدا کېږي، خو دا له ملايي سره يې کوچيانئ جامې او په
ټکنده غرمه کې شل دوه ويشت کيلومتره په زاړه سايکل لار وهل او
دومره فعاليت يې بې څه نه دي، علاوه پر دې له دومره علم سره چې
په ډېرو ژبو هم پوهېږي، په يوه کليوالي ښوونځي کې څه کوي؟
حتماً تر کاسې لاندې نيمکاسې شته...

درې درې نيمې مياشتې چې يې په ښوونځي کې ووتلې، د کلنۍ ازموينې وخت راورسېد، له مرکزه يې يو مفتش ورسره راوست، د هغه په حضور کې يې په يوه ورځ ازموينه پايته ورسوله، مفتش د معاينې په کتاب کې وليکل:

د محترم مولينا صاحب په توجه د ښوونځي نظم، اداره او تدريسي چارې دومره پرمخ تللې دي، چې سارى يې په کليوالي ښوونځيو کې نه ليدل کېږي، د مولينا صاحب توجه او زيار ته د قدر په سترګه ګورم او په خپلو دندو کې ورته نور هم ډېر برياليتوب غواړم.

کله چې نتايج مديريت ته ورسېدل، له مديريت هم ملا صاحب ته تقديرنامه ورکړاى شوه، اوس نو د ژمي پر مخ رخصتي وه، ملا صاحب خپلو پېښو ته خلاص شو. له حاجي صاحب څخه يې د کرنې او باغدارۍ څه برسېرن معلومات حاصل کړي وو، په هفته کې به يوځل ارچې ته روان و، چې په خپله مځکه يې عملي کړي، د يوه کوچني باغ د ږدولو نيت يې هم لاره، کابو څلور جريبه مځکه يې ورته بېله کړې وه، د بادامو د نيالګيو مرسته ورسره حاجي صاحب منلې وه، دى هم تر هرڅه بادامو ته ډېر هوسېده، ځکه چې په چاردره کې يې ډېر د بادامو باغونه ليدلي وو او هلته په هند او پاکستان کې د بادامو قدر او قيمت ورته معلوم شوى و. د باغ لپاره په جلا کړې مځکه يې وربشې کرلې وې، وربشې چې څلور ګوتې قدر راپورته شوې د رشقې تخم يې ورباندې وشينده، په دې غرض چې وربشې کله ورېبل شي، ځاى به يې رشقې نيولى وي او دا رشقه خو بيا څلور پنځه کاله اړول نه غواړي، هم به مځکه له حاصله نه وې وتلې، هم به بادام ورسره اوبېږي.

ملا صاحب چې به سايکل د امام صاحب او ارچې پر اوږدو لارو سم کړ، په تصور کې به يې د خپلو بادامو ونې ليدې، چې ګلونه يې راوړي وي، مستوونکي عطرونه يې لټېږي او د ده له حواسو سره يې زړه غوښتونکې لوبې راخيستې وي، له تاندو هيلو سره به په خپل باغ کې ګرځېده، خپلې نازولې ونې به يې ليدې چې د ده د زيارونو

او پاملرنو په بدل کې د خپلو شګوفو سپینې وربښمینې پاڼې وربانديږ ښندي.
خپلې بارداره ونې به داسې ورته ښکارېدې چې د ده هرکلي ته يې له احترامه سرونه ټيټ کړي وي. زړه به يې په دې قدرشناسۍ باغ باغ شو، بې ارادې به يې د سايکل پايډلونه په بېړه بېړه اړول چې ژر وروړسېږي. بيا به يې د خپلې مځکې ويالې تر سترګو شوې، چې د سرو- ولو سيوري ته غنګۍ وهي. د کروندې په منځ کې به يې خپل چمبر وربښکاره شو، چې د ده په سپينو خونو يې غېږ راګرځولې، له غله غدويه يې ساتي، د کور مخته به يې د اوبو تالاو او د تالاو په غاړو د پنځه چنارونو غټو تنو او د مغرورو څانګو نظر ورباله، چې پر تالاو او د شا و خوا چوتره يې سيورى غوړولى وي او دى په دې ساړه سيوري کې له يارانو دوستانو سره پر کټونو ناست وي، نه د ا خوشامندو ته اړ وي، نه په يوه ګوله ډوډۍ پسې له کوره ورك ...په دغو تصوراتو به يې اوږدې کوږې نا اوارې لارې په زاړه سايکل داسې رانغښتې چې تا په ويل په پاخه سړك يې بنز موټر په واك کې وي.
د تېر منې سړو بادونو يې هم د تلو راتلو لاره ونه نيوله، درست کليوال به ورته حيران ول، چې خداى خبر ملا صاحب يې له څه شي جوړ کړى دى، چې نه په ووړي بند دى، نه په ژمي. په دې عمر، په داسې زاړه سايکل او په دومره اوږدو کنډو کپړ لارو چې ځي راځي، نه ستړيا پېژني، نه تکليف احساسوي. د دوى حيرت هغه وخت لا ډېر شو چې واوره واورېده، پر مځکه څلور ګوتې واوره پرته وه، د تالاوونو سرونه کنګل پوښلي وو، له هره کوره د اورونو لوګي راالتېدل او خورېدل.
د ماپښين يوه بجه وه، ملا صاحب سايکل راوايست او د ارچې پر لوري وخوځېد، چې ورته کتل به يې بس يو بنيان او د پاسه يې پرې يوه غزنيچۍ پوستينچه اغوستې وه، وړين لاس ماغوګان (دست کشې) يې په لاس کړې او پشمي جورابې يې له څپليو سره په پښو

وې، نور يې هېڅ هم د ځان د پټولو لپاره نه لرل، کليوالو چې هرڅومره ورته وويل چې په دې سپينو واورو او يخه يخنۍ کې مه ځه، خو د ملا صاحب چګ په يوه پښه ولاړ و، هېڅ شي د ده د عزم مخه نه نيوله.
ملا صاحب لاړ، په کندز کې يې خپل ضروريات واخيستل، مخ په حضرت امام صاحب روان شو.
هغه وخت لا لارې کچه وې، په سړك به يې د موټرونو په منډ لار وهله، چې کله به کوم موټر له کومې خوا ورښکاره شو، ملا صاحب به لار ورپرېښوده، چې موټر به تېر شو، بيا به يې سايکل د موټرونو لارې ته راواړاوه، د څلورو بجو شا و خوا د "شيرماهي" دښتې څنډو ته رسېدلی و، لږه لاره پاته وه، چې د امام صاحب ابادۍ سيمې ته ورتېيت شي، دوو لېوانو مخه ورته ونيوله، دی له سايکله ورته کوز شو، سايکل يې د سپر په شان خپلې مخې ته ونيو، له جېب يې تمانچه راوايستله، مرمۍ يې ورتېره کړه، لېوان سره جلا شول، له دوو خواوو پرې راروان شول، ملا کښېناست يوې خوا ته يې سايکل داسې په ځان راکوږ کړ، چې د ارابو لښتۍ يې د لېوه خوله ورپرې نه ږدي، بلې خوا ته يې خپله اخورۍ تمانچه ونيوله، لېوان ورو ورو ورنژدې کېدل، چې څلور پنځه مترۍ ته يې وررورسېدل، ملا صاحب ماشه راکش کړه، ډز شو، له ډز سره دا يو لېوه وولېد، هغه بل لېوه ته مخ ورواړاوه چې د ده څو قدمۍ ته رارسېدلی و، بېرته دېرش څلوېښت کيلومتره په شا لاړ، بيا يې لېدلي لېوه ته وکتل، راپورته شوی و حملې ته يې ځان جوړاوه، خو په بل فير له ټوپه وولېد، دوهمه مرمۍ پر سم ځای لګېدلې وه، لکۍ يې ورو ورو ښوروله، تا به ويل چې ورته وايي نور مې مه وله، روان يم درڅخه ځم، ملا پر هغه بل لېوه هم يو ډز وکړ، مرمۍ خطا شوه خو دومره ډېره هم نه وه خطا شوې، له پښو سره يې ورته ولګېده، څرنګه چې نسبتاً ماړه لېوان وو، ډېر کش و کړپ ته يې ډېره نه لګېده، منډه يې واخيسته او ژر له سترګو غايب شو. وخت

ناوخت او هوا ډېره سړه وه، ملا صاحب ويشتلی لېوه د زنکندن په حال کې پرېښود، خپل مزله ته يې ادامه ورکړه. د ماښام لمونځ يې په اباده سيمه کې د يوه دوست کاله ته ورساوه .
د نوي کال په رانژدې کېدو چې هوا ماته او دښتې زرغونې شوې، په ونو غنو کې د موسم لطف تازه ساه پو کړه، له يوې خوا ښوونځي پرانيستل کېدل، له بلې خوا د باغونو د ړدولو وخت رارسېدلی و، دوه اوونۍ ملا صاحب په ډېرې سترپا تېرې کړې، چې نه يې ښوونځي ته شا وراړولي شوه، نه يې د باغ پر وژه لورېده، چې نيمګړې پاته شي، په ډېرو منډو او ډېرو تلو راتلو يې دواړه چارې ترسره کړې. د ښوونځي درې مياشتنی سکوت مات شوی و، نوي زده کوونکي تر هر کال ډېر شوي او صنفونه ډك وو، تعليمي چارې په خپل وخت پيل شوې. هاخوا ته ملا صاحب خپل باغ ايښی و، نوره کرونده يې هم بده نه وه. په ويالو يې سرې ولې ايښې، حوض يې کيښتلی او چنارونه يې پرې لګولي وو.
ملا صاحب چې به څومره هلې ځلې کولې، څومره به يې اخلاص کاوه، څومره به يې منډې ترړې وهلې، په هغه اندازه به د شا وخوا خلکو ذهنيت ورته اوښت، راز راز خبرې به يې ورپسې کولې، دی هم خبرېدو چې خلك يې پيرنګي يا د پيرنګيانو ايجنټ بولي، خو سر يې نه پسې ګرځاوه، ويل به يې:
خلك به هرڅه هرڅه وايي
زه د اشنا په غېږ کې چا ليدلی يمه
په ورځېرمه کلي کې د حسين خان په نوم يو ځوان و، چې ځانته يې يو څه ويل، لږه ډېره مطالعه يې لرله، چې د يوې ورځې په کار پسې به لاړ درې ورځې به يې تېرولې، په ښار کې يې ډېر خلك پېژندلي وو، له ډېرو خولو به يې ډېر څه واورېدل، چې کلي ته به راغی ډېرې نوې نادرې به ورسره وې، کليوالو ته هوښيار او باخبره سړی معلومېده. په هره موضوع کې به يې بحثونه کول، له دې خبرې به يې خوند اخيست چې د چا په خوله کې خبره وروچه کړي،

قاطع حکمونه به یې کول، هڅه به یې کوله چې د کوم عالم یا هوښیار سړي په نسبت د نورو په ذهنونو کې شك او شبهه پیدا کړای شي، ده خپله لویي د نورو په وړېدو کې لیده، چې هر څوك به نوی کلي ته راغی ده به یې خوله بوی کړه، ځانته به یې معلوم کړ چې په څومره اوبو کې ولاړ دی، که به زیرك، په خبره پوه، خورخولی یا عالم په نظر ورغی له لومړۍ ورځې به یې د هغه د خنثی کولو پروګرام جوړ کړ. لومړی به یې ورسره یارانه جوړه کړه، وړ.غاوه به یې، په خوله کې به نه ورلوېده، ښه مدیان به یې ورکړ، پوره به یې وروسپخاوه، چې کمزورۍ به یې ورمعلومې شوې، بیا به یې د نورو په مخ کې هغه خبرې پرمخ ورموښلې، د سړي تول به یې تر وړۍ سپك کړ. له عالمانو سره به یې هم کله کله خبره شاربله چې کلیوالو ته دا وښیي چې که هغه منلی عالم دی، ده ته هم په واړه نظر مه ګورئ. په داسې بحثونو کې به یې که به ډېر نه و خړې شوې، نورو ته ځان د معلوماتو خاوند معرفي کړي.
کله چې ملا صاحب راغی د حاجي امامت یې ونیو، ده لږ- لږ ځان ورپورې وموښه، خو د ملا صاحب په خبرو یې سر نه خلاصېده، بېرته یې پیڅې ترې ونغښتې، ځانته یې په دې خبرې تسلي ورکوله، چې څه د بل کلي ملا دی، دی پوه شه او امامت یې، لېکن له کله راهیسته چې ښوونځی وروسپارل شو، د ملا صاحب د نفوذ ساحه پراخه شوه، ده د ملا صاحب نفوذ ځانته جدي خطر وباله، بیا یې خپله زړه شېوه ورسره اختیار کړه، لومړی یې ورسره یارانه ټینګه کړه، په پلمه به ښوونځي ته ورتلو چې د ملا صاحب د تدریس په طریقه کې څه خو پیدا کړي، کله به یې مېلمستیا ورته وکړه، له هرې خوا او هرې مسئلې به یې وررږغاوه. څرنګه چې دی حسین خان ته مشکوك او د پردو ایجنټ معلومېده، دغه شان ملا صاحب هم د ده په خوریي ماما کېدو شك اخیستی و، دایې زړه ته لوېدلې وه چې له خولې مې خبرې باسي. په ښکاره یې سوك تر کټوي نه یوست خو ځوابونه به یې په ورین تندي اما په داسې ژبه ورکول، چې

وربانديږ ښاد نه شي. يعنې له شلګرئ پښتو سره به يې پېښورئ او ښوځئ ګډې کړي، د اردو، پنجابي، سرايکي، بنګالي، برمايي، انګرېزي او عربي مرچ مسګاله به يې هم پرې ودوړول. دا يې ځکه داسې کول چې له يوې خوا حسين خان په خپلو معلوماتو شکمن شي او له بلې خوا څه په لاس ور نه شي. کله به چې حسين خان وربانديږ اعتراض وکړ، چې ولې په روانه پښتو ځواب نه ورکوي؟ ملا صاحب به ويل:

علمي ځوابونه په روانه پښتو ممکن نه دي، دا ځکه چې پښتو لنډه، تنګه د پوونده ګانو ژبه ده. څرنګه چې موږ تاسو بېعلم خلك يو، ژبه مو علمي لغتونه او اصطلاحات نه لري، تا دنيا نه ده ليدلې، که دې وليدله، پوه به شې چې زموږ پوهان هم په څه نه دي خبر.

چې سره رخصت به شول، حسين خان به د ملا صاحب ځوابونه تر مطالعې لاندې ونيول. خو هېڅ به هم په لاس نه وو ورغلي. دا به يې ومنله چې په غلبېل کې مې اوبه راوړې دي.

حسين خان صرف دې نتيجې ته رسېدلی و، چې د ملا صاحب پېژندل ګران کار دی، چې ورته ګورې له يوې خوا ډېګر سوړ سړی دی، که څوك ورته ډېره سپکه خبره هم وکړي، د ده تندی نه وربانديږ تريوېږي. ان د مذهب خلاف خبره يې هم نه احساساتي کوي. د ډيموکراسۍ ښېګڼې بيانوي، د ژبې او قلم ازادي غواړي، دا د ملت منلی حق ګڼې چې خپل سرنوشت په خپله وټاکي.... له بلې خوا چې له راډيو څخه قوالي اوري، ورته ژاړي، د پيرئ مريدئ پلوی او د پيرانو سخت اخلاصمند دی، د ځينو اولړوو داسې کرامات منې، چې نه په عقل جوړېږي نه يې شرعي جواز شته. کله بابا نانك او ټېګور هم عارفان او د خدای د لارې خلك بولي، کله يې د نظر دايره دومره وړه شي چې باچا خان هم ورته سم مسلمان نه ښکاري. دا روښن فکري او تاريك بېني يې ورته غيرطبيعي ښکارېدل.

يو دوه ځلې يې د نورو په مخکې له ملا سره ځينې خبرې وشاربلې، خو ملا صاحب هم د ده غوندې په بحث کې له يوه شاخه بل شاخ ته

الوتل ښه زده کړي وو، حسين خان به خپلو ته خړ شو، ملا صاحب به داسې وښووله چې حسين خان خوار لا په څه کې دی، چې دی ورسره منطقي بحث وکړي، هسې د خولې خوند ورسره ښه کېدی شي، دغو شکستونو يې په زړه اور بل کړی و، په ښکاره يې څه نه ويل، پټ يې د غچ اخيستلو سوچونه وهل، خو ملا صاحب ورسره پالله او داسې يې ښووله چې د دوی ترمنځ هېڅ نه دي پېښ شوي، چې دې وضعې به حسين خان نور هم پر سرې تبې ورته کښېناوه، بالاخره يوه ورځ ولسوالۍ ته لاړ، ولسوال ته يې خپله انديښنه ښکاره کړه، چې د دوی د ښوونځي معلم په پوست پاك نه دی، ما ته سور پيرنګی ښکاريږي، خو نه پوهېږم چې څه وظيفه به لري؟
ولسوال ته يې د ملا صاحب خويونه خصلتونه بيان کړل او خپل د شك دلايل يې ورسره وويل، خو ولسوال دومره بې فکره سړی نه و، چې ژر له چتې ووځي، ورته ويې ويل:
ما ته هم په پوست پاك نه ښکاري، خو سند په لاس کې نه لرو. ته هم هڅه کوه، زه هم څار ورپسې کوم، چې له اسنادو سره يې ونيسي، دا دلايل چې تا وويل مستند نه دي، هر انسان ضد او نقيض خصلتونه لري، اکثره روشنفکران په يو وړ تياره کې پراته وي، بلکې که درته وايم ځانته روشنفکر ويل په خپله يو وړ تاريکي او کم بيني ده.
ولسوال څه فکر وکړ، بيا يې وويل:
موضوع مهمه ده، ته ارتباط ورسره ساته، کېدی شي چې سم يې وپېژنې، چې هرڅه يې درته شك پاروونکي ښکاريدل، ما ورباندې خبره وه، ګوندې يو د بل په مرسته دا ګيدړه له غاره راوباسو.
حسين خان ډېر ځان کامياب باله، چې ولسوال ورباندې اعتماد کړی او دومره مهمه وظيفه يې وروسپارله. د ولسوال په هدايت يې بېرته ملا صاحب ته زړه ورګډ کړ، خو دا ځل يې عزت کړی و چې ملا صاحب ته به ځان بلا شرط تسليم ښکاروي او د نورو په مخ کې به خبره نه ورسره پېچي، چې د ملا باور حاصل کړي او د زړه بوخڅه ورته وسپړي. په دې هيله به يې کله- کله بيا ملا صاحب ته

مېلمستیا کوله، دوه په دوه به د نړۍ پر پېښنو او د افغانستان پر حالاتو سره بږغېدل، خو ملا صاحب هم کومې وړې سپړې نه و چیچلی، داسې څه یې په لاس نه ورکول، چې ښه یې وربانده‌ې وشي.
اخر یوه ورځ حسین خان ورته وویل :
ملا صاحب! که دې خوا نه بدېږي، یوه پوښتنه به درڅخه وکړم.
_ولې به مې خوا بدېږي، ډېر خوشحالېږم، چې څوك مې د پوښتنې وړ وبولي!
_د هر سړي د رازونو قلف په یوې کونجۍ خلاصېږي، چې دا د یارۍ او دوستۍ کونجي ده، یعنې که څوك هرڅومره هم د خپل باطن په پټولو ډېر ټینګ وي، د زړه یار ته یې څه له خولې وځي، ځکه چې نه ژوند یوازې کېږي، نه په تنها صورت او یوه فکر د ژوند د پېښنو مقابله ممکنه ده، خو چې ګورم ستا اندروني حالاتو ته لاره موندل ډېرې کونجیانې او ډېر وخت غواړي، ځکه چې ستا ضد او نقیض عادتونه، متضاد افکار او یو له بله مغایر عقاید له سړي لار ورکوي، سړي ته ستا اصلي څېره نه ورښکارېږي، نه پوهېږي چې څه وړ دې تشخیص کړي؟!
_وروروه! دا یو زه نه یم، هر انسان لکه پیاز له پردو جوړ شوی دی، دا پردې دي چې یو شی یې ترې جوړ کړی دی، که پردې ترې واړول شي، هېڅ به هم نه وي.
_انسان څه مجبوریت لري چې ځان په شلو پردو کې پټوي؟
_انسان ځان نه پټوي، بلکې خلقت یې داسې شوی دی، هر سړی لږ یا ډېر د مختلفو عادتونو، اخلاقو، نظریو خاوند دی، چې وخت، زمان او پېښنو وربانده‌ې تحمیل کړي وي، ځکه یې پېژندل مشکل وي .
-نورخلك به هم د ضد و نقیض خویونو، فکرونو خاوندان وي، خو ستا په شان نه!
_دا ځکه چې هغوی لږ ګرځېدلي، لږ یې لیدلي، لږ یې اورېدلي وي. تا به د سپېدارو اره شوې ونه لیدلې وي، چې دننه حلقې حلقې

یا ستا په قول پردې پردې وي، په تنکي نیال چې کال ووځي، یوه نوې حلقه راګرځېدلې وي، په دوهم کال دوه شي، په دربیم کال درې، دغه شان هر کال یوه حلقه ترې راګګرځي، لسم کال ته یې له لسو حلقو څخه پربېره تنه وي، انسان هم درست عمر لکه تنکی مهال په هغه یوه حلقه کې نه پاتېږي. بله دا چې انسان د وربښمو چینجی نه دی، چې په لوی لاس تر ځان تارونه وپېچي. وخت، زمان، مکان، شرایط او ډېر څه انسان په شلو پردو کې نغاړي .دا پټېدل هغسې پټېدل نه دي، لکه ته چې فکر کوې، بلکې داسې دي لکه له یخنۍ چې ځان وپېچي، په داسې پټېدلو که سړی له نورو پټ شي، له ځانه هم پټ شوی وي. نو حقیقت دا دی لکه ته چې ما په کامله توګه نه پېژني، چې زه څه یم، څه کوم، څه غواړم... زه هم ځان نه پېژنم.

چې ملا صاحب لاړ، حسین خان اوربېدلې خبرې له ځان سره وچڼلې، بیا هم څه په لاس نه ورغلل، چې ولسوال یې سند وګڼي

## پنځمه برخه

د ملا صاحب ملکې بد اوازه شوې وې. د معارف په مدیریت کې له مدیر پرته مفتشان، مامورین او ځینې استادان وربانديې بدګمانه ول، په ولسوالۍ کې له ولسواله تر کاتبه درستو ته مشکوك سړی ښکارېده. په شا و خوا کلیو کې هم چا ښه خوله نه ترې وهله، په خپل کلي کې یې یو حاجي صاحب لا په کوټه ولاړ و، نو درستو به ویل :ملا نه امامت ته اړ و، نه معلمۍ یا د ارچې مځکې ته، دلته یې معلمي نیولې او هلته یې د مځکې او باغدارۍ پلمه جوړه کړې ده، په دغو پلمو یې د چاردرې، کندز، امام صاحب او ارچې ترمنځ کښې جار کړی دی، خو خدای ښه پوهېږي، چې څه شی به د چا لپاره اوبي؟

یوه نیم به ملا صاحب د خلکو له دغو اندېښنو خبر هم کړ. ملا صاحب به په سړه سینه ورته وویل :

خدای ته معلومه ده، چې زه څوك یم، څه غواړم او څه مجبوریتونه لرم. د مومن په هکله بدګماني حرامه ده، نور به یې څه نه ویل.

دې ساده ځواب به د هغوی اشتباه نوره هم قوي کړه.
یوه ورځ ناظر حاجي صاحب ته وویل :
په ملا عزیز الدین پسې کلیوال ډېرې خبرې کوي، خدای شته زما زړه یې هم مني، چې که څه په کې نه وای، خلکو به ولې پسې ویل؟
_څه ورپسې وایي؟!
_وایي، ملا په پوست پاك نه دی، داسې ښکاري چې پیرنګی وي، کړه وړه، خوی، ژبه، ناسته، ولاړه یې بل شان دي، ورور یې له رنګه توربخون، د تورو سترګو، تورو وېښتانو خاوند دی، دی سور، سپین، د شنو سترګو او سرو وېګښتو ځښتن دی، دغسې یې خویونه او ږغېداوې دړواخله، نو دابه سړی څرنګه ومني، چې د یوه پلار او یوې مور اولاد دې وي؟
_وایي: د مور نس بوخڅې بوخڅې دی .بوخڅې یې نورې څه وي؟ دغه وي چې د یوې مور او یوه پلار اولاد به وي، خو هېڅ به یې سره ورته نه وي. که اولاد خامخا مور او پلارته ورته کېدای، ټول بنیادمان د یوه بابا اولاد یو، اوس به مو سره پېژندل څرنګه؟! بله خبره لا دا ده چې وایي: پلانکی د پلانکي پر مخ ژوندی شوی دی، ممکن کله چې ماشوم د مور په ګېډه کې ساه مومي، یا شکل مومي، هغه وخت که یې د مور سترګې پر هر چا ولګېدې، ډېره برخه کړه وړه یې هغه ته ورته کېږي، لکه د عکاس کامره، چې عکس اخیستلو ته چمتو کړای شوې وي، په هغه وخت که هر چا یا هر شي ته برابره شوه د هغه عکس اخلي. دا یوه پېچلې علمي مسئله ده، چې نه یې زه شرحه کولای شم، نه ته وربانديې پوهېږې، چې ولې دوه سکني ورونه دومره یو له بله مختلف پیدا کېږي او غبرګولي بیا وګوره څومره سره ورته وي، چې پېژندل یې سره ګران وي. دا د خدای تعالی حکمت دی، دومره بدګماني ښه نه ده!
_حاجي صاحب! ته ښه وایې .خدای مو دې نه وربانديې نیسي، خو ځینې نورې خبرې هم شته، چې سړي ته شك وراچوي، لکه دا چې دوی ته ګورو بس دا دوه ورونه دي، بل نژدې سکنی نه لري، په

دوی کې باید ډېره لورېینه وای، یو په بل ډېر خوږېدای، ډېر سره ګران وای، خو د ملا لا یو څه زړه ورګډېږي، د شرف الدین په اویا رګه یو رګ هم نه ورګډېږي. وینه یې جوش نه ورسره خوري، خلك وايي چې ملا پیرنګی دی، په ده پورې یې لاس نیولی دی، ملا پل غلطوي او هغه بل یې مرستې ته اړ دی، کنه وروري مروري یې نه شته.

_شرف الدین ما ته هم بې حسه او بې مینې بنیادم ښکاري، ګمان کوي که ابا مړ شي، پوستین یې پر ده هم جوړ دی. ځانته نه ګوري چې کوم یې کمال، کوم یې سرېتوب، کوم یې عمل دی چې څوك د سړی په سترګه ورته وګوري. اوس هم لکه کورغ د غنمو له رویه اوبه وررسېږي. که د ملا سترګې پټې شوې، باور نه کوم چې څوك به یې په کلي کې پرېږدي.

ناظر چې د حاجي په نظر پوه شو، ویې ویل:

موږ نو په دومره خبرو نه پوهېږو، د خلکو خبره مې کوله، کنه زما ورسره څه پاته دي، که مسلمان دی، که پیرنګی وي، هرڅوك به خپل ځواب په خپله وايي.

_وايي ډېرې خولې، ډېرې خبرې، خلك چې بېکاره دي، له بېکارۍ د بل عیبونه لټوي، یا عیبونه وربانده‌ې تپي، هوښیارانو دا هم ویلي دي چې له بېکاره خدای بېزاره. حضرت عمر فرمایلي دي، چې: د بېکاره سړي دماغ د شیطان کور دی. تر دې پخه خبره نه شته، بېکاري سړی د بدعملۍ، بدنیتۍ او بدګویۍ لوري ته پورې وهي. بېکاره بنیادم ته نه ښه اخلاق پاتېږي، نه یې مذهبي پابندیو ته پام وي، هر څه چې کوي د شیطان په لمسه یې کوي، ځکه چې دماغ یې د شیطان کور وي، که د نور شرارت مېږه نه و، نو بدګماني او بدګویي خو اسانه چارې دي، هر سړی به ورته مشکوك او په سلو عیبونو پټ ښکارېږي. په هر چا پسې به ږغېږي او هرڅوك به په نه کړیو جرمونو محاکمه کوي، چې له بده مرغه موږ اکثر بېکاره

یو، ځکه په موږ کې د بداخلاقۍ او بددلۍ رنځونه مخ په زیاتېدو دي، د بېکاره ولس خبرې په سلو کې یوه هم د منلو نه وي .

## شپږمه برخه

ملا صاحب به چې د حمل په میاشت کې هرکله فرصت وموند، د حاجي صاحب د بادامو په باغ کې به یې چکر واهه. د بادامو شګوفو ته به یې کتل، د شګوفو له رنګ او بوی څخه به یې خوند اخیست. تر ګلپوشو ونو لاندې ناسته ولاړه به داسې ورته ښکارېده لکه پر کوم قهرمان چې خلك ګلونه شیندي. موټ موټ غوښه به یې اخیسته، ځکه چې ده هم بادام ایښي وو، په تمه و چې که ژوند ورسره نامردي ونه کړي، درې څلور کاله وروسته به یې پر سر د خپلو ونو شګوفې زانګي او د خپل باغ تنکۍ څانګې به وروباندې ګلونه شیندي .

ملا ته حاجي صاحب څو سوه د بادامو نیالګي ورکړي او ده هم ایښي وو، چې هر کله به ورغی، هر نیال به یې په دقت تر نظر تېر کړ، چې وچ شوی نه وي، مال نه وي خوړلی، ماشومانو نه وي ژوبل کړی...

ملا صاحب د خپلو ارمانونو تر سره کېدلو ته لحظه په لحظه نژدې کېده. بادام یې لګېدلی، رشقه یې بوټېدلې وه، د تالاب کار یې هم تمام شوی و. بس د چمبر راګرځول او درې څلور خونې جوړول په کې پاته وو، په تمه و چې ژر د خپل کور او خپل مستقل ژوند خاوند شي، په خپله مځکه به راګرځي، د خپلو ونو پالنه او پوجې به کوي، خپل کښت ته به ګوري، څومره به بختور وي چې نه په شعبو راګرځي، نه د امرانو خوشامندي کوي، نه د ولس اېرغندي تېر غندي اوري. فکر به یې کاوه چې له خیره سره د سږکال حاصلات ورټول کړي، امید دی چې دومره څه ورپاته شي، چې یو ووړ چمبر او په کې درې څلور خونې د ځان او شرف الدین لپاره جوړې کړي، بیا به ورکډه کېږي او ټول طاقت به مځکې او باغونو ته وقف کوي. معلمي به یې په باچهۍ بدله شي. خو شرف الدین په بل خره سپور و، ورځ په ورځ یې ذهن له ملا صاحب څخه فاصله نیوله، وربوز یې

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

ورڅخه کرېده، خبره يې دې حد ته ورسوله، چې کله به د جومات
امام نه و او ملا صاحب به مخته شو، ده به ورپسې اقتدا نه کوله،
چې دې عمل يې د خلکو شکونو بيا په پښو ودرول، سره ويل به يې
که ملا په رښتيا پيرنګی نه وي، اشرف الدين ولې ورپسې لمونځ نه
کوي؟
په ملا پسې دا ډنډوره هم له کلي ووتله، په سيمه کې خوره شوه،
ځينو ملا صاحبانو او معلمانو هم ورسره غبرګې کړې، حسين خان
بيا ولسوال ته راپور ورکړ، ولسوال که څه هم په هوايي خبرو پسې
نه ګرځېده، د مستندو دلايلو په لټه کې و، خو مسلسلو او طلاعاتو
دېته اړ ايست، چې يوه ورځ له ملا سره وګوري او په ډانګ پېيلې
خبرې ورسره وکړي.
په دغو ورځو کې ملا صاحب د ښوونځي د کارونو په سلسله کې
ورغی، ولسوال لاندې باندې ورته وکتل، بيا يې ورته وويل:
رښتيا خبره دا ده چې ما ته هم افغان نه ښکارېږې! د خلکو خبرې
بې څه نه دي.
_خلك مې څه ګڼي؟
_خلك دې انګليس ګڼي!
_خو ته يې نه منې، که څرنګه؟
_ما درته وويل چې ما ته هم افغان نه ښکارې.
_دا په خوله واياست، که مو زړه هم دا منلې چې زه انګرېز يم؟
اوس به زه نه وم درته ولاړ، بلکې ته به مې په خدمت کې ولاړ وې!
ولسوال په دې خبره تاو راتاو شو، څه شېبه يې فکر وکړ، بيا يې
ورته وويل:
ښه وايې، حقيقت هم داسې دی، په رښتيا که ته انګليس وای، اوس به
دې احترام کېده، يو انګليس څه مجبوريت لري، چې دومره ستونزو
ته ځان ورکړي، زموږ لا څه پټ دي، چې د دوی جاسوس راشي؟
مهرباني وکړه، کښېنه!
ملا صاحب کښېناست، ولسوال معافي ترې وغوښتله، ولسوال کار

ورخلاص کړ، ملا صاحب خصت وغوښت، هغه ورته وویل:
ملا صاحب کله- کله راځه چې سره کښېنو.
چې ملا صاحب ووت، ولسوال بیا فکرونو په مخه کړ، ځان ورته ګرم ښکاره شو، چې بې دلیله یې ملا صاحب ته ویلي وو، چې ما ته هم افغان نه ښکارېږي، بیا یې د ملا صاحب ځواب ورپه زړه کړ، چې �که دې زړه هم دا منلای، چې زه پیرنګی یم، اوس به زه نه وم درته ولاړ، بلکې ته به زما په خدمت کې وي�. فکر یې وکړ چې د یوه مشکوك ملا دا ځواب هم یوه برحال ولسوال ته د یوه افغان ځواب نه دی. یو محکوم افغان چې دا یې منلې ده چې د دوو ورځو حاکم د سلو کلونو کور ورانولای شي، کله داسې خبره کوي، دا خبره د اروپایي ذهنیت زېږنده ده. بله دا چې یو پښتون چې بیا ملا هم وي، په داسې تور ډېر ژر سره اوړي، حال دا چې دی ډېر بې تفاوته او په خپلو اعصابو مسلط راته ولاړ و او داسې په تکیه ږغېده، لکه چې هېڅ تور نه وي ورباندې لګېدلی، په هر حال، سړی هم سړی دی، باید ځار ورپسې وشي، خو په حوصله؛ باید تعقیب شي، چې څه کوي او اصلي هدف یې څه دی؟...
ملا صاحب د لارې خشوی نه و، د ولسوال شك یې د خطر زنګ وباله، فکر یې وکړ که پېښې ترې تولوي. د هغه شکونه به یې نور هم زیات کړي وي، که ډېر ورځي، هغه هم بې ضرورته د شك موجبې دي، بهتره به دا وي چې د ښوونځي په امورو کې څه ابتکاراتو ته لاس واچوي او په هره مسئله کې د ولسوال نظر اخیستلو په پلمه ژر ژر ورسره وګوري، په بیا بیا صحبت یې ګوندې شبهې رفعه شي.
درې څلور ورځې وروسته بیا په یوه پلمه ورغی، ولسوال ورسره ډېره ښه وضعه وکړه، ورته ویې ویل:
ملا صاحب! موږ داسې منورو ملا صاحباتو ته ډېر ضرورت لرو .
هیله کوو چې لږ تر لږه په هفته کې یوځل راځه چې له افکارو دې

استفاده وکړو.
_ستاسو حسن نظر دی، د یوه کوچنی ملا به څه افکار وي او څه به يې نظریات وي؟ زما په خپله ډېر زړه غواړي چې ستاسو له هدایاتو ډېر مستفید شم، خو چې ستا لړ وخت او ډېرو کارونو ته ګورم، په زړه کانې واړوم او ډېر مو نه مزاحم کېږي.
_که هرڅومره کار ولرم، ستاسو سره د لیدو وخت پیدا کولای شم.
ولسوال له ځان سره یوه د یاداښت کتابچه ګرځوله، چې په هغه کې به یې د ملا صاحب د خبرو مهم ټکي لیکل، په دې توګه یې د یوه دوامداره پټ تحقیق تاداو ایښی و. په هیله و چې اخر ګوندې هدف ته ورسېږي. ملا صاحب هم د ولسوال له ناڅاپې ښې رویې په زړه خوړلې وه، دا یې وپتېیله چې باید له خولې سره پام وکړي او خپل حرکات کنټرول وساتي.
د دوو استادانو مقابله وه، که ولسوال تعلیم یافته و، ملا صاحب هم ږیره باد ته نه وه سپینه کړې، ډېر هېوادونه یې تر پښو لاندې کړي او ډېرې سړې تودې یې لیدلې وې.
ولسوال د خپل تحقیق تکمیل ته تږی و، په پلمه به یې ورغوښت، ډېر وخت به یې په اضافي خبرو ورسره تېراوه. د ډېرو مرکو او ډېرو لیدو کتو په نتیجه کې د ملا صاحب له برسېرن ژوند ژواك څخه خبر شوی و، پوهېده چې ملا صاحب څو لونې لري، څو وریرونه لري، ورور یې څه کار کوي، یا د ملا صاحب په مځکه سږکال څه کرل شوي دي؟... دغه شان حاجي صاحب ورسره څه مرسته کوي او اوس څو تنه شاګردان لري؟ او دغسې نور... خو د مطلب ټکی په لاس نه و ورغلی، چې هر وخت به یې یاداښتونه له سره لوستل او بیا به یې فکر وربانډې ستړی کړ، د ملا صاحب هویت به لا هغه شان په تور تم کې نغښتی و، شکونه یې نه ورکېدل، نه په یقین بدلېدل.
ولسوال د پکتیا ولایت د یوې لویې کورنۍ غړی او په عین حال کې د حقوقو لیسانسه هم و، د مختلفو قومونو جرګې مرکې او ناسته ولاړه

يې ليدلې وه، د پښتنو د ډېرو ولسونو له دود، دستور او لهجو سره اشنا و، ملا ورته په هېڅ چوکاټ کې برابر نه ښکارېده، صرف پوښ يې کوچياني و. نور يې هېڅ هغوی ته ورته نه وو، د لهجې بدلون او نور اوضاع او حرکات به يې په دې حمل کړل چې ډېر عمر يې په بهرنيو هېوادونو کې تېر کړی او له خپلو خلکو ليرې پاته شوی دی، د پردو اثرات ورباندې پاته شوي دي. هغه يو عمر قبول کړي اثرات به اوس په سپينه ږيره نه شي ليرې کولای، خو چې سوړ مزاج او قوي اعصاب به يې ورپه ياد شول، بيا به ورته بل څوك ښکاره شو. اخر يې دا غوره وګڼله چې ليده کاته ورسره د رسمياتو له چوکاټه وباسي، د مېز له شا صحبت که هرڅو دوستانه وي د دوی په منځ کې فاصله ساتي، بايد کور ته يې راوبولم، چې هلته نه مزاحم وي او نه دی دا احساس وکړي، چې ولسوال ته مخامخ ناست يم. هغه وو چې بله ورځ يې تر غرمې وټالاوه، غرمه يې له ځان سره ډوډۍ ته بوت، له هغه هيسته به چې هرکله ملا صاحب ورغی، د غرمې ډوډۍ به يې ورباندې خوړله، له هرې خوا به يې ورږغاوه، داسې به يې ورښوول‌ه چې ګڼې دی د هندوستان معلوماتو ته تږی دی، ملا صاحب به هم د هغې خوا کيسې ورته کولې، د هند او برما له دودونو، دستورونو او مختلفو عقايدو به ورته ږغېده، په هند کې به يې د مسلمانانو د بدې ورځې حال وايه، خو په عين حال کې به يې د اقبال، مولانا ازاد، سرسيد احمد خان سره د ګاندي او نهرو لږقت، قربانۍ او پېرزوينې هم نه هېرولې، خصوصاً د ګاندي شخصيت به يې ډېر ستايه.

چې ولسوال به دا خبرې تحليل کړې، بيا به په دوه کې ورك شو، چې له يوې خوا ملا صاحب راته د هند د مسلمانانو بده ورځ ژاړي، له بلې خوا د مسلمانانو د مشرانو په لړ کې د هندو لږرانو ستاينه کوي، چې که په هندي مسلمانانو واقعاً بده ورځ راغلې وي، بايد د يوه مسلمان په صفت له دوی انګېرل شوې وای، حتماً ملا د هندوانو د تبليغاتو تر اثر لاندې راغلی دی، اشتباه به يې څه قدر رفعه شوه، خو

چې دېته به يې پام واوښت چې دا درست مشران چې دی يې ستايي، د برطانيې دښمنان او د نيمقارې د ازادۍ سرکښان وو، که دی برطانوي وای، اقلاً ستايل خو به يې نه، بيا به يې په خپل شکمن زړه شك پيدا شو. خو ژر به يې دا خبره هم د ملا صاحب د زيرکۍ نخښه وبلله او له ځان سره به يې وويل:
اوس چې هند او پاکستان ازاد شوي دي، که د هندو پاك د ازادۍ د لارې علمبرداران وستايل شي، انګرېز ته څه تاوان لري، که وغندل شي، د برطانيې به په کې څه ګټه وي، بلکې ستايل يې د يوه انګرېز له خوا د هغوی حق بيني ثابتوي.
ملا صاحب هم له ولسوال سره ډېرو مرکو دې نتيجې ته رسولی و، چې د ولسوال شك لا نه دی ختلی، خو دې خبرې تسلي ورکوله چې ولسوال د يوه لوی کاله غړی او ورسره يو ډيموکرات سړی دی، ژر خبره له ګنډلو نه باسي، نو فوري خطر نه دی ورته متوجه.
چې عام ولس د ملا صاحب ارتباطات له ولسوال سره وليدل او په دې هم خبر شول، چې اکثره ډوډۍ هم له ولسوال سره خوري، د ملا صاحب له مخالفته يې لاسونه واخيستل، هرځای به يې احترام کېده.
ولسوال په دغه سلسله کې يو مازيګر د حاجي صاحب کره هم ورغی، له يوې خوا بلې خوا سره ږغېدل. ده ورو ورو خبره راوسته، راوسته، په ملا يې راسمه کړه، لومړی يې د ملا صاحب د فعاليت او علميت تعريفونه وکړل، با يې سوکه وروزونګوله: حاجي صاحب! ملا صاحب خو له تاسو سره ډېر وخت تېر کړ، تاسو ته به تر نورو ښه معلوم شوی وي، چې دی اصلاً د کوم ځای او څه وړ سړی دی؟ له خلکو خو ډېرې ګډې وډې اورم څوك يې د پاکستان جاسوس ګڼي، څوك يې د برطانيې جاسوس بولي او ځيني لا وايي چې په ختېه هم پيرنګی دی. زه يې هم چې رنګ، کړه وړه، خوی، خصلت او ژبې ته ګورم زړه مې راته وايي چې ممکن دا اوازې دومره بې څه هم نه وي. خو شك مې په يقين نه دی بدل شوی، تاسو ته څه وړ ښکاره شوی دی؟!

_خلك دې وويل، خلك په دوو برخو وېشلای شو، یوه ډله یې نسبتاً عالمان، په خبرو پوه، خولور، له ځانه راضي خو په عین حال کې بېکاره خلك دي، د دوی خولې د خدای نغارې نه، بلکې د شیطان سورنۍ دي، چې همېشه بدې اوازې خپروي او د خلکو د تحریکولو او د رقیبانو له سپکولو او ځورولو خوند اخلي.
بله ډله یې چې د ولس اکثریت دی کارونه لري، خو عقلونه نه لري، د دوی په مغزو کې هېڅ خبره په اسانۍ سره ځای نه مومي، چې ویې نیو بیا یې ترې ایستل له محالاتو دي، ډېرې ستونزې او ډېر دقت غواړي.
د ملا په حق کې لومړۍ ډلې ظلم کړی دی او دویمه ډله خو مې وویل چې معذوره ده، کنه ملا پښتون، مسلمان او ورسره یوه اندازه عالم هم دی، په شلګر کې یې مېګنه معلومه ده، ورور یې ورسره دی او له تربورونو او کلیوالو سره یې په ارچې کې مځکه نیولې. د مځکې په ابادولو توښ دی. دا چې خوی، بوی، کړه وړه او لهجه یې بدله ده، زمان، مکان او شرایط هرڅوك بدلوي، څوك لږ، څوك ډېر، مثلاً دا اوس ستاسو ژبه، لباس او ځینې عادتونه کله د پکتیا د اوسېدونکو په شان دي؟ ښاري ژوند، تعلیم او رسمي وظیفې بدل کړي یاست.
ولسوال وویل: زه هم دغسې فکر کوم، هسې مې د خلکو خبره درته کوله، هیله کوم چې ملا صاحب ته دغه خبره نه وکړئ، ملا صاحب ښه سړی دی، خوابدی به شي، خوابدي یې نه غواړم .

### اوومه برخه

ځاښت مهال و، حاجي صاحب په خپله مهمانخانه کې تکیه وهلې او پښې یې غزولې وې، نه یې مېلمه درلود، نه یې د مطالعې لپاره کوم کتاب ورسره رااخیستی و، خدای خبر چې فکر به یې په څلور کنجه نړۍ څو دورې خوړلې وي؟ ملا صاحب ور ورخلاص کړ، له سلام و علیك وروسته ملا صاحب ورته وویل:
حاجي صاحبه! لکه چې په چورتونو کې دې دروختم؟

_نه څه خاص چورت مې نه واهه، فکر لا ښه دی سړی یوازې نه پرېږدي.
_څه فکر مو کاوه؟
_چورتونو ځایونه سره بدلول، مشغول کړی یې وم، خو خبر نه یم چې په څه؟
_چې عمر مخ په ځوړ شي، د انسان جسماني قوه کمزورې کېږي، نه پوهېږم چې زړښت په دماغي قوه هم اثر کوي، که څنګه؟!
_ولې نه؟!
_له یوې خوا دا خبره کېږي چې سپین ږیري په ډېر څه پوهېږي، عقل یې پوخ شوی وي، مشوره یې صایبه وي، له بلې خوا چې زړښت وجود کمزوری کوي، نو دماغ څه پخه راوړې ده؟!
_د سپین ږیرو مشوره ځکه ضروري ده، چې هغوی ډېر څه لیدلي او اورېدلي وي، تجربې لري، په دماغ کې یې ډېرې پخې خبرې پرتې وي، خو فکر په زړښت کې کمزوری کېږي. د زاړه په سر کې مزاحم چورتونه او فکرونه ډېر وي، خو لنډ راګرځي، په بله سر شي، یعنې کهولت انسان بېرته د ماشوموالي دوران ته ستنوي، طفل ته ګوره چې هره لحظه یې یوه هوا او هر دم یې بل هوس وي، د فکر بدلون یې یو هوس هم ترسره کېدو ته نه پرېږدي. زاړه هم چې لویې مسئلې ته فکر وګوماري، سل اندېښنې نورې ورپیدا شي، په نتیجه کې یوه هم سمه نه وي حل شوې.
_د زړښت عمر به د عذاب عمر وي، که څرنګه؟
_دومره بد هم نه وي (په موسکا یې وویل) د زړبودۍ له ګټو یوه دا ده چې که کرۍ ورځ څملې، څوك دې لټ نه بلوي.
په دې خبره دواړو سره وخندل.
بیا ملا صاحب وپوښتل: چې هر چا ته ګورم د مشرۍ او رهبرۍ خواهشمند وي، چې په مشرۍ او رهبرۍ کې به څومره خوند وي؟
_چې د کشرانو خولې خلاصې دي، تر مشرتوب لوی مصیبت نه شته.

_څه فکر کوئ ملي لړ.ران به واقعاً زړور وي، که به د زړورتوب مظاهره کوي؟
_د لکونو خلکو خولو ته ځان اچول لوی زړه غواړي.
_ستاسو په خیال ښه قانون کوم دی؟
_همېشه هغه قانون په زړه پورې وي، چې موږ ته متوجه نه وي.
_ښه سیاستمدار کوم صفات باید ولري؟
_لایق سیاستمدار هغه دی، چې د ولس کمزوري ښه پېژني او د ملي قهرمانۍ لقب اکثر د هغوی په برخه کېږي، چې د مسوولیت احساس نه لري.
_یوه پوښتنه کوم، هغه دا چې: نن سبا د ښو تول او د بدو پېغور ورك دی، هر څوك ځینو ته ښه وایي، چې نور یې ښه نه ګڼي، د ښو معیار ولې دومره متفاوت دی؟
_دا د بشر غریزه ده، ښه خلك هغوی ته وایو چې په موږ پسې ځي او لوی خلك هغوی ته چې موږ ورپسې روان یو.
په دغه وخت خانګی دم خونې ته ورننووت، د حجامت بکس یې په لاس کې و، ویې ویل:
باداره! نن مې وکتل، چې څوك مېلمه نه شته، ما ویل د حجامت لپاره به مو مناسب وخت وي.
حاجي په خپل ځای کې راکښېناست او ویې ویل، ښه خبره ده، تیار یم!
دم لاس په کار شو، چې د حاجي صاحب د سر او ږیرې وېښته ورلنډ کړي، ملا صاحب هم لازمه نه بلله چې حاجي صاحب د غوڅ شویو وېښتو تر باران لاندې وروږغوي، په خونه د سکوت خپسکه پرېوته، دم پټه خوله لګیا و، د بیاتي غچکي اوربدل کېدل او بس.
خان ګل دم له رنګه تور بخون، په ونه میانه، له جوسې وچوړکی، د پاخه عمر خاوند و، یو درجن لونه زامن یې لرل، چې په ډول او بیاتي یې پالل. دا څووم کال و چې دی د شا وخوا کلیو مشرانو د دم په حیث منلی و، په کلیو کې دمان د ولس خدمتګاران وي، حجامتونه

کوي، ډول وهي او چې د چا کره غم يا ښادي وي بې مزده خدمت هم کوي، په مقابل کې کليوال (هغه چې څه لري) هر يو د کال څه غله دانه يا ورسره څه نغدې روپۍ هم ورکوي. پر دې سربېره يې په ښاديو کې کافي برخه وي. څرنګه چې په نژدې سيمه کې بل ډم نه و، پرديو کليو به هم خپلو ودونو ته ورغوښت، په پرديو کليو کې يې هم ښه غريبي کېده، خصوصاً په رمه والو کوچيانو کې، خانګل ځومره چې ښه خدمتګار و، هغومره يې ښه پسته ژبه هم لرله، په جار و قربان به يې مشران او کشران درست له ځانه راضي ساتل.
کور يې دلته د حاجي صاحب په کلي کې د ملا صاحب د کاله خوا ته و.
کله چې ځينو کليوالو په ملا صاحب پسې خولې وازې کړې، خانګل داسې ځان کوڼ واړاوه، چې تا به ويل له سره څه اوري نه. له دې امله د ملا هم ورسره جوړه وه، ملا ته له حاجي پرته د بل چا د مرستې ضرورت نه و، خو بې‌طرفه بنيادم يې خپل هډ وزر باله.
حاجي صاحب د نورو مشرانو پرخلاف نسل، نژاد، هستي او مقام ته په ارزښت نه و قايل، بلکې د انسان اخلاق او موثريت ورته مهمه و، د کار او کسب خاوندانو ته به يې په ښه نظر کتل، په دغه سلسله کې خانګی ډم هم چې نورو به خانګی باله، د حاجي تر پام ښه و.
کله چې د حاجي صاحب حجامت خلاص شو، خانګل د خپل سامان په ټولولو لګيا و، ملا صاحب له حاجي صاحب څخه پوښتنه وکړه:
حاجي صاحب! د پښتنو هره طايفه د دوی خپل ډمان لري، چې له نيکونو برجدونو راپه دېخوا د خپل ولس خدمت کوي، ايا دوی د هغو طايفو اصلي غړي دي، که ځانته کوم قام دی؟ که ځانته قام وي، په چا به ګډېږي؟!
_ممکن د هر قام ډمان به د هغه قام غړي وي، چې پخوانيو يې د قام د خدمت لپاره دغه پېشه غوره کړې وي، يا ښايي ځانته طايفه وي او خپلې پيسې پر قومونو وېشلې وي، په يقين سره څه نه شم ويلای، خو دوی په خپله ځانونه د غوري سلطانانو له اولادې ګڼي او ځانونه

د غور شهزادګان بولي. په هر حال، زموږ ورونه دي، موږ يې له ځانه پردي نه ګڼو، زموږ او د دوی په منځ کې بس دغه توپير دی، چې موږ د ځان خدمت ته ملا تړلې وي، دوی د ولس خدمت ته،ډم ته په سپکه سترګه کتل ناپوهي ده، جهل او لټي موږ بې کسبه، بې کماله پرې ايښي يو. نه ډم سيال ګڼو، نه جولا، نه پښ ته په درنه سترګه ګورو نه ترکاڼ ته، حال دا چې دوی کسبګر دی او موږ بې کسب او بې کماله، نو بايد دوی ته په ښه نظر وګورو...
ملا صاحب هم ورسره غبرګه کړه، چې په اسلام کې د نسل، نژاد، تور او سپين فرق نه شته، درست انسانان مساوي حقوق لري، د خدای پاك په حضور کې تقوی مهمه ده، نه نسل او ذات، بله خبره لا دا ده چې رسول اکرم هم فرمايلي دي، چې کسبګر د خدای دوست دی. نو موږ هم بايد د کسبګر احترام وکړو.
خانګل ته دې خبرو خوند ورکړ، د دې پرځای چې په خپل کسب وشرمېږي، او نور هم د خلکو خدمت ته ملا ټينګه وتړي، هوا يې بدله شوه، عام ولس ته به يې کتل، چې ډم ته د سيال په سترګه نه ګوري، حال دا چې دی د حاجي صاحب په قول، د غور شهزاده او د ملا صاحب په وينا د خدای دوست دی، بايد ځان له دې سپکې وژغوري.
د خانګي له ذهنه د کمترۍ احساس کډه اخيسته او پرځای يې د اشرافيت غرور اړول، ډېر ځله به يې له ځان سره وپټېيله چې که له ډول او بياتي لاس واخلي، کوم بل کار کسب ځانته پيدا کړي، په دې توګه به ممکن د ډمتوب سپك نوم له ځانه ليرې کړي، خو تش لاس يې دښمن و. نه يې سرمايه لرله، چې وربانديې د جايدادونو خاوند شي، نه يې بل کار کسب زده و، نه يې د ډول او بياتي ګټه په بله مزدورۍ کې ليده. مجبور و چې غاښ وچيچي او تقدير ته غاړه کښېږدي.
د خانګل لا په هر حال دومره له ډمتوبه ورټ نه کېده، مېرمن او لوڼه يې کافي عوايد و، بې ميو مستي کړې وې، چې کتل به يې تر

ټولو ښه خوري، ښه اغوندي، بیا هم له سیالۍ وتلې او ډمانې بلل کېږي، همېشه به یې خانګل ته ځغونځي و، چې مګر بل کار نه شته، چې په سیالانو مو ګډ کړي، د نورو ښځو او لوڼو ته وګوره، د خوړو پختن لا پرېږده، په خوړلو به یې نه پوهېږي، خو موږ به سیالي نه ګڼي، دا ټولې چارې د ډول میرات مړي دي.
خانګل په دوه کې ورك و. له یوې خوا یې له کوره تر اوره د لوڼو دغه اوږد ځرخي او ورسره دده په سر کې هم د بلې هوا لګېدل، له بله پلوه د دومره عوایدو له لاسه ورکول هغه هم په سپېږه میدان حیران کړی و، چې څه وکړي.
لوڼو ته یې چې تر اکثرو جایداد لرونکو ښه رسېدل، همېشه یې له خوبه خوړلې او له خوبه ځښلي وو. دا ګومان یې نه کاوه چې که یې پلار ډول له غاړې واچوي، بیا به دا بنګي بوزۍ نه وررسېږي، بلکې دا فکر یې کاوه چې پر دومره ښه ژوند سربېره که مو پلار ډم ګرۍ ته شا کړي، په درست ولس کې به د ټولو نوکران او بې ارزښته ډمان نه یو.
د خانګل مېرمن هم غوښتل چې دا غړوندی واچوي، خو ورسره دا فکر هم و، چې لومړی باید بله داسې ذریعه پیدا کړي، چې ګوزاره یې ورباندې وشي. په بحثونو کې به یې د لوڼو ملا تړله، خو دا به یې هم ورسره ویل: پلار تر خوږ ګوته مه نیسئ، لږ یې ساړه خورئ، خیر یې غواړئ، له پلاره، له نیکه چې مو دا کسب کړی دی، څو ورځې به یې نور هم وکړو. وګورو که چېرې د ملا صاحب غوندې د ناقلو په ډله کې پنځه پټیه مځکه په لاس راغله، د خانی چل موږ ته لا ښه راځي. خاني لا څه ده؟ چې ښه خورې، ښه اغوندې، خو چې د ډول او د بیاتي له لارې نه وي، هرڅوك به دې عزت کوي.
خانګل د کور بحثونو په اندېښنو کې ډوب کړی و. نه پوهېده چې څه وکړي، د خپلې مېرمنې خبره یې په زړه لګېدلې وه، خو د مځکې لاس ته راوړل هم د هر چا کار نه و، ملا صاحب ورته هوښیار او د خیر سړی ښکارېده. ملا صاحب ته یې ډوډۍ وکړه، چې

ښه غوړ پلاو يې له سره کړي چرګ سره ورته کښېښود. د خوراك په ترڅ کې يې ملا صاحب ته کيسه وکړه او د هغه نظر يې وغوښت.
_نه کسب په اسلام کې غندل شوی، نه په ننني نړۍ کې چا ته عيب ښکارېږي، زموږ ځيني خلك که درته د سيال په سترګه نه ګوري، بې علم او بې کماله خلك دي. سوکه سوکه به وپوهېږي، حوصله کوه، دا ډوډۍ چې نن سبا له دې لارې دررسېږي، له بلې لارې به يې خدايزده چې مومې، کور دې ګڼ دی او په ښو خوړو هم روږدي شوي ياست، بل به څه کار وکړې، چې کور ورباندې وچلوې؟ نه د تجارت سرمايه او تجربه لرې، نه ملك پټی، د کلي په واړه دکان کې به څو وګټې چې ستا د اولاد ضروريات به ورباندې پوره شي؟...
_زه هم چې ګورم اسمان لوړ دی او مځکه کلکه، پلرونه مې دې اوس خدای وبخښي، موږ ته يې دغه ډول او بياتي ګانې په ميراث کې راپرې ايښي دي. د کور له خوا ډېر مجبورېږم، کنه زه لا ډمتوب دومره ځانته شرم نه ګڼم، سملاسي خو مې د کور پرده ورباندې خوندي ده، خو هغوی راته وايي چې دا غړوندی له غاړې وباسه، چې موږ هم په سيالانو ګډ شو.
_که دې کار ته شا کړې، ژوند به دې هم تريخ شي، نه به پلاو دررسېږي، نه چرګان، اولاد به دې دغه اوسنۍ مزې غواړي، ته به وچه سپوره ډوډۍ نه شې ورته برابرولای.
_که ستاسو غوندې کور کومه مځکه په لاس راشي، بيا به څرنګه وي؟
_هو، بيا به ښه شي، خو هغه هم په دې شرط چې څو دې مځکه ابادېږي، باغونه دې رسېږي، کور دې جوړېږي، ته دا پېښه ورسره جاري وساتې، يا دا چې له ښو خوړو او ښويو جامو لاس په سر شئ.
خانګل څه چورت وواهه، بيا يې وويل:
دا هم ګرانه ده، نه مو سپوره تر ستوني تېرېږي، نه د سپما چل راځي، بيا هم مځکه ښه شی ده، نه پوهېږم څرنګه به لاس ته

راشي؟
_د محکمې لاس ته راوړل هم ډېر مصرف غواړي، هم ډېرې منډې او اوږد انتظار.
_تاسو ته خو ژر په لاس درغله.
_هو ما ته بې تکليفه او ژر په لاس راغله، دليل يې دا دی چې يو خو زموږ وکيل د خير سړی و، پنځه سره ګوتې يې په خوله نه منډلې، چې د محکمې په تمه مو بيا ورونښتېځي، موږ ته ژر په لاس راغله، دا داسې محکه نه وه چې نورو منلې وای، هم د درست ارچې پايان اب ده چې د ضرورت په وخت يې اوبه لږې وې، هم يې خاوره ډبرينه ده، په ډبرينو محکو کې نه کار ښه کېږي، نه کښت سمه وده کوي، چې زما محکې ته ورشې، وبه ګورې چې څومره ډبرې مو راټولې کړې او پولې مو ترې جوړې کړې دي؟ علاوه پر دې زه يې نور حاصل ته په تمه نه يم، ما له حاجي صاحب څخه اورېدلي وو چې ويل يې په ډبرينه محکه کې بادام ښه کېږي، ځکه چې بادام په خپله غرنۍ ونه ده، زه په دې فکر کې يم چې ورو ورو درسته محکه بادام باغ کړم.
له هغې ورځې په هيسته به خانګل له هر چا پوښتنه کوله، چې بيا کوم وکيل د محکې امر راوړی دی که نه؟ دا ورته ملا صاحب ويلي وو چې وکيلان، د پنځو روپو په بدل کې په بل نامه غير مستحق سړي ته هم د بل چا استحقاق ورکوي، يعنې په ليسټ کې د شربت نوم وي، د خانګل نوم شربت خان کړي، اصلي شربت خان پرځای پاتې وي، حق يې خانګل ته سپارل شوی وي.
خانګل په دې خبره لا غوږېدلی و، ځکه چې نوم يې هم بدلېده .

## اتمه برخه

د دوبي ځله وه، هوا توده او تربت وه، لمر په محکه خولې لګولې، په هرچا رونې خولې راماتې وې، د شمال وزرونه به تا ويل چې چا ورتړلي دي، پاڼه هم نه رپېده، خانګي په کور کې پښې غزولې وې.
نن يې چېرته د خدمت وار نه و، لوږه او زامن ورباندې راټول شوي

وو، چا څه غوښتل، چا څه.
خانګی ګڼو فرمایشونو له یوې خوا، ګرمي له بلې خوا او خپل تش جیب لا ګوښي څوراوه. په اوړي کوز دې، ودونه سړې هوا ته ټال شوي وي، کندهاري پووندګان هم ایلاغ ته ختلي وي، په مني او په ژمي د ده جېبونه نه تشېږي، هم کلیوالو حاصلات اخیستي وي، ښه لاس ورته نیسي، هم کوچیان پرځای وي، د کوز دو ودو وخت یې وي، ده ته په هر واده کې ښې پیسې ورکوي، اوس یوه خوا هم نه وه، خو دده لوڼو زامنو وخت نه پېژانده، نه پوهېده چې د دوی ناغېړیو ته څه ووایي؟
په دغه وخت ورخلاص شو، چې ویې کتل، د ده مشر ورور وزیرګل و، په خوشحالۍ ورپاڅېد، دوی دواړو دا څو کاله نه وو سره لیدلي، وزیرګل په شاه جوی کې اوسېده، دوی دلته، په ډېرې مینې یې روغبړ سره وکړ، یو د بل په لیدو ډېر خوښ شول، چې پوښتنه یې سره وکړه، کورونو ته یې هم خیر و، ورځ یې په خندا او خوشحالۍ سره تېره کړه.
ماسخوتن وزیرګل سوکه ور وډنګوله چې که مې ور ورېښئ، په ورورې مې نه شرمېږې، نازنینه به حسن ګل ته راکړې، زه په دې سره دوبي صرف دغې خبرې ته درته راغلی یم.
خانګی ناڅاپه ګیر راغلی و، خوله یې ورته وڅېوله، وزیرګل ټینګ و، چې یا به هو راته وایې یا به یې سمه راسره پرې کوې، چې نه مې ورور یې، نه دې ورور بولم.
_لالا! ولې یې له سرې تبې دراخلې! کراره ده، خیر یې غواړه، څو ورځې به زموږ ژوند ژواك وګورې، وطن به ووینې، ساه به جوړه کړې، بیا به په کراره سره وږغېږو، د قسمت خبرې دي، که یې قلم سره وهلی شوی و، له تا به ولې غاړه غړوم، که نه و وهلی بیا نو نه ته تقدیر بدلولای شې، نه زه.
_بېشکه تقدیر څوك نه شي بدلولای. خو زه ډارېږم چې تر موږ نظر نه واړوې، ځکه چې اوس زه ستاسې ژوند ژواك ته ګورم، راته

په بده هوا کې ښکارېګړئ، که دې خوښه نه وي بېځايه مې په ګرمۍ مه وهه !
خانګی په خوشامندو څو ورځې مهلت ترې واخيست، چې په کور کې سلا وکړي، وزيرګل سبا ته لاړ، چې د امام صاحب زيارت وکړي او تر هغه وخت چې دوی سلا کوي، دی به د امام صاحب او ارچې په وطندارانو يو چکر راوګرځي.
هغه لاړ، خانګی له ښځې سره سلا کوله، ښځې، لوڼو او زامنو يې سړی سره خوله خوله کړ، چې موږ له ډمتوبه تښتو، ته مو بيا ورته ترې؟ که تا ته بل کار نه موندېږي، په لوڼو به دې مې‌ږه نه وي درېدلی. پرېږده چې يو بل مسلمان پيدا شي، که له ورور سره ورورې ټينګوې، په لوڼو يې مه ټينګوه، که يې ورورې درسره پاللـه، بې له دې به يې هم درسره وپالي، که يې نه پاللـه، پلمې ډېرې دي نو اولاد ولې خواروې؟...!
خانګی خوار په دوو لارو کې حيران و، چې په کومه لاړ شي، که د دوی مني ورور ته به څه وايي؟ هغه خو سمه دمه کرښه ورته ايستلې ده، له وروره يې لاس خېژي. که هغه ته هو کوي، د کور بدې ورپه غاړه کېږي، برسېره پر بدي، بد هم نه وايي دا خپلوي خو يې په ډمتوب بل هېڅ هم ټك وهي، بيا به څرنګه ترې خلاصېږي؟...
بله ورځ چې وزيرګل راغی، ده معافي ترې وغوښته، هغه دليل ترې وغوښت، چې ولې سيال دې نه يم، ورور دې نه يم، زوی مې رنځور غاړی، پك پمن، يا لېونی دی، که څه بله خبره ده؟....
خانګي په ماته خوله ورته وويل :
خدای دې نه کوي، په هېڅ هم نه دی، خو قسمت به نه وي .
له څه بحث وروسته وزير ګل پوه شو چې د ښځې يې خوښه نه ده، پنډه يې ورواخيستله او بې خدای په امانۍ ورڅخه لاړ.
خانګی وروسته خبر شو چې بېرته شاه جوی ته نه دی تللی، بلکې په نژدې کليو کې ځانته د کور ځای او ورسره ډمګري غواړي. ځينو

خلکو چې ورسره ومنله، په درستو خلکو پسې نه وګرځېد، لاړ او کډه یې راوستله، د وزیرګل زوی حسین ګل زلمی و، هم په ډول کې تر خانګي تکړه و، هم په خدمت کې، هم یې حجامت ښه زده کړی و، په لږ وخت کې یې نیم ولس له خانګي واړاوه، چې کله د کډوالو کډې له ایلاغه راورسېدې، د هغوی ودونو ته یې هم لار وموندله، هغه روزې یې هم ډېره برخه ترې کنډو کړه، خانګي ته د ورور خیر نه ورسېد، خو چې په خپل ګرېوان کې به یې وکتل، ده هم نه و ورپورې کتلي، د خانګي ښځې به خانګي ته ویل:
دا یې ستا ورور، وطن دې ورپرېښود، په هغه موړ نه شو، دلته درپسې راغی، ستا په رزق چو شو، تا لا لور هم ورکوله.
خانګل ځواب نه درلوده، هم ځان ورته پړ ښکارېده، هم هغه ښه نه و کړی، کله به یې دا متل په زړه شو، چې وایي: زه او ته یو، له یوه نسله، زه اصیل شوم، ته کم اصله. ځانته به یې توکل، بیا به یې فکر وکړ، چې که مې ورور بیړه نه وای کړې او ژر یې خاورې نه وای راپه خوله کړې، زما چېرته سم نوك ښخ شوی وای، په خپله مې دا وظیفه ورپرېښوده. دی نه غواړي چې زه دې هم په ګېډه موړ یم، یا دې له ډمتوب څخه ځان وباسم، ځکه راغی زما په رزق یې خاورې راواړولې، وزیرګل زما ورور نه دی، زما دښمن دی، زما هیلې امیدونه یې راخاورې ایرې کړل، نه مې ورور و، نه مې ورور دی، نه مې دې ورور شي، نور به سنت سلام نه وراچوم.
چې دا عزم یې وکړ، ټمبه به ګرځېد، راشه درشه یې ورسره بنده کړه، وزیر ګل په ځان نه راوړه، وراره یې په مرورتوب پوه شو، نوره یې هم خوش خدمتي زیاته کړه، چې له دې امله یې ورځ په ورځ د فعالیت ساحه ځانته پراخېده، د شا و خوا کلیو اکثره خانګل ته ځواب ورکړ، خانګل په قطې کې ځای شوی و، چې تر پوزه به دې ونیو، ساه یې ختله.
شرف الدین هم په دغو ورځو کې له ملا صاحب سره بېخي شلولې وه، چپړاسي ګرې یې پرې ایښې او کډه یې امام صاحب ته بېولې

وه.
خانګل ملا صاحب ته د ورور له لاسه سر وټکاوه، ملا صاحب ورته وویل :
د نن سبا ورونه اکثره داسې دي، شرف الدين ته نه ګورې چې ما د خولې ګوله ورسره نيمی کوله، درست عمر مې مشر کړی و، هستي نېستي مې د ده په مخ کې ږدوله، دی په پردۍ ناظرۍ راڅخه مرور شو، د حاجي صاحب يې کور ودان، ځای يې راکړ، امامت يې راوسپاره، معلم يې کړم، ښه ږغ راباندې کوي، محتاج مې نه پرېږدي، له غلې دانې تر پروړې او رشقې حتی د سونګ تر بوټو هېڅ راڅخه نه سپموي، په سلګونو نهالونه يې راکړل، چې باغ ورباندې کښېږدم، نور خو به زه د ده د جايداد مالك نه يم، چې شرف الدين يې ناظر وټاکم، شرف الدين وايي ملا له زړه نه کوي، که وکړي حاجي يې خبره په مځکه نه غورځوي، له زړه څرنګه وي، يو دوه ځلې مې ورياده کړه، حاجي صاحب تر غوږ تېره کړه، چې بيا مې ورياده کړه، وچ يې راته وويل:
شرف الدين به ستا ورور وي، ستا به ډېر څه ورباندې لورېږي، خو که ستا سترګې نه وای، ما به په کلي کې نه و پرې ايښی، پاته شوه ناظري، نور نو انسان ته رموز په کار دی او خره ته سوټی، اوس ته ووايه چې ما به څه په کې ويل؟!
_نور د خبرې ځای پاته نه و.
_شرف الدين به څوك پوهوي؟
_هغه دې خدای پوه کړي.
_وزير ګل هم دغسې درواخله، ښه به دا وي چې دواړه په خدای وسپارو، د هر چا دې خپل عمل مل شي.

## نهمه برخه

د خانګل له لويې خوا نېستۍ ته مخه شوې وه، هغه پخوانۍ بنګې بوزۍ نه وررسېدې، له بلې خوا يې د بدمرغۍ لامل هم خپل ورور و، د خدای بې وعدې يې زړه چاود، لونه زامن يې دا څو کاله ډېر بد

اموخته شوي وو، په خپله يې هم لاس سوری و، که به يې هرڅو
ګټلې، سبا ته يې نه کتل، نن به يې خټلې، نه يې ذخيره لرله، نه يې
سپوره تر ستوني تېرېدله، په ولس ورنه وزيرګل قبضه کړې وه،
خرڅونه مخ په ډېرېدو وو او عوايد يې په درېيمه درېدلي وو، نه
پوهېد چې چا ته ګرېوان څيرې کړي او دا به څوك وي، چې
وزيرګل له کلي وباسي او بېرته سيمه ده ته وسپاري. نن سبا
هرڅوك خپله ښه غواړي، پخواني خدمتونه چا منلي دي، چې دی يې
وربانديې ومني؟ ولس خو به لېونی نه وي، په يوه تنخواه يې د يوه
پرځای درې نوکران موندلي دي، ولې به يې ځوابوي؟
ورځ به يې په دغو غوسو او انديښنو بېګاه شوه، يوې خوا ته يې مخ
نه اوښت، يو ماښام چې په ډوډۍ سره کښېناستل، زامنو يې ډوډۍ
پورې وهله، دا يې وښودله چې نوره داسې سپوره او بېخونده ډوډۍ
نه شو خوړلای، د خانګي په زړه کې غوټه شوي فريادونه نور د
ايسارولو نه وو، بې اختياره يې وويل:
وايي اسونه يې نالول چيندخو هم پښې پورته ونيولې، د ښو
خوراکونو زور و چې سترګې يې راپټې کړې، د خپلو خپلوانو او
پلرني کسب يې خوا توري کړو، له خانانو سره مو سيالي راواخيسته،
په وچ ډاګ لامبو خو داسې وي، لکه موږ چې وهله، پای يې دا شو
چې سپورې ډوډۍ ته يې کښېنولو، نن لا شکر باسئ چې سپوره
ډوډۍ شته، سبا دې خدای خير کړي.
مېرمن يې وويل:
اور دې په خپلو خپلوانو ولګېږه، دا اوس چې دې داسې خوله وچه
نيولې ده، د ورور او ورېرو له لاسه دې ده، که د بل چا له لاسه؟ لا
يې رايادوې هم.
_ورور مې نه دی ګرم، ګرمه په موږ کې وه، چې له خپل لېمڅي
سره مو پښې نه غزولې، وايي خوار سړی سور يې سپی، روزي په
ډول او بياتي موند وو، خو پښې له خانانو سره غزوو، له نېستۍ
پوزې په دېوال پاکوو، خو د پلار نيکه په کسب شرمېږو، که دا موږ

وو او دا مو تر ځان لیرې ټوپونه وو تر نن به مو سبا خواره وي.
ښځې یې وویل:
ولې برېږې، خوار خدای کړې ګیله له موږ کوې، نو موږ چې درته وویل بل کار کسب پیدا کړه، بده خو به مو نه وي درته ویلي، تر کله به له سیالي وتلي یو؟
_وینې مې چې نه مې ښتکري زده ده، نه مې نجاري زده کړه، نه موټر چلولای شم، چې خپل کسب ته هم شا کړم، څه به خورو؟ که ډول مات کړم څوك به تیاره ډوډۍ راکوي او ولې به یې راکوي؟
_تا خو به ویل چې مځکه به لاس ته راوړم، مځکه دې څه شوه، باغونه دې څه شول، هغه ګنګو باغ او ترخو باغ دې څه شول؟ په لوی لاس دې هوایي کړو، اوس یې له موږ انګېرې، زه خو درته وایم، څو مځکه په لاس درځي، ولې به له دې کاره لاس اخلې، که دې لور وراروه ته ورکړې وای، بیا به دې څه کول، دا نه کېده، چې لور دې په ډمانو واده وای او ته دې ډم نه وای .
_دا کېده، چې ورور او رېرونه مې ډمان وای، پلار او نیکونه مې ډمان تېر شوي وای، دا نه کېده، چې زوم مې ډم وای، خو زه دې خان وای؟...
_ولې خبره بلې خوا ته بیایې، موږ خو دا درته وایو چې هم به دې لور له ګوتو وتلې وای، هم به دې زوم پر رزق خاورې دراړولې وای، خیر به یې څه دررسېدلی وای؟
خانګی څه چورت یووړ بیا یې وویل:
_لور به اخر له کوره باسم، سر خو به نه راته سپینوي .
_چې ته بل ته یې ورکړې، هم به دې له ډمانو ځان ځنډې ته کړی وي، هم به ورباندې ښه ولور واخلې، چې ناړه دې ورباندې تېره شي.
خانګل ته دا خبره ښه ښکاره شوه، ویې ویل:
دا دې ښه خبره وکړه، اوس هم نه څه مات دي، نه څه توی، دعا

وکړه چې کوم سړی یې وغواړي، ګوندې څه لاس مو ورباندې سپك شي .

## لسمه برخه

ژمی په تېرېدو و، د ژمي جامې یوه یوه له اوږو کښته کېدې، تنکیو وښو په وېره وېره سرونه له مځکې راایستل. هوا پسته شوې وه، واورې بس د غرونو پر سرونو ښکارېدې، د خانګي د دماغ باد وتلی و، نه هغه چرګان وررسېدل، نه هغه پلاوونه، نه یې د لونړو نازونه اخیستای شوای، نه د زامنو، خواري یې منلې وه، خو د ښځې یې لا د ډم له نامه بد راتلل، له دې تمبولۍ د وتلو په تلاش کې وه، اوس یې یواځنی لار دا تشخیص کړې وه، چې لور کوم شتمن سړي ته ورکړي، د لور په ولور او د زوم په شتمني پورې به یې کار جوړ او په خلکو ګډ شي. دا چې به د هر چا کره ورغله، دا خبره به یې ضرور کوله، چې لور مې وزیرګل خپل زوی ته غوښته، چې ورمې نه کړه، راکډه شو او دلته یې کلی راځخه نیم کړه، پروا نه کوي، هرڅوك خپل قسمت خوري، زما دغه لږه برخه هم تر خوله تېره ده، په دغه لږ به صبر وکړو، خدای مې دې اولاد ته له بلې خوا روزي ورکړي، نه غواړم چې لونړې او زامن مې دې هم ډمان وي. یوه ورځ له ارچې د یوه ډم مرکه ورته کښېناسته، لور یې ورځخه غوښته، خانګي په زړه کې ګوړې ماتولې چې ګوندې بېډۍ مې میره شي، خو بده یې دا وه چې بیا هم ډم غوښته، په ښځې او اولاد ډاډه نه و، د یوې اوونۍ مهلت یې ترې وغوښته چې سلا مشوره سره وکړي.

لومړی یې ښځه نه قانع کېده، ویل یې:

دا خو میم زر ما، بیا میم زر ما شوه، له بارانه تښتېدو تر ناوې لاندې مو شپه شوه، ما خپل لېور زوی ته نه ورکوله، اوس یې پردي ډم ته څرنګه ورکړم.؟

_هغه ته مو چې نه ورکوله، یوه هغه د تا خبره ډم و، بله دا چې په

نه څه به يې زموږ خوله ايستله، مشر ورور مې و، څه به مې ورته ويل؟ په خپلو غوښو خوله نه لګېږي، له دې سرې به پوره ولور واخلو، خپل کار به وربانديې جوړ کړو، بله دا چې د مځکو وکيلان اکثر په ارچې کې اوسي، دی له ټولو سره وچړ دی، ګونديې موږ ته هم يوه لار راجوړه کړي...
له څه بحث وروسته يې ښځه له مجبوريته قانع شوه، هفته وروسته يې دېرش زره افغانۍ په غاړه ورکښېښودې او مالګه يې ورکړه.
خانګۍ بيا خانګل خان شوی و، د کلي چرګان او هګګۍ بيا د ده په کور کې مصرفېدل، دېګ به يې بيا دوه وخته باندې و، اولاد يې بيا ښويې جامې پيدا کړې.
دوه درې مياشتې وروسته يې واده ورکړ او پيسې يې ټولې ترې ګوتو ته کړې .
ملا صاحب ورته وويل:
خان ګل خانه وروره! که يې بده نه منې، يوه خبره درته کوم، په ګټه به دې وي.
_ملا صاحبه! ولې به يې بده منم، ستا خبرې هر وخت زما په خير وي.
_ډېرې روپۍ په لاس درغلې، که د ګېډې ومنۍ، ايله به مو تر ژمي وباسي، ښه به دا وي چې ګېډې ته سوك ورکړئ، ګذاره کوئ، سبا په نظر کې ساتئ، که اوس هم د مځکې او جايدادونو په فکر کې يې، روپو ته دې ضرورت پېښېږي، که ددکان خيال لرې، دکانداري خو روانېږي په سرمايې، چې څومره دې سرمايه ډېره وي، هغومره به دې ښه دکان وربانديې جوړ کړی وي. په هر حال، له خپل مصرف سره پام کوه، که د ورځې زر روپۍ هم خرڅې کړې، په دې به دې نه څوك خان وبولي، نه به د ډم نوم له ځانه واړوې، خصوصاً چې بله ورځ دې بيا شونډې وچې وې او مخ دې نه اوړي، په هر چا ځان او اولاد ګران وي، خو هر چا ته چې ګورې څه خوري، څه پرېږدي، هر څوك زامن، لونې نازوي، خو د وس په

اندازه.
خانګی د ملا صاحب خبره د ځان په خير وګڼله، نيت يې وکړ چې سر له ننه به پر نفس پښه ږدي، د ګېډې به نه مني، هڅه به کوي چې ور پاته سرمايه يې خوندي پاته شي، ګوندې چې دا ډول بدمرغه يې له غاړې وولېږي او د پرديو ويښتو له وباله نور ځان وساتي.
خو په کور کې يې اولاد د روپو کوټه ليدلې وه، هر وړ خواږه يې تر ستوني نه تېرېدل، چې هرڅومره يې ورته وويل، د هېچا زړه سپما ته نه ټينګېده. د هغه متل په مصداق چې وايي "پوه يې کړه، په خوله يې کړه، سبا به ګڼ نور راوړي" د سبا غم له چا سره نه و.
هر يوه به ويل، دوه ورځې ژوند دی، ښه يې ولې نه تېروو، سبا ته بيا خدای باچا دی.
د خانګي له جېبه چې به يوه روپۍ وتله داسې ورته ښکارېدله چې د ده د ارزوګانو له کلا څوك يوه خښته راغورځوي. يا يې يو پټی کرلې مځکه له لاسه وځي، ډېر به ورباندې زهېرېده، مګر چاره يې نه وه، د کور غړيو لاسونه ورته يو کړي وو، مجبور و چې کټو سرېدا ته ور نه کړي، لوږو او زامنو د خانګي خوار ارمانونه په پوره اشتها خوړل او ده به په پټه خوله ورته کتل .
د ژمي واورې لا ځای ځای په سيوري کې پرتې وې، چې د خانګي کڅوړه، تشه، نغري يې سوړ او دېګ يې په کرار شو.
ملا صاحب ورته وويل :
له دومره چرګانو چې په روان کال کې دې وخوړل، کومه ښه يا هډوکی درپاته دی، که يه؟!
_ملا صاحب! ولې مې په پر پرهرونو مالګې شيندې؟ خدای دې څوك د لوڼو او زامنو ناټکي نه کړي، دوی دي چې تر کمرو يې غورځولی يم او لا مې غورځوي، چاره نه لرم، ښه شوه چې هغه زهر مړې تمامې شوې اوس به مې هډونه مځکې ته ورشي.
_زه دې په زخمونو مالګې نه دوړوم، دا درته وايم او پخوا مې هم درته ويلي وو چې دا دې له اولاد سره نېکي نه ده، چې پنځه ورځې

يې خولو ته ګورې چې څه غواړي هغه ورورسوې، شېږمه ورځ دې په نظر کې نه وي، اوس که خدای مه کړه کوم يو درناروغ شو، د علاج وس به يې نه لرې، بله دا چې کليوالو به دربانديې څه لورول، اوس چې يې ستا فضول خرڅيو ته وکتل، ګومان نه کوم چې دربانديې ورحمېږي، دا چې ته وايې اوس به مې هډونه مځکې ته ورشي، چې په هستئ کې په ارام نه شوې، په نېستئ کې به څه ارام شې، اولاد دې څه غم لري، که غم وي بيا به هم د لالي په سر وي.

_ربنتيا وايې خو څه به مې کړي وای، واك اختيار يې راڅخه اخيستی و.

_ما ته داسې ښکاري، چې ښځه دې هغومره د خپلې ګېډې مني، کله څومره چې ته د دې منې، پارسيوان متل کوي، (به بهانه بچه، مادر مېزنه کلچه) که داسې نه وای، د اولاد په کوټه به نه درته درېده.

_ربنتيا دې وويل، وايي: چې ورانه ده، له خانه ده؛ خو څه وکړم چې پورته توکم پرمخ مې لګېږي. چې کښته توکم پر ږيره مې لګېږي.

_بيا هم درته وايم چې په انسانانو کې اصل او کم اصل نه شته، ټول د يوه بابا اولاد يو، هرڅوك په خپل عمل ښه کېږي، کار کسب پيټ پېغور نه دی، که عيب دی په بېکارئ کې دی، که هرڅوك خپل کار ته سر ټيټ کړي او خپله وظيفه په ښه توګه ترسره کړي، هم به يې ګټه کړې وي، هم به د خلکو تر پام ښه وي، د خانئ هوا له سره وباسه، په وچ لېنګي مه بنګي کېږه، ښه ډم تر بد خان په سل چنده ښه دی، نو ستاسې له خپلې پېښې ولې زړونه تور شوي دي؟ د ټيټوالي احساس په لوی لاس ولې تقويه کوې؟...

د ملا صاحب خبرې ښې وې، خو د خانګي د زړه غوټې نه وربانديې خلاصېدې، په پټه خوله ترې پاڅېد او لاړ .

ملا صاحب هغه کال هم د ښوونځي په خدمت کې او د خپل ملك پټي په پالنه تېر کړ، کله به په چاردره کې و، کله په ارچه کې، باغ يې

ښه وده کړې وه او ولې یې هم ښې رابوتېدلې وې، له ولسوال سره یې هم هغه شان د شکونو په تیارو کې لیده کاته کېدل، ولسوال په دې نه و موفق شوی، چې د ملا صاحب څېړه په وضاحت سره ووینې او د ده په هکله نهایي نظریه قایمه کړي، برسېره پر دې چې په لسو پنځلسو ورځو کې به یې په خپله هم ورسره لیدل دوه درې تنه نور یې هم موظف کړي وو، چې د ملا صاحب حرکات وڅاري او راپورونه یې ده ته راوړي، په خپله یې څه مواد لاسته نه وو ورغلي، راپورونه هم گمراه کوونکي وو. کله به داسې راپور و، چې ملا صاحب یو مرموز انسان دی، مرموز کارونه کوي، هم په پلمه ارچې ته ځي راځي او هلته یا په امام صاحب کې له مختلفو خلکو سره گوري، له هر وړ خلکو سره یې راشه درشه ده...

کله به له راپورو څخه دا نتیجه ترلاسه کېده چې ملا یو لا ابالي، له پېښو سپك او حریص سړی دی. تر ناسته په ولاړه خوښ دی او تر حضر په سفر راضي.

ولسوال ته دا راپورونه هم هوایي ډزې ښکارېدې.

ملا صاحب دلته او هلته ډېر خلك پېژندلي او په مختلفو قومونو کې یې د مختلفو سویو یاران دوستان موندلي وو، چې بې‌کاره به وو. کلي په کلي او کور په کور به یې د یارانو پوښتنه کوله. تا به ویل څه یې ورك کړي دي، په کومه ورکه پسې گرځي، خو چې دا ورکه به څه وه، هېڅوك هم نه پوهېدل.

چې بیا کال رانوی شو، د ملا صاحب بادامو شگوفه راوړه، ونې یې لا وړې وې، خو څانگو یې د گلونو تاجونه پر سر کړي وو، د ملا صاحب یو ارمان تر سره کېده، ډېر ورته په طبعه کې و، چې ورته کتل یې د بې څښتنه باغ ساتنه یو مشکل و، که یې ورته رالېښل بل مشکل، ځکه چې نه یې کور جوړ کړی و، نه یې د معلمۍ له معاشه سترگې پټولای شوای. فکر یې وکړ چې کډه راوکړي، چېرته به اړوي؟ په سپین ډاگ خو شپې نه تېرېږي، که یې نه راولي شگوفې یې ولیدې، ثمر به یې نه ویني او ممکن ماشومان یې د ونو څانگې په

غوره کې ورماتې کړي. د کور معضله لا دومره ګرانه نه وه، چې یو دوه خونې یې جوړې کړې وای، کوچې سړی و، تر خوله یې تېرې وې، چمبر به یې بیا په کراره ترې ګرځولی و، د اومو خونو لوی مصرف د پوښلو لرګي وي، د لرګیو وعده حاجي صاحب ورکړې وه، د بادامو تر پخېدو یې خونې پټېدې، پاتېده د معلمۍ خبره، چې که راولېږدي له معاشه یې لاس خېژي، چې دا تنخواه هم ورباندې ودرېږي، کور به په څه چلوي؟
یو دوه شپې یې په دې خبره غور وکړ، بالاخره یې د حل لاره ومونده، په ارچې کې یې د شا و خوا کلیو سپین ږیري د یوه کلیوالي ښوونځي جوړولو ته ولمسول، چې کله یې د هغو موافقه حاصله کړه، د خلکو له خوا یې عریضه ولیکله، د پوهنې لوی مدیریت ته یې وروړه، مدیر هسې هم ورسره جوړ و، د نویو ښوونځیو منظوري هم راغلې وه، فوراً یې امر ورکړ، څو وخته وروسته یې ښوونځي پرانیستل شو، چې ملا صاحب یې لومړنی ښوونکی و.
ملا صاحب پخواني ښوونځي ته شا کړه، په ارچې کې یې د نوي ښوونځي په ابادولو او تدریس لاس پورې کړ، ډېر ژر دلومړي ټولګي تعلیم پیل شو. چې د بارانونو موسم په تېرېدو راغی، د کور په جوړولو یې بنا وکړه، هغه هم د شا و خوا ځینو خلکو په همکارۍ ژر سر ته ورسېدو، بادام لا نه وو پاخه شوي چې ملا صاحب کډه راورسوله.
د ملا صاحب باغ دوه برخې و، لومړۍ برخه یې چې څلور جریبه به و، درې کاله پخوا ایښی و، چې لږ یې لږ لږ حاصل نیولی و، دوهمه برخه یې چې هغه هم دغومره مځکه نیولې وه، څه سږکال نهال په کې ایښي وو، څه تېر کال.
ملا صاحب په ارچې کې لا ښه وځلېد، ځکه چې یو یې پارسي ښه شوې وه، له وزبکو سره به بې تکلفه ږغېدای شو، بلکه دا چې د وزبکو او ترکمنو له دود دستور سره لا په چاردره کې بلد شوی و، دلته ورسره اشنا راغلی و، برسېره پر دې هلته د حاجي صاحب په

شعاع کې د ده شخصیت تت غوندې و، دلته تر ده خولور، منور او جهان دیده سړي نه وو، هغه هم په هغه نژدې شا و خوا کې.
چې دوه درې میاشتې ووتلې، د چاردرې ولسوال ارچې ته رابدل شو، په ارچې کې یې بیا له ملا صاحب سره وکتل، په زړه کې ورته خوښ شو، چې له لاسه الوتې مرغۍ یې بیا لومې ته رانژدې شوې وه، پوخ یقین یې و چې یوه ورځ به یې نقاب له مخې اخلي او اصلي څېره به یې ویني، که داسې وشول، لوی بری به یې په برخه شي.
د ملا صاحب د مځکې نه خاوره ښه وه، نه یې کافي اوبه لرلې، ځکه یې حاصلات ښه نه وو، علاوه پردې بزګر یې هم حریص سړی و، د ده پر مځکې برسېره یې دوه استحقاقه د نورو هم کرله، نو خدمت یې هم سم نه شو کولای، دی صرف بادامو ته په تمه و، چې هغه ورسېږي له خارو به یې پورته کړي. تر بادامو لاندې یې رشقه کرلې وه، په رشقې یې هم غوا ښه مړېده، هم یې ډېره برخه نورو ته په اجاره ورکوله، له دې اجارې هم کال په کال کافي روپۍ لاس ته ورتلې. وچه غله یې نیم نیمښوره له مځکې پوره کېده، نور مصارف یې د معلمۍ له معاشه پوره کېدل، ګذاره یې ښه کېده، نور له خپله ژونده راضي و، خو یو شرف الدین ورته په زړه کې مات شوی ازغی ښکارېده، چې نه د ایستلو و، نه د زغملو.
ولسوال د خپل شك د ایستلو لپاره دلته هم ورسره پالـله، چې هر وخت به د څه کار لپاره ولسوالۍ ته ورغی، ولسوال به ښه وضع ورسره کوله، خامخا به یې د غرمې ډوډۍ ته ایساراوه، چې خلکو له ده سره د ولسوال دومره ټیټ پاس کېدو ته کتل د هغوی نظر هم ور اوښت، ورځ په ورځ یې په ولس کې اثر رسوخ وده کوله، قومي مشرانو هم له پامه نه شو غورځولای، د ملا صاحب حضور په قومي غونډو کې ضرور وګڼل شو، د ولسوال هم دا خوښه وه چې ملا صاحب د صاحب رسوخانو په ټولۍ کې ګډ وي، په دې توګه د ملا صاحب پټې غوښتنې ښې ورمعلومېدې، هم ښه تر نظر لاندې ساتل کېده، هم یې قلبي تمایلات ورجوتېدل. ملا صاحب په لنډ

وخت کې له جرګو مرکو او قومي پرېکړو سره هم اشنا شو، ډېر ځله به يې د ځينو خلکو نسبتاً مشروع کارونه هم په دفترونو کې ورخلاصول، اوس به يې نو د پخوا په شان په مياشت کې يو دوه ځله له ولسوال سره نه کتل، بلکې دويمه درېيمه به مبجور و چې ولسوالۍ ته ورشي او څه شېبه له ولسوال سره هم کښېنې.

ولسوال د ډېر پټ څار او بيا بيا ليدو کتو په نتيجه کې په دې خبره باوري شو چې ملا صاحب نه مادي استفاده جوی دی، نه د ولس بې اتفاقي غواړي، نه د دولت او ملت ترمنځ نوکان جنګوي، د وطن په ابادۍ، د خلکو په هوسايۍ او د امنيت په استقرار خوشحالېږي، که پردی ايجنټ وای حتماً به يې تخريبي فعاليتونه کول، که په دې عملونو او دغو صفتونو برسېره بيا هم پردی ايجنټ وي، داسې ايجنټان خو دې تل رالېږي.

د ولسوال شکونو پېڅې ټولولې، ځای يې ارادت نيو، د څارنې پرځای يې ورسره پالنه شروع کړه، نور يې ورسره له زړه پالـله، کله- کله به د جمعې په ورځ د ملا صاحب کور ته لاړ، ورځ به يې د حوض په غاړه د چنارونو سيوري ته ورسره په خوږو خبرو تېره کړه، د ملا صاحب ساده کوچياني ژوند او بې تکلفه وضعه يې ډېره خوښېده.

د ولسوال دومره اخلاص او صميميت کله هم د ملا صاحب خوله شکايت ته چوله نه کړه، د هېچا بد يې نه ورته وويل، که به کله ولسوال څوك په بدو ياد کړ، ملا صاحب به ورته وويل :

ولسوال صاحب! له هر چا دا توقع مه کوه، چې ستا په شان دې ژوند نېکۍ او خير خواهۍ ته وقف کړي، انسانان وړ وړ رنګونه، خويونه، نيتونه او عادتونه لري. ورو ورو چې تجربې وکړې، بد هم له بدو راګرځېدای شي، څکه چې له بديو چا خير نه دی ليدلی، چې چېرته به ولسوال د کوم سړك د تېرولو يا د کوم ښوونځي د جوړولو اراده وکړه، لومړی سړی چې د مرستې ټټر به يې واهه، هغه به ملا صاحب و. حتی نور به هم ده قانع کول، چې دا د عام

ولس د ښګېګڼې لپاره دي، باید همکاري ورسره وشي.
ملا صاحب له خپله ژونده راضي و، ایله یې له خپلو هیلو سره سمه زندګي برابره شوې وه، چې غرمه به له ښوونځي فارغ شو، که به یې په ښار کې کارونه وو، یا به یې ولسوال ته د ورتلو وعده نه وه ورکړې، په کور به یې ډوډۍ وخوړه، بیا به یې د حوض په غاړه سیوري ته کټ واچاوه، د ترخو چایو په څښلو به یې د ژوند لحظې خوږولې، شکرونه به یې ایستل، چې په تېر عمر یې ډاډمن او هوسا ژوند په برخه شو. خوښ و چې د خپل کور، خپل چمبر، خپلې مځکې او خپل باغ خاوند شوی دی، خپل خوري، خپل څښي او د خپلو ونو سیوري ته ناست دی، ښوونځي ته هم د احتیاج له مخې نه ځي، بلکې د فارغ ژوند د شکرانې لپاره د وطن د بچو پالنې ته ورځي.
د ملا صاحب دوه کاله په ارچې کې تېر شوي وو، په سر او ږیره کې یې سپینو وېښتو په سرو وېښتو برې موندلې و، د زړښت احساس یې کاوه، تر منډو په ارام خوښ و، بادام یې رسېدلي وو، چې کال به ښه راغی، کابو دوه سوه سېره بادام به یې ټولول، بادام یې هم ښه جنس بادام وو، ها خوا ته په چاردره کې حاجي وفات شوی و، خانګل دوهمه لور هم واده کړې وه، د هغې په غوښو یې شخوند واهه.
ملا صاحب به په میاشت دوه میاشتو کې یوځل چاردرې ته سر وربښکاراوه او په کال کې به یې د یو څو ورځو لپاره پاکستان ته مخه ونیوله، په دېره او دامان به راوګرځېد، زړې مېنې به یې بوی او زړې خاطرې به یې تازه کړې، قوالۍ به یې واورېدلې، د تودو سیمو په ونو بوټو به یې نظر وښویاوه، چې ولده به راغبرګېدو د ناقلینو د ضرورت وړ شیان به یې راوړل او د سفر خرڅ به یې ورباندې ویوست.
شرف الدین به هم چې ډېر اړ و، کله- کله به یې منډه تر ده پورې وه، چې څه به یې ترې بود کړه، نوره یې ورسره څه شولې نه وې کړلې.

یوه ورځ ښار ته لاړ، هلته خبر شو چې په کابل کې کودتا شوې ده او داود خان د شاهي نظام پر ځای جمهوریت اعلان کړی دی، لومړی په دې خبره لږ څه وغوړېده، چې ښه شوه ربښتینې ډیموکراسي به راشي، ولس ته به سم حقوق ورکړل شي... خو ژر دا وېره ورولوېده، چې خدای دې نه کوي که پوځ نه ورسره ومنله، په ټول هېواد کې به کورنۍ جګړې ونښلي او ډېره تباهي به رامنځته کړي.

په منډه ولسوال ته ورغی، ولسوال هغه ولسوال نه و، نه یې هغه موسکا په سترګو او په شونډو کې ښکارېده، نه هغه خوش صحبتي او حاضر ځوابۍ ورپاته وې، په نه زړه یې وویل :

ښه کار وشو، اوس دې خدای توفیق ورکړي، سردار صاحب ډېر وطنپرست شخصیت دی.

ملا صاحب پوه شو چې ولسوال د زړه خبرې نه کوي، دا هره جمله چې یې راته ادا کړه، شل ځلې به یې په دماغ کې سره واړوله راواړوله، بیا به یې له خولې ایستله.

ژر یې رخصت وغوښت او کاله ته ستون شو، په لارې یې له ځان سره فکر کاوه، کله به یې د کورنیو جګړو وېره ورپیدا کړه، کله به یې د ولسوال وضعه تحلیل کړه، یقین یې شو چې هغه اوس هم پر ده بد ګمانه دی، په دومره دوستۍ برسېره سم نه ورته سپځېده، بیا یې ځانته تسلي ورکوله، چې حالات لا سم نه دي جوت، معلومه نه ده چې لا څرنګه شي، نو ولسوال خو د حکومت یو مسوول سړی او دلته د دولت نماینده دی، مجبور دی چې په داسګې حالاتو کې له پلاره هم خبره پټه وساتي... دا یې غوره وګڼله چې څو ورځې نه ښار ته راشي، نه ولسوالۍ ته، چې اوضاع روښنه شوه، بیا به له وخت سره ګام اخلي.

ډېر ژر داود خان په وضاع مسلطه شوی و، کابینې ته نوي کسان راغلل، د پخوانیو لاسونه له کاره وایستل شول، بیا ورپسې د والږنو او ولسوالانو تبدیلۍ پیل شوې، ډېر نوم ورکي کسان په لویو څوکیو کښېناستل، پولیسو ته بیا د نیولو، ترټلو او کوتکمارۍ واك ورکړل

شو.
د ارچې د ولسوال پر ګدۍ هم یو خشن، بې تجربې او له ولسي چال چلند سره نا اشنا ځوان کښېناست. ملا صاحب دا ومنله چې کودتا د شاهۍ پرضد نه ده شوې، بلکې د دېموکراسۍ پرخلاف شوې ده. خير يې په دې کې ولید چې د زړبوډۍ او ناروغۍ په پلمو له معلمۍ څخه لاس واخلي او په کور کښېني. استعفا يې منظوره شوه، په کور يې پښې وغځولې، د خپلې مځکې له ساحې په لېږ وخت ووت.
سوکه سوکه يې عادت بدل شو، چکرونه يې پرېښوول، د سايکل له خيره هم تېر شو، له هغه يې هم ځان بېغمه کړ، که به کله مجبور شو چې ښار ته لاړ شي، په لیني موټرونو کې به يې تګ راتګ کاوه.
قومي مشران درست په سوړو ننوتلي او قومي جرګې مرکې له منځه تللې وې، ملا صاحب به ډېر وخت راډيو وررږ.غوله، چا يې د کور ور نه ورټکاوه، چې ولسوال يا قوماندان ته يې د سفارش لپاره ورمخ ته کړي، خلك پوهېدلي وو چې د مشرانو دوران تېر شوی دی، اوس يې څوك په خوله پیاز هم نه سپینوي، صرف کله- کله به شرف الدين ورته راغی، خو د پخوا غوندې به يې په ټېټو سترګو د ده جېب ته نه کتل.
بلکې په زور به يې ترې ډېر څه غوښتل، شرف الدين هم په دې پوهېدلی و، چې اوس نه ملا سرکاري معلم دی، نه هغه ولسوال شته، چې د ملا صاحب هره خبره به يې منله، نه د سپین ږیرو هغه تول پاته دی، په لوړ اواز به يې ورته ویل :
ملا! که له ځانه له اولاده سره دې ښه کوې، خوشحاله مې ساته، چې سبا دې له اولاد سره ښه کوم، هسې هم د ګور په غاړه پروت يې، له ټوخي سره دې ساه وځي، سبا به دې هرڅه زما وي....
ملا خوار ته يې کابو پنځه کاله د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، دا اندېښنه به يې ورپیدا کوله چې اولاد به يې له دې ظالم سره څه کوي؟
يوه شپه يې راډيو ته غوږ ایښی و، وايې ورېدل چې په داود خان هم رنګه شوه، د قدرت واګې د خلق ډېموکراتيك ګوند ته په لاس ورغلې

دی، سمه یې زړه ته وولېده چې وطن پردی شو .خدای دې خیر پېښوي، د خیر کور وران ښکارېږي، د روس د غلامانو دوران شو، چې اخر به له دې وطنه څه جوړ کړي؟
کله چې نوې کابینه اعلان شوه، نور یې هم دا ومنله چې دلته پاتېدل له ځان او اولاد سره ظلم دی، که دا ظالمان نورو ته څه وایي، که نه، د ملا سړي خیر په کې نه شته، په ما خو پخوا هم د جاسوسۍ ټاپې لګېدلې وې، اوس به دوی خدای خبر چې څه کانې راسره وکړي؟...
هغه وو چې ملك پټي، چمبر او رسېدلي باغ ته یې شا کړه، پختن ته نژدې شوی بادام او مراد ته رسېدلې ولې او سپېداران یې پرځای پرېښوول، ښحه او لوڼې یې تر ګوتو ونیولې، پخوا تر هغه چې خلقیان پر اوضاع مسلط شي، کډه یې شلګر ته ورسوله.
دوه درې میاشتې یې حالات څارل او ورسره د ډاډمنې لارې په مطالعه بوخت و، اول مني د خوست په لار میرانشاه او له هغه ځایه بیا دېرې ته ورسېدل .
کله چې کمونیستانو واك تر لاسه کړ، د ښوونځیو معلمان بیا په تېره هغه چې د خلق او پرچم له غړیو سره یې سرونه سنولي وو، پوره واکمنان شول، خصوصاً په کلیو کې، د پردیو دومره لاس خلاص و، چې چا ته به یې زړه ډك و، په خپل حکم به یې سپکولی، ټکولی او نیولی شو، بیا به یې که زړه نه و ورباندې سوړ، د ضد انقلاب په نامه به یې ولسوالۍ ته معرفي کړ، هلته هم مګر د نیولي فریاد خدای پاك اورېدلی وای.
د خانګي زامنو ته دا حال په ښوونځي کې معلوم شوی و، چې سازمانونه جوړېدل، د سازمان کومېټې دوی هم بې له ځنډه په خوښۍ ومنل، ځکه چې د ډم زامن وو او ډمان د ولس له ټیټې طبقې سره تړلی دی.
د سازمان غړي مکلف ول چې تر هرڅه لومړی باید په حزبي ایډیالوژۍ پوه شي، سیاسي درسونه ډېر ولولي او د رهبر بیانیې په

دقت واوري، بله وظیفه یې د کور کلي د راپورونو ورورېل و، د هر سازماني وړاندې تګ په دغو خبرو پورې مربوط وو، په ازموینه کې غم نه و، اتومات کامیابېدل، کله چې د دوی سترګې په سازمان کې وغړېدې، خپل موقف او خپله ورسپارلې دنده یې وپېژندله، لومړی یې د حسین خان راپور ورکړ، معلمینو حسین خان وروغوښت، د سلګونو متعلمینو په حضور کې یې ډېر بې‌عزته کړ، بیا یې د نامطلوب عنصر په حیث لاس تړلی ولسوال ته ودراوه، ولسوال هم له څه وهلو ترټلو وروسته محبوس کړ.
د حسین خان راپور یې ځکه ورکړی و، چې حسین خان لومړی سړی و، چې خانګل ته یې له خپلې خوا ځواب ورکړی او پرځای یې له وزیرګل سره موافقه کړې وه.
حسین خان څو ورځې بندي و، کله چې د کندز د ولایتي کومېټې غړي وراندې خبر شول، ولایت ته یې وغوښت او له لازمې توصیې وروسته خوشې شو. دې خوشي کېدو هم یو علت درلود، هغه دا و چې حسین خان به د خپلو بحثونو لپاره له ځینو خلقیانو او پرچمیانو سره هم لیده کاته کول، د هغوی ځینې خبرې به ده ته نوې ښکارېدې، د خپل استدلال لپاره یې ضروري ګڼلې، له دې امله هغوی فکر وکړ چې که حسین خان ګوندي یار نه دی، نو راته خوشبین خو و، داسې سړی باید راخپل کړو.
دوهم راپور یې د حسن ګل ور وړ، څرنګه چې د حسن ګل ډول وهل د هغوی خوښېدل، هغه راپور معلمینو مسترد کړ او دوی ته یې توصیه وکړه، چې د کارګرانو او خواریکښانو راپورونه نه غواړو، د ملت دښمنان راګوره، هغه چې د خلکو په حقوقو چو شوي او د مترقي دولت ضد مفکوره لري.
له هغه په هیسته به یې هم کله- کله د یوه نیم سړي راپور ورکاوه، د شا و خوا کلیو اوسېدونکي د دوی له لاسه تر دوو سپوږمو ورسېدل، خو چاره یې نه وه، په خپله خانګل به هم مارشونو ته د ډول وهلو لپاره ډېر ولسوالۍ ته غوښتل کېده، تر مازیګره به یې

ډول وواهه، مازيګر به يې وچې شونډې، وړى تړى په خپلو روپو په کوم موټر کې ځان کور ته رساوه.د کليوالو خدمت ته يې سم رسيدل ګران وو او د نورو ګڼتو وټو لارې هم ورباندې درېدلې وې، له دې امله خوښ و چې زامنو به يې ورته ويل: څو ورځې حوصله کوه، حکومت نوى دى، چې لږ څه يې پښې نورې هم ټينګې شي، د هر څه خاوند به شې، د خانانو ځمکې، باغونه او کورونه پر بې وزلو وېشل کېږي، چې په سر کې به يې موږ يو.
يوه ورځ خبر شو چې وروور يې بې ړته په پټه لې ښلى دى، حيران شو، چې هغه بدمرغه ته چا څه ويل؟ دى خو نه خان و، نه ملا و، نه يې هستي او دارايي لرله، يو خوار کسبګر او د وطن اصيل بچى و، که يې صبر کړى واى، د کور، باغ او ملك پټي خاوند شوى به و.
خبر نه و چې هغه د ده د زامنو له لاسه تښتېدلى دى.
خانګي د سرو مارشونو لپاره ډول ته هم سور رنګ ورکړى و، د مارش په ورځ به يې يو سور ټوکر تر خپل مټ هم وتاړه، اوس چې به يې د کليوالو سترګې په سره ډول ولګېدې، داسې به ورته ښکارېده، لکه د بې ګناهو مظلومانو په وينو چې يې رنګولى وي، د هر سړي ورڅخه کرکه کېده، خو د اظهاورلو جرئت يې له چا سره و؟
څو وخته وروسته چې په بدخشان او دغه شان د بغلان په ځينو سيمو کې لکه (تاله برفك او کېلګي) مقاومتونه پيل شول، د کندز د ولايت ډلې ډلې ځوانان به يې د رضا کارانو په نامه په زور جنګ ته وراستول. له هرې ډلې سره به يې ډمان هم لېږل، دسره ډول خاوند خانګل به اکثر د رضا کارانو په سر کې ډول واهه، د خره خاوند ته پېښه وه، چاره يې نه وه، روان به و، په زړه کې زر ځلې په پخوانى کم اصلى راضي و، نه د وطن په اصلي بچي توب خصوصاً اوس چې يې وروور کلى بيا ورپرې ايښى و.
ښځه او اولاد يې د ده له غمه نه وو مړه، د خپلې سبا په فکر کې ول، چې د ځمکې، باغ او کوټو خاوندان شي او څوك به يې په سپك نامه

هم نه شي بللای.
چې کال پوره کېده، د وطن له ډېرو سيمو د جنګونو او ناڅاپي حملو خبرې راتلې، هر سړي غوږونه ځك نيولي وو، چې مجاهدين به کله د کندز په خلقيانو باړونه چلوي؟ د حکومت د مامورينو هم غوږونه بربېدل او خپلې چاړې يې په اوبو کې ليدې.
د جشن ورځ وه، د کندز د سپين زر په چمن کې کمپونه درول شوي وو، والي راغی، سټېج ته وخوت، خلقيان ترې راګرځېدلي وو، د ولس رش و، د والي د خبرو د اورېدو لپاره هر سړي ځان مخته مخته کاوه، په دې ټېل ماټېل کې د کمپ د شا له لوري ځوږ او يووړ کړپ واورېدل شو. جوخت ورسره له هغې خوا ډزې شوې، هوايي ډزو د خلکو مګنډې رامنډې پيل کړې، په تېره چې د سټېج له سره هم د کلاشينکوفونو هوايي ضربې وچلېدې، مېږه هغه و چې پښې وباسي، درستو منلې وه چې مجاهدينو ناڅاپي حمله کړې ده، نه خلقي معلوم و، نه غير خلقي، هر چا د ښار پر لوري منډې وهلې، د خلکو هجوم د ښار په خوا ډېر خلك تر پښو لاندې کړل، په دې اړ و دوړ کې مترقي شعارونه او د تره کي ډېر عکسونه او ځېرې په خاورو ختو لړل شوې، چې څومره منډې ډېرېدې هغومره ډزې ډېرېدې، خانګي هم له ډوله سره منډې وهلې، يو وخت متوجه شو، چې ډزې رانژدې کېږي، ښايي مجاهدين به ښار ته راننوتي وي، له وېرې يې لومړی هغه تر مټ تړلی سور ټوکر له ځانه لېرې کړ، بيا يې خپل سور ډول له غاړې راکښته کړ او پر مځکه يې وويشت، په خپله يې دوه درې سوه قدمه لېرې لنډه لنډه ساه اخيستله، يوې خوا بلې خوا ته يې په وېره وېره کتل، اخر د چايو يوه دکان ته وروخوت، هلته په يوه کونجکي کې کښېناست. د شيشو له شا يې کتل، چې هر سړي سره ټوکران، واړه سره بيرغونه، ليکلي شعارونه او د رهبر عکسونه له ځانه لېرې کوي، حتی ډېر مسلح سازمانيان يې وليدل چې ټوپکونه يې ويالې ته وغورځول.
يو ساعت وروسته معلومه شوه، چې هېڅ هم نه وو پېښ شوي، د

کمپ شا ته په سړك ګاډۍ ولاړې وې، کوم تبنګ والا له بهر نه تبنګ پر سر نیولی چمن ته راځي، پام یې نه وي تبنګ یې د ونې له څانګې سره لګېږي، د تبنګ په راولېدو د بګیو اسونه وترهېږي، بګۍ له بګو سره ټکر شي، پلي خلك له دې وېرې چې اسونه یې لاندې نه کړي، یوه خوا بله خوا تښتي، د چمن د څنډو مسلح ساتونکي فکر وکړي چې څه دسیسه نه وي، خلك په والي هجوم نه وروړي، هوایي ډزې وکړي، د سټېج محافظان دغه ډزې د مجاهدینو له خوا وبولي، دوی هم په ډزو لاس پورې کړي، له هرې خوا هوایي ډزې پیل شي. نتیجه یې دغه د جشن د میدان لوګ پاته کېدا وي.
خانګی ډاډه شو، لاړ او ویالې ته وررغښتی ډول یې وموند، چې په یوه پر بله یې واړاوه، برسېره پر دې چې دواړه خوا څرمني یې له کاروه وتلې وې، په خپله د ډول هم یو دوه دړې ماتې شوې وې. مات ډول یې غاړې ته واچاوه او په ټیټ سر یې د کور لار خپله کړه. ډول یې د روزي وسیله او اوس د حیثیت ذریعه وه، که هرڅو له مارشونو پکو شوی و، بیا هم مجبور و، چې څرمني یې نوې کړي او په ماتو دړو یې پټري ووهي.
خانګی څو ځلې د تاله برفك او کېلګي جنګونو ته واستول شو، داسې جنګونو ته چې مجاهدینو به په غره کې مورچې نیولې وې، یو نیم ډز به یې له پاسه ورباندې کاوه، دوی به له لاندې هغه هم له لیرې باړونه ورباندې چلول، خانګی به د درستو له شا ډول ورته واهه، چې هر یو په زور بېول شوي به یوه کوټه مرمۍ خاورې کړې او څه ډکۍ مرمۍ به یې په سنګرونو کې پرېښوولې، دوی به رخصت شول، سبا به یې نور ورته راوستل. داسې جنګونو ته تګ تشه ستړیاوو وریه برخه کوله، نور خطر نه و ورته متوجه، ځکه چې نه مجاهدین راکوزېدل، نه دوی ورختل او دی به دومره لیرې ولاړ و، چې د مجاهدینو مرمۍ یې په زر قدمۍ کې هم نه لګېده. خو چې د دهنه غوري په یوه ناڅاپي حمله کې یې ډول سوری شو او مرمۍ یې له غوږونو سره تېرې شوې، ګڼ شمېر مړي او زخمیان

يې وليدل، چې ورپاته شول، د واهمې يوه داسې تبه پرې راغله، چې په ځنځولۍ کې يې کور ته ورساوه. څو شپې ډوب پروت و، کله- کله به يې سترګې رډې ونيولې، نارې به يې کړې، هغه دی، هغه دی..
راغلل، ولې مې، ولې مې، بچ مې کړئ، وژني مې، وای خدايه، مړ شوم...
چې روغتون ته يې ورساوه، معلومه شوه، چې وچکۍ نيولی دی، تر معالجې لاندې ونيول شو، ورو ورو يې تبه وشلېدله او له يوې پنډې دوا سره يې کاله ته رخصت کړ .

## ديارلسمه برخه

ملا صاحب چې په دېره اسمعيل خان کې واړول، هلته علماوو جهاد اعلان کړی و، ډلې ډلې ځوانان د وسلو په تلاش پسې ګرځېدل، چې بېرته جهاد ته ستانه شي، په پېښور کې د اسلامي تنظيمونو ځينې دفترونه جوړ شوي وو، چې د مهاجرينو له خدمت سره مجاهدين هم مسلح او منظم کړي .
ملا صاحب په دفترونو کې حال واخيست، څرنګه چې نه يې عمر د دې تقاضا کوله چې عملي جهاد ته ملا وتړي. نه مشهور مدرس و، چې ملا صاحبان يې نظر انداز نه کړي. له دې دورې صرف يو د تنظيم کارډ په لاس ورغی، چې بيا يې د هغه په اعتبار يو راشن پاس هم جوړ کړای شو، د راشن له برکته يې غله له کوره پوره کېده .
کله- کله به لا په لومړيو کلونو کې چای، بوره او غوړي هم لاس ته ورتلل، چې ګذاره يې ورباندې کېده، يو دوه خېمې هم وررسېدلې وې، چې سر ترې لاندې پناه کړي. خو په خېمو کې اوړی تېرول، ګرانه خبره وه. لاس په کار شو، يو دوه خونې يې پټې کړې، فکر يې وکړ چې نور څه وکړي، بېکاره وخت نه ورباندې تېرېده، هغه پخوانۍ پېشه يې چې په کلي کې د ټوکرانو ګرځول او خرڅول وو، هم خوښه نه شوه. يو دی زوړ شوی و، هغه پخوانۍ سېکه او حوصله نه وه ورپاته، له بلې خوا د سيمې د خلکو وضعې ډېر تغير کړی و، په هر کلي کې دکانونه جوړ شوي وو، برسېره پر دې په

داسې حال کې چې پر وطن يې سور اور بل و او د قام بچي يې په سرو وينو کې رغښتل، په ارام زړه يې سوداګري نه شواى کولاى. په خپل کور، خپل چمبر کې اوسېدلي، په خپلې مځکې له خپلې کروندې سره روږدي شوي ملا صاحب ته اوس په عاريتي خونه کې ژوند ډېر ګران و، چې په خپل لاس روزلې ونې به يې سترګو ته ودرېدې، هغه له بادامو راتاتې شوې څانګې چې به ورپه زړه شوې، هغه د سرو ولو سوړ سيورى، هغه د ماشومانو شور، د ښوونځي لپاره منډې ترړې، په قومي جرګو کې ناسته ولاړه، په شا و خوا کليو کې د ده حيثيت اوس درست اوبو وړي وو، بس د يوه سپين ږيري او قابل ترحم مهاجر په توګه د بل داد ته ناست و، په زړه به يې اور بل شو، بې اختياره به پاڅېد، په پرديو پټيو کې به يې بې اختياره چټك چټك ګامونه واخيستل، تر ليرې ليرې به لاړ. بېرته به ستړى ستومان راغى. په کاله کې به يې پښې وغځولې، په چاردره او ارچې کې له ترخو چايو سره روږدى شوى و، ترخې چاى به يې وغوښتلې.
ښځې به يې اکثره ورته ويل:
دا چاى ميرات مړې ډېر مه څښه، وايي د زړه وازدې ويلې کوي .
ګټه يې څه ده؟...
_وازدې نه ويلي کوي، که يې ويلي کولاى، زما په زړه به لا څه غوړ پاته وي، چې غم يې کوي، ښه دى دغه تريخ چاى لا ښه دى، لږ څه مې پام ورباندې په بله شي .
ملا صاحب له بېکارۍ په زړه ستړى و، نه يې کله بېکاره وخت تېر کړى و، نه يې د جهاد په دې ګرما ګرمۍ کې د بې تفاوتۍ ارام خوبونه خوښېدل،ډېر فکر يې وکړ، چې څه وکړي؟ اخر يې دا خوښه شوه چې جهادي سندرې جوړې کړي او په خپل اواز يې په ترنم سره په کمپونو کې خلکو ته ور واوروي، په ځوانانو کې به د جهاد روحيه ګوندې ورباندې تقويه کړي. دا هم جهاد دى.
يو دوه جهادي چاربيتي يې وليکلې، چې څو ځايه يې خلکوته ور

واورولې، د خلکو خوښې شوې، هغه چاربیتي یې چاپ کړې، چاپ شوې رسالې یې په کمپونو وګرځولې، خو ژر ورمعلومه شوه، چې زموږ لوستي خلك هم له کتاب او لوستلو سره چندان مینه نه لري، پاته شول په سلو کې کابو پنځه نوي نالوستي خلك، هغه به په رسالو ولې پیسه ورکوي. زموږ ولس د لوستلو حوصله نه لري، د اورېدلو ډېر شوقمن دی. باید یو ټیپ ریکارډر واخلم او دا سندرې په کسټونو کې ثبت کړم، کسټونه ضرور خرڅېږي، دا به هم یوه اندازه ګټه راته کوي، هم به له بېکارۍ ورپورې خلاص یم، هم به مې په جهاد کې برخه اخیستې وي .

ښار ته لاړ یو کوچنی ټیپ او څو سپین کسټونه یې واخیستل، چې چاربیتي یې په ښه اواز په کې ثبت کړې، کمپ په کمپ ګرځېدا یې شروع کړه، هره ورځ به یې لس دوولس کسټونه پلورل کېدل، چې د خپل اواز بازار یې ګرم ولید، د نورو شاعرانو شعرونه، جهادي لنډۍ او دا شان غزلې به یې هم په خپل ږغ ثبتولې او خرڅولې. په دې توګه یې ډېر ژر کار جوړ شو. هم یې له بېکارۍ ژغورلی و، هم یې د مسوولیت وېره کمه شوې وه .

کله چې روسانو مستقیماً خپل پوځونه افغانستان ته راولېږل. ملا صاحب هم د نورو افغانانو غوندې خپل جهاد ته زور ورکړ. د الحاد او استعمار پر خلاف یې ډېر شعرونه نور هم په کسټونو کې ثبت کړل. تر لیرې لیرې کمپونو به یې چکرونه وهل. د جهادي تنظیمونو جریدې او رسالې به یې لوستې، له حالاتو به یې ځان خبر ساته، که به چېرې په کوم جومات کې موقع په لاس ورغله، د جهاد په ګټه به یې تبلیغ هم کاوه، چې دغو تبلیغاتو د مهاجرو نظر وروااړاوه، په هر کمپ کې به یې عزت کېده او یو ځانګړی حیثیت یې ورپورې موندلی و .

## پنځلسمه برخه

ملا صاحب به له دېرې تر پېښوره تلو راتلو، په کمپونو کې به یې خلکو ته خپل ثبت کړي کسټونه وراورول. چې د چا به خوښ شول،

ورباندې پلورل به يې، علاوه پر دې يې په جوماتونو کې د جهاد تبليغ او د اتحاد تلقين هم کاوه، د کوم خاص تنظيم لپاره يې ترښځ نه وهله، له دې امله په هر چا ښه لګېده او د خدای د لارې لاروی يې باله .
د روسانو په يرغل پسې خبر شو، چې د شرف الدين کډه هم راغلې ده او په زړو مېنو کې يې اوړلي دي. ورغی، چې حال يې واخلي، شرف الدين ډېر ورته خوشحال شو، ملا صاحب ورته وويل :
راځه، له ما سره واړوه، کارډ به درته واخلم او د راشن او خېمې غم به دې هم وخورم، هغه ورسره ومنله له ده سره مېشته شو. ملا صاحب ته يې وويل :
ملا صاحب! وايي مرده بدست زنده، زه يو پټې سترګې سړی يم، چې په ليك لوست نه پوهېږي، هغه ړوند وي، چې څه وايې ستا يې ويل، زما يې منل .
ملا صاحب وويل :
زه اوس بوډا شوی يم. نه مې دماغ چندان کار کوي، نه مې نظر سالم دی، زه ستا مرستې ته اړ يم، خو "خاورې راغلې، په ايرو پورې يې واړول، ايرې هم باد يووړې". تا تر ما وار خطا کړی دی. خير، وار مه خطا کوه، تر مرګ رسېدل دي، وبه رسېږو.
_په رښتيا ډېر بوډا شوی يې، ما به ويل که هر څوك زړېږي، زوړ به شي، ملا به خدايزده چې زړېږي، خو ته په دوو کلونو کې داسې سره وځځېدې لکه شل کاله چې دباندې وتلې وي .
_که مې رښتيا پوښتې او خوا دې نه بدېږي زه دومره ژر نه زړېږم، تا زوړ کړی يم .چې ته راځخه لاړې او مخ دې راځخه واړاوه، زړه مې د خدای بې وعدې چاود، ما به ويل که زوی نه لرم، ورور لرم، وربرونه لرم، مړ او ژوندی به مې په ميدان نه وي پاته، کونډه او يتيمان به مې څوك لري، چې مخ ور واړوي، خو تا د خپل زړه ومنل، زما هيلو اميندونو ته دې نه وکتل. نه ما مجبوريتونو، محروميتونو او زما هغه په تا باندې لوربينې او پېرزوينې هېڅ ته

دې هم ونه کتل .
شرف الدین وویل :
خیر دی، ملا ته خوا مه بدوه، وایي کبان چې هر وخت له اوبو راوباسې تازه وي، اوس لا ته هم ژوندی یې، زه هم ژوندی یم، نه ته مړ یې، نه زه چې ارمان مو وي، اوس به یې سره پالو .
_زه خو به یې پر حال درسره پالم، زما له تا نه رغېږي، له تا پرته به چا ته مخ وراړوم، خو په تا مې باور نه شته، ځکه چې یو له زړه سخت یې، بل شکر د زامنو پلار یې، چې هغه هم اوس زلمي شوي دي، یوه بوډا وررور ته به څه ضرورت لرې؟ هغه وخت چې زما کار جوړ و، مځکه، باغ، کار او روغ صورت مې درلودل تا راسره پرې کړه او یوازې دې پرېښودم، اوس به مې څه تر سر واړوې؟
_هغه وخت ته په کلي منلی، په حکومت منلی، سرکاري استاد، ولسي ملا او د ملك پټي خاوند وې، زه یو سپېره د مولا، ستا ښه ژوند ته مې نه شو کتای، اوس مو حساب سره برابر دی.
_هغه وخت خو ما له تا هېڅ هم نه سپمول، خو تا زما مرګ ته اړولي وو .
_ولې به مې نه اړول، چې په یوه شپه د شل جریبه ابادې مځکې، رسېدلی باغ ولاړ کور او چمبر خاوند کېدم، اوس به دې ولې مرګ غواړم، څه دې راپاتېږي؟
ملا مسك شو، ویې ویل:
ما دومره نه ګڼله، چې داسې فکر به کوې، نو ظالمه صبر به دې کړی و، په سمه مې هم هرڅه درپاتېدل .
_ښه شوه ملا، چې هغه زما او ستا د وروری ترمنځ ولاړې ونې او ولاړ دېوالونه له منځه ووتل. ستا په مځکه مو وروري نه شوای سره پاللې، د خدای په مځکه به یې سره وپالو .
ملا صاحب بیا په خندا ورته وویل:
رښتیا چې نېستي هم کله- کله پاکه پاچهي وي، که مې هستي لاړه، له بېکسۍ خو خلاص شوم.

بله ورځ ملا صاحب دی ورسره روان کړ، د تنظیم کارډ یې ورته واخیست، بیا یې څو ورځې منډې ورسره ووهلې، راشنونه یې ورته جوړ کړل، چې فارغ شوو خپله پنډه یې واخیستله، مخ په پېښور وخوځېد، هلته د یوه تنظیم د دفتر مخ ته یې خپل یو کسټ په ټیپ کې ایښی و، څو تنه مهاجر وربانديې راټول وو، د ملا صاحب په اواز کې یې جهادي سندرې اورېدې، په دغه وخت یو موټر راغی، د دوی خوا ته ودرېد، یو سولدار سړی ترې راکوز شو، چې ډرېور ته یې هدایت ورکړ، دوی ته متوجه شو، چې څوك دي او په څه راغونډ دي، چې نژدې ورغی، ملا صاحب یې وپېژاند، ورتېر شو، په غېږ کې یې ونیو او په ډېره مینه یې پوښتنه سره وکړه، بیا یې ورته وویل :

دا څه کوې؟

_ولسوال صاحب !ډېر ښه شو چې روغ جوړ مې ولیدې، کله- کله به راپه زړه شوې، امید مې نه و چې سره وینو به، زه دا دي د جهاد سندرې وایم .

ولسوال تر لاس ونیو او له ځانه سره یې دننه دفتر ته بوت، ولسوال اوس د یوه تنظیم د اداري چارو رئیس و .

چې سره کښېناستل، چای یې ورته راوغوښت، حال احوال یې سره واخیست، له یوې خوا بلې خوا سره وړ.غېدل، زړې خاطرې یې سره یادې کړې، مازدیګر یې خپل کور ته ورسره بوت، چې د شپې ډوډۍ یې سره وخوړله، ولسوال ورته وویل :

ملا صاحب! ومې بخښه، زه ستا په نسبت خلکو ډېر شکن کړی وم، په شك او تردید به مې درته کتل او هر وخت به مې ستا حرکات او مکنات په دقت څارل، ښه شو چې د هغو شکونو وروستي خاپي هم زما په ذهن کې رنګ شول، ما وبخښه، زه نه وم ګرم، ما ته مختلف اطلاعات رارسېدل، له بلې خوا ستاسو خبرې، لهجه او حرکات هم څه داسې وو، چې شکونو ته یې وده ورکوله. ما به دامنلې وه چې تاسې کوچیان وئ، پاکستان ته د تلو راتلو په وجه او په هندوستان کې

د تعلیم او ګذارۍ له امله به ستاسو لهجه اوښتې وي، تاسو د هندي ملا صاحبانو به ادابو ته هم په څه سترګه نه کتل، ملا وې خو د ملا صاحبانو جامې او ناسته ولاړه دې نه خوښېده، کوچی وې خو تر ښاریانو مهذبه او روشنفکر، علاوتاً دومره سوړ او بې تفاوته چې په پښتنو کې دې ساری نه و، نو ته ووایه چې ما به څه فکر کولای شو؟

ملا صاحب وخندل او بیا یې وویل :
که اوس هم نژاداً پیرنګی یم، څه شك به وي؟
_اوس دې تر ډېرو مومن او پښتون ګڼم!
_اوس مې هم د اصل او نسب څه ثبوت نه شته درسره، د څه له مخې وایاست؟
_زړه مې راته وایي .
_که د زړه منې، زړه خو دې هغه څه هم منلي وو، چې اوس یې معافي غواړئ .
_ملا صاحبه! هغه منل د راپورونو له مخې و، دا منل له ډېر تحقیق وروسته، نور نو په تېرو اشتباهاتو ډېر خجالت مه راکوه، بیا هم بخښنه غواړم .
دواړو سره وخندل، ولسوال صاحب د چایو پیاله ورته ډکه کړه او ورته ویې ویل :
څه به وشي چې خپل سرګذشت راته ووایې .
_اوس که مې وپېژنئ څه ګټه به درته وکړي، که مې نه و پېژنې څه تاوان به دې کړی وي؟ اوس خو ته له پیرنګیانو څخه نه وېرېږې، خلقی یا روسی خو یقین لرم، چې نه درته ښکارېږم .
_خدای دې نه کوي، که واقعاً هم پیرنګی یې، زه درته احترام لرم، که دې کیسه وکړې، زما د زړه یوه غوټه به دې خلاصه کړې وي .
_خو زما په زړه کې مړې شوې سکروټې به بیا تازه شوې وي .
_ملا صاحب! زما دلچسپي له دې سره ده، چې یو سپین سپېڅلی پښتون یې، خو ژوند، ژواك، خوی، خصلت دې راته عجیبه غوندې

ښکارېږي، ملا یې، خو د ملایانو لباس او رفتار دې نه خوښېږي، تعلیم دې په دیني مدرسو کې کړی دی، اما جوړه دې له موسیقي سره ده، وظیفه دې امامت و، خو ورځ به دې په نورو چارو تېرولـه، کوچی وې، خو خلك به دې عصري ژوند ته رابلل ...
-بنیادم یو له خاورو، ختو جوړ شوی لوښی دی، هغه هم له اومو ختو؛ وخت او زمان یې هم ظاهري څېره وربدلوي، ځکه چې سولېږي، توږل کېږي او دوړېږي، که یې ظاهري وړ اړوې، باطني جوړښت یې هم د زماني باد و باران ته بې اثره نه پاتېږي. د وخت په تېرېدو انسان دومره بدل شوی وي، چې له پخواني قالب سره یې لږ شباهت هم نه وي. زه هم انسان یم، د ژوند ستونزو، د وخت پېښو او د تقدیر له لاسه له یوه ځایه بل ځای ته غورځولو راغورځولو وسولولم، ویې توږلم، کنډ کپر یې کړم او په نتیجه کې یې دا شی راڅخه جوړ کړ، چې وینې مې!
_ملا صاحب! یار دې یم، دوست دې یم، ورور دې یم، څه به وشي چې د ژوند کیسه دې راته وکړې، زما ډېره سودا ده، چې ستا له ژونده خبر شم، غواړم چې ستا په حال پوه شم او وګورم چې څه عوامل وو چې ته یې دومره بدل رابدل کړی یې؟
_د یوه ورك سړي به څه کیسه وي؟
_کیسې د ورکو، مسافرو خوندورې وي، په عادي ژوند کې خو هېڅ د اورېدلو وړ څه نه وي .
_داسې خو ده، لېکن زه به څه ووایم؟ زما د ژوند کیسه ګومان نه کوم چې دلچسپه وي، د مکررو بدمرغیو کیسه ده .
_په هر حال، ووایه چې لومړی دې څرنګه دیني علومو ته ملا وتړله، بیا څه علت و چې رندي او ساز سرود ته دې مخ ورواړاوه، حتماً په دې کې څه راز شته...
_تاسې ښار ته روان شئ چې د کور ضروریات واخلئ، هلته په یوه مېله واوړئ، د مېلې هوس درڅخه ضروري کار هېر کړی، چې کله تش لاس راستانه شئ، ملتفت شئ چې ضروري شیان مو نه دي

اخیستي، بلکې د خرید لپاره وړې پیسې هم درځخه بېځایه مصرف شوې دي. په دې کې به څه راز ولټوو؟...
په دې ډول څو شېبې د ولسوال بیا بیا غوښتنې وې او د ملا صاحب له اصلي ځوابه ډډه کول وو، څو چې په پای کې ملا صاحب کیسه وکړه، ویې ویل :
موږ کوچیان وو، زموږ پلرونو نیکونو به ژمی د دېره اسمعیل خان شا و خوا اړول، اوړی به په شلګر پراته وو، موږ نه وزې لرلې، نه مېږې، یوازې موسمي مرغان وو، په هوا پسې تلو، کار کسب مو په ژمي ختې، مزدوري یا ګرځنده بزازي وه، په اوړي به مو له ځان سره وړي مالونه د شلګر په کلیو کې اوبه کول، زما پلار د خپل کلي ملا و، موږ به په خپلو مقتدیانو پسې تلو، یعنې د لمانځه په وخت به زما پلار امام او نور به یې مقتدیان وو، خو د لږد او مېشتي فرمان به نورو صادراوه. د نورو خوښه به وه چې تلل، که پاتېدل. زما پلار او د کلي ډم به د هغوی په خوښه لېښل، یعنې په لږد کې نور اماماان وو، مقتدیان دغه دوه کوره وو، د ډم کور او د ملا کور، ځکه چې موږ دوه کوره په دوی چلېدو، نور مو نه کار و، نه سوداګري .
زه تخمیناً اویا کاله پخوا په روانو کډو کې وزېږېدم، ځکه داسې سترې یم، پلار راباندې عزیز الدین نوم کښېګښود، چې پنځه کلن شپږ کلن شوم، پلار راباندې د الفبې لوستل شروع کړل، ورو ورو مې له "قدوري" تر "ملینې" کتابونه له پلار څخه ولوستل، بیا مې د شلګر په مدرسو کې لوستل پیل کړل، څو کاله طالب وم، په مدرسو کې به یې کوچی ملا بللم، ځکه عملاً کوچی وم، په اوړي به مې په شلګر کې سبقونه لوستل، په ژمي په دېره کې، په مدرسو کې دغه اختصاصي نوم یو ځانګړی ذهن او تصور رابخښلی و، چې ما به هرڅه وویل، ملګرو به مې وخندل او ویل به یې: کوچی ملا دی .
کوچیان تاسو ته هم معلوم دي، چې پیاوړي، مست او بې پروا خلك دي، زه هم کوچی وم، په صورت باندې، پیاوړی، چست، چا لاك او د ژوندي زړه خاوند؛ د طالبانو په مېله کې به چې زه نه وم، مېله

به سره وه، ما به مېله په سندرو، په ټوکو او په مست اتڼ مستوله، له دې کبله په ښا و خوا مدرسو کې مشهور وم. هر چا کوچی ملا پېژاند او هر چا ته د کوچي ملا چټه ځواني معلومه وه .
عمر مې تر شلو کلونو اوښتی و، د درسونو مې وروستۍ میاشتې وې، لږ وخت پاته و، چې د ملايي پګړۍ راوتړله شي. نه پوهېږم چې له ښه مرغه وو که له بده مرغه، یوه ورځ چېرته روان شوم، هغه لار چې زه وربانديې سم شوی وم، د یوې ویالې په خوا کې تېرېده، چې کتل مې د هغه کلي پېغلې ناوې د ویالې په غاړه پنډې دي، جامې مینځي، د دوی خندا او کړکچ ورته ملتفت کړم، نوك مې راتم کړ، چې لاره بدله کړم، د دوی اوازونه مې واورېدل چې یوې وویل :
غلې شئ، چې سړی راروان دی .
بلې وویل :
پروا نه لري، ملا ښکارېږي .
په ما دا خبره بده ولګېده، زه هم په سپين سترګی تر دوی کم نه وم، بېرته پرې ورووران شوم، چې نژدې ورغلم، ورته ومې کتل، له یوې نجلۍ پرته حرامه ده که نورې چورت هم راباندې خرابوي، لوڅ مخ، ورنغښتي لستوڼي، لوڅې غاړې، سره ږغېږي او خاندي .
ما ورته وویل :
تاسو څرنګه وویل ملا دی، پروا نه لري، مګر ملا سړی نه دی!
یوې وویل: ملا ګله! خوا مه بدوه، ملا سړی دی خو سیال مو نه دی، سترګې له سیاله شرمېږي .
زه مخامخ ورته ودرېدم، د پردې او حیا مسئلې مې ورته تشرېح کړې، څه به يې پېوم، په دغه حال کې به مې ورته کتل هم. ښې وې، ښکلې وې، او خره هم چې ځوانه وې، ښه ښکارېږي. لېکن په ټولو کې د هغې یوې نجلۍ د نیم مخ لیدو مې په نیم بدن اور پورې کړ، هغه نجلۍ چې لومړی يې لا ځان راڅخه نغښتی و، پېغلو زما مسئلو ته غوږ نه ونیو، په خټ خټ يې راپورې وخندل، نور مې ورته

دربېدل مناسب ونه ګڼل، روان شوم، چې څو قدمه تر دوی تېر شوم، بې ارادې مې مخ شا ته واړاوه، هغه نجلۍ مې ولیده چې پوړنی یې له مخه اخیستی و، نظر مې د دې پر بانه ورو سترګو ولګېد، کاشکې مې شا ته نه وای کتلي، نه پوهېږم په هغه حیاناك حسن کې څومره جاذبه وه؟ هوش، فکر، واك او اختیار یې هرڅه رانه ستانه کړل، تش کالبود ترې روان شوم .
بیا څو ځله په هغه لار راغلم، لاړم، خو د هغې پېغلې ښورې سترګې مې نه و لیدې، داسې راته ښکاره شوه، چې د کلي د خان یا ملك لور به وه، کله- کله به له نورو سره د هوس په لمسه د ویالې په غاړه کښېناسته نه د کار او ضرورت له مخه، چې پوښتنه مې پسې وکړه، زما حدس پرځای و، نجلۍ د کلي د مشر امیر خان لور وه، چې ګل بخته نومېده، ګل بختې زه بدبخته کړی وم، ارام او کرار یې راڅخه اخیستي وو، لکه د لېچنې ګوتې خاوند شپه و ورځ ناکرار وم، نه مې په کور کې ټېکه کېده، نه په مدرسه کې، نه مې کتاب ته کتل، نه د استاد خولې ته، چې هرڅه ته به مې کتل په هغه به د هغې د بانه ورو سترګو سیوری و، هر شی به دا رایادوله او هرځای به مې دا تر سترګو سترګو کېده، د دې د سترګو له ښکلا سره حیا داسې غاړه غړی شوې وه، چې زه نه پوهېدم، په ښایست یې مین یم که په حیایې؟
ویلې سبقونه راڅخه هېرېدل، مدرسې ته مې شا کړه، د فراق سندرې به مې ویلې، چې سحر به له کوره ووتم، تیاره ماښام به راستنېدم، کری ورځ به کلي په کلي ګرځېدم، لږ تر لږه به د ورځې درې ځلې پر هغې نرۍ لارې تلم راتلم چې ګوندې بیا یې ووینم، کله- کله به مې نورې نجلۍ ولیدې، خو دا به یې په ټولۍ کې نه وه .
څرنګه چې د خپل لېوني زړه له لاسه له مدرسو څپ وهلی شوی وم، د دې لپاره چې د زړه پټ غمونه د ځوانانو په مېلو کې وځندم، د هر اتڼ په سر کې به ولاړ وم، په غبرګو رومیالونو به غورځېدم،

په څلور اړخه به ډول ته اوښتم، د اتڼ ناريې خو به زما له اوازه پرته خپل خوند او اثر بايللی و، چې په اتڼونو به د ځوانانو اشمه ماته شوه، د ساز او سرود په ميدان کې به هم زما سندرو ته ډېر تږي ناست ول، له دې امله چې لوستی سړی وم، تر هر چا مې ښه شعرونه ښه پېژندل او ښې غزلې به مې وراوروليې، چې هر ځای به له چا سره د چا د شعرونو ديوان و، ما به ځان وررسولی و او انتخابي غزلې به مې ترې نقل کړې وې .
ورو ورو زما طبعه هم روانه شوه، د خپل زړه غوښتنې او د خپل ژوند حالات به مې په شعرونو کې انځورول، که څه هم زما شعرونه خام وو، له بديعي ښېګڼو او صنعتونو تش وو، خو چې له زړه راوتل په زړونو کښېناستل، د سوي زړه فريادونه او د لېونۍ مينې پيغامونه ول، د هر چا خوښېدل او د هر چا په طبعه لګېدل، په تېره چې زما په اواز کې به يې د ساز له نغمو سره د زلمو په ټول کې اورېدل .
ملا صاحب پياله وريپورته کړه، سوړ شوی چای يې په يوه اينده وڅښه، ولسوال صاحب د ده کيسې ته غوږونه ايښي او داسې يې د ده خولې ته کتل، چې تا به ويل د ملا صاحب د ژوند د کيسې فلم د ده په خوله کې ويني .
چې پياله يې کښېګښوده، بيا يې کيسه پيل کړه :
موږ له يارانو دوستانو سر ټکوو، چې زموږ سپارلي رازونه يې فاش کړه، په حقيقت کې تر ټولو لوی افشاګر په خپله د راز خاوند دی، چې موږ خپل رازونه په خپله نه شو ساتلای، له بله څه توقع لرو، چې وبه يې ساتي؟ ما د زړه حال يوه نيم يار اشنا ته ووايه، يار اشنا مې خپل يار دوست ته دا امانت وسپاره، په لنډ وخت کې خبره ډنډوره شوه، په نژدې شا و خوا کليو کې هر ځای دا کيسه مشهوره شوه، چې کوچی ملا د پلاني خان په لور مين شوی دی. سبقونو ته يې شا کړه، شپه و ورځ د ګل بختې په ياد سندرې وايي .
دا خبرې مې د پلار غوږ ته ورسېدې، ډېر نصيحتونه يې راته

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

وکړل، ډېر يې سبقونو ته وهڅولم، ډېر يې د عشق له ترخه انجامه
ووېرولم، خو فايده يې ونه کړه، کاشکې يې نصيحتونه نه راته
کولای، عشق يو داسې مرض دی، چې څومره مين ترې راګرځوې،
هغومره بابېړی پرې کوې .
اخر مې پلار مجبور شو، د امير خان کره يې مرکه ورولېږله، هغه
ظالم نه وړه، نه يې راوړه، مرکچيانو ته يې وويل :
په لور خو مې مېړه نه دی درېدلی، چې ملا ته به يې ورکوم. هغه
هم يوه کوچې ملا ته، چې نه پر مځکه سيوری لري، نه په اسمان
ستوری. په ټوك لوی شوی، درست عمر به د بل خيرات ته ناست
وي .
دا هغه ځواب و، چې زه يې سم له ملايي خواتوری کړم، فکر مې
وکړ چې که ملايي تر ټولو کسبونو او پېشو د خلکو په نزد خوار او
بېمقداره کسب نه وي، نجونو به ولې ويل، ملا دی پروا نه لري او د
ګل بختې پلار به ولې داسې ځواب راکاوه؟...
ملا صاحب چې دا وويل، څه شېبه پټه خوله شو، زړو خاطرو يې
په ذهن کې بيا غوبل جوړ کړی و .
ولسوال هم چې د رازونو ګنجينه موندلې وه، ورته ويې ويل :
ښه ملا صاحب، نور، بيا؟؟.
ملا صاحب لکه څوك چې له خوبه راويښ کړې، سر يې راپورته
کړ، ځانته متوجه شو، بيا يې کيسې ته ادامه ورکړه :
بيا نو چې له هغې خوا مايوس شوم، کيسه هسې هم خوله په خوله
ګرځېده، ببر سر، ببرې څګنې به په کليو راګرځېدم او په هسك
اواز به مې په لويو لارو کې د عشق سندرې ويلې، ماشومان به
راپسې وو، د ګل بختې لېونی به يې بللم. پلار مې له ډېرې خواشينۍ
رنځور شو، ثمر ته رسېدلی باغ يې د مينې سېلاب له بېخه ايستلی
و، د ښې وايې زوی يې لېونی شوی و، مور مې د ژوندي زوی د
ماتم په ټغر ناسته وه...
منی راورسېد، د کډوالو د کوچ و بار وخت، پلار مې په هغه

ناروغۍ کې مجبور و، چې ورسره ولښنېږي .
ولسوال وپوښت :
چې کډې بار شوې، تا څه وکړه؟
_زه يې هم بوتلم، زړه مې په شلګر کې پاته شوی و، خيال او فکر مې هم هورې چکرې وهلې، خو زه د مور و پلار د زړونو لپاره ورسره خوځېدلی وم، ډېر ښه و چې کوچی وم. په مزلونو کې غمونه، دردونه او محروميتونه هم لکه له پښو سره راالتېدلي پوتي ډېره برخه شاته پاته کېږي، هر مزل يې يوه ننداره او هر پړاو يې بله منظره لري. علاوه پر دې د کډې لېږدول او اړول هغه مصروفيتونه دي، چې د څه وخت لپاره نورې اندېښنې له زړه وتمبوي. تر دامانه چې رسېدم هغه د جنون تر پولې رسېدلی دماغ مې لږ څه ځانته، کور ته ، پلار او مور ته متوجه شوی و، هلته مې خير په دې کې وليد، چې له نورو تر برونو سره ژمی د ټوکرانو په پلورلو مصروف شم، د پلار مې هم دا سلا وه، ممکن هغه به هم تجربه لرله، چې کتاب او مطالعه معنوي مشغولتيا ده، د مينې اور ته نور هم پکی وهي. ځکه چې عشق هم معنويت دی، هرڅه مزدوري، کسبونه، تجارت او نور داسې کارونه د مادي ګټو لپاره وي، له معنوي عالم څخه يې راګرځوي، دا ربښتيا شوه، په لنډ وخت کې مې اردو او سرائيکي ژبې ښه زده شوې، له پښو هسې هم چټك وم، چې نورو به خپلې پنډې په يوه کلي راګرځولې وې، ما به دوه کلي تر پښو لاندې کړي وو، له دې ګرځنده سوداګرۍ سره ښه بلد شوی وم، تر درستو ملګرو زما فروش ډېر او ګټه مې ښه وه، خو د ناکام عشق غمونو د خيال فراغت ته نه پرېښودم، چې مينې به مې د زړه غوړونو ته خلی راوړ، ما به غوړونو ته ګوتې وروړې، د زړه براس به مې په بدلو ويوست، د کليو ترمنځ لارې به مې په سندرو لنډولې .ما ته به مې زړه ويل چې که ښې مګنډې ووهم، ښه خپل کار ته متوجه شم او کافي ګټه ترلاسه کړم، بيا به د ګل بختې پلار څه وايي، ايا بيا به مې هم په ټوك لوی شوی، د پردي خيرات په تمه

ناست کوچی ملا بولي، که يو تکړه سوداګر او سم سيال؟ کېدای شي چې غاړه کښېږدي .
دې تمې نور هم تکړه کړی وم، ليرې کلي راته د کور په خوا کې ښکارېدل او په ټوله ورځ پلي تګ نه ستړی کېدم. عشق مبتکر وي، له کاره سره چې مينه نه وي، نوښت او ابتکار نه په کې راځي، ما هم په سوداګرۍ کې نوې لارې پسې کتلې، يو سايکل مې واخيست، پنډه به مې په سايکل وتړله، چې نورو به د ورځې پنځه شپږ ميله مزل کاوه، ما به لږ تر لږه پنځلس ميله فاصله طی کړې وه، زما د سوداګرۍ حلقه ورځ په ورځ لويېدله، ورسره د ښا و خوا کليو د ښځو ذوقونه او ضروريات لا ښه رامعلومېدل، ما چې به کوم مال ورو ږ ډېره برخه به يې ځای پرځای اوبه کېده، ځکه به په نوي مال پسې ښار ته هم ډېر تلم، چې ژمی ووت، تر ټولو کليوالو ما ډېره ګټه کړې وه او تر ټولو ډېر ښه په خريد و فروش کې وارد شوی وم. د کور وضعه مې د پوښ او لوښو کيږو له خوا بدله کړې وه،د کال خرڅې راسره پروت و، د ډېرې لوی تاجران مې پېژندلي وو، اوس نو که تش لاس هم ورتلای، ډاډه وم چې ډېر مال راکوي، په خپله مې ځان ته له بخملي چرمه دارې سدرۍ سره د سرو شملو لرونکې توره کوچيانۍ پګړۍ اخيستې وه، سرې څپلۍ او خړې جامې مې له هغه کاله ځانته خوښې شوې دي .
اوس نو که هرڅه وم، ملا نه وم. پورته کډې په دې لباس کې وختم .
ولسوال پوښتنه وکړه:
پورته کډې څه ته وايي؟
_داماني کوچيان چې له ډېرې د وطن پر لور لېږدي، دښته پورته کډې وايي، چې له وطنه د دامان پر لوري بارېږي، کښته کډې يې بولي او دامان د ډېره اسمعيل خان مربوط شګلنه بېديا ده، چې ژمی کډوال په کې پراته وي .
_ښه! ملا صاحب! کيسه دې کوه، چې شلګر ته راورسېدئ، بيا څه وشول؟

ملا صاحب وويل :
بيا نو چې راورسېدو، د رارسېدو په سبا مې پلار وفات شو، خداى دې پرې ورحمېږي، تا به ويل چې خاورې يې خپل وطن ته رارسولي. جنازې ته يې ګڼ خلك راغلي وو، خصوصاً علما او مشايخ، چې په دوى كې زما ځيني استادان او له ما سره ملګري طالبان هم وو. چې زه به يې په دې لباس كې وليدم، سرونه به يې وخوځول او يو بل ته به يې اشارې سره وكړې، چې د خداى له لارې اوښتي ته وګوره، زما وروستى استاد چې له ما سره يې ډېر زحمت ايستلى و، چې روغبړ مې ورسره وكړ، راته ويې ويل :سعدى عليه الرحمه رښتيا ويلي دي، چې :
زمين شور سنبل بر نيارد درو تخم عمل ضايع مګردان
زما هم بې ارادې له خولې ورووتل :
چې د عمل ميدان ته ووتم، حق په جانب به يم، كه ووايم
حيف ان عمر كه در پاى تو من سر كردم
استاد حيران شو، چې دا زه ورته څه وايم، كوچى طالب او دومره بې حيايي؟ هېڅ يې ونه ويل او را څخه تېر شو، چې زه اوس هم په دې خبره له ځانه شرمېږم .
چې د پلار له ښخولو او پاتا ورخلاص شوم، په سايكل به مې پښنه واړوله، بيا به زه وم او په شا و خوا كليو راګرځېدل، په ښكاره به مې د يارانو دوستانو د پوښتنې په پلمه راغوښتل خو باطني مجبوري مې د ناكامې مينې پټ تحريك و، چې ارام ته به يې نه پرېښودم .
چې د كډو وخت رانژدې شو، د مور له سلا مشورې پرته مې بيا څو تنه نژدې ياران د ګل بختې په پلار جرګه كړل، خو د هغه ظالم هغه يوه ټپه زده وه. هغه د پېغورونو سروكي يې ورواورول .
نه پوهېګدم چې دا پېغورونه به څرنګه راڅخه اوړي؟ څه وكړم چې سيال مې وګڼي او په څه طريقه ځان ورباندې ومنم؟... نه پوهېدم چې زموږ د ولس به په دې طرز تفكر انجام څه وي؟ چې كسب ته په سپكه ګورو، هنر ته ارزښت نه وركوو، پښ، كلال،

ترکانې، موچي، درزي او ډم ټيټ خلك ګڼو او عالم هم ټوك خور بولو او له سيالۍ يې باسو، دا په بې کمالۍ وياړونه به مو کوم ځای ته ورسوي؟ هم مې ځانته خوا بدېده، هم ولس ته، خو چاره نه وه .
د مني سړو بادونو لکه وچې پاڼې موږ هم ورسره هوايي کړو، وړو يې، وړو يې ځو چې يې د دامان په سپېرو شګو وښندلو، ما دا ځل له ځو تنو ځوانانو سره پنجاب ته مخه کړه، د نژدې شا و خوا کليو بزازي مې نوروته پرېښودله .
زما د پلار له مرګ راهيسته امامت زموږ له کوره تللی و، نه چا د ماښام پاستې راکول، نه د امامت حق، بل امام يې موندلی و، زه مجبور وم، چې هم ځان د سيالۍ وړ وګرځوم، هم د کور غله دانه او نور مايحتاج ورپوره کړم .
د پنجاب ډېر ګڼ او لوی کلي وي، ګڼ ولس په کې ژوند کوي، په هر کلي کې به مو راوړې پنډې درستې پلورل کېدې، په ښه خوارۍ اوښتی وم، مصروفيت او ورسره کافي ګټو به مې پام لږ څه په بله اړاوه، خو دومره هم نه چې ګل بخته ورپورې هېره کړم.

## شپاړلسمه برخه

ځرنګه چې پنجابيان ډېر د ژوندو زړونو خاوندان دي، مېلې او ساز و سرود محفلونه په پلمه جوړوي، چې کله- کله نامتو سندرغاړي هم ګډون په کې کوي، د مېلو په شپو کې به ما خامخا ځان وروړساوه، په لومړيو شپو کې به مو د دوی سندرې اورېدې، خو ورو- ورو په اتڼ ورګډ شوم، يو نيم اواز به ما هم په کې وځپاوه، خصوصاً چې قوالي موسيقي به وه، د قوالي سندرو لپاره مې هم ږغ مناسب و، هم مې له قوال سره ښه غبرګولای شوای، هغه وو چې ځينو به راته پټان قوال ويل .
د مينې محبت لاسوهنې له کوچې ملا پټان قوال جوړ کړی و، د ورځې په مخه به په خپلې خوارۍ پسې وتلی وم، شپې به مې اکثر له محلي قوالانو سره تر نيمايي اړولې .
چې بيا د ځوړ مني هوا ولګېده، اوښانو غاړې هسکې هسکې کولې،

هسکې څوکې یې ځارلې، په بودګانو هم لکه چې د وطن هوا لګېدلې وه، د مزلونو ستړیا ته هوسېدل او د بارونو وړلو ته یې وزرې ورکولې، زموږ په وزرونو هم اورونه بل شول، بیا د شلګر د سړو اوبو، ژورو کارېزونواو یخو شمالونو په هوس ولېږدېدو، دا ځل مې کافي ګټه کړې وه، که د امیر خان په زړه د رحم اوبه تېرې شوې وای، د ولور روپۍ مې هم لرلې، ورور مې هم زنۍ شوی و، د دوولس دیارلس کلونو په عمر پیاوړی هلك و، زما په غیاب کې یې له تربورو سره پنډې ګرځولې او ښه ګټه یې کړې وه، د هغه له لوري هم ډاډه وم، خو چې ورغلو هغه اش و او هغه کاسه، دا ځل یې د قوالۍ پېغور هم راکړی و .
چې د امیر خان ځواب مې واورېدو زړه مې د لحد په لوټه سر کښېښود، بله لار مې نه لیده، پرته له دې چې په سندرو حسرتونه له زړه وباسم، یقیناً که شعر او موسیقي نه وای، بنیادم به لېونی شوی وای. شعر او موسیقي دی چې زړونو ته څه ارام بخښي او د انسان په افکارو او اعمالو کې اعتدال راولي، د قاتلانو زړونه هم د غوښې دي، خو چې له هنر څخه عاري وي، په لږ فشار تورې ټوپك ته لاس کړي. زه په تجربه دا وایم که دولتونه غواړي چې د خشونت مخه ونیسي او بشر له هولناکو جنایتونو راوګرځوي، د بل ویل ترټل او اعدامول یې یواځنۍ لارې نه دي، بلکې باید هنرونو ته وده ورکړي اوپه عام ولس کې د شعر، موسیقۍ او نورو هنرونو ذوق ورزوي .
ملا صاحب بیا څه شېبه پټه خوله شو، ولسوال ورته کتل، دوه څاڅکي اوښکې یې په سترګو کې راټولې شوې وې، تا به ویل چې دغو اوښکو یې د خبرو لار نیولې وه، چې اوښکو یې له سترګو رخصت واخیست او ده په دسمال پاکې کړې، خبرو ته یې ادامه ورکړه .
اخر اوړی و، خبر شوم چې امیرخان خپله لور چا ته ورکړه، نور مې مه پوښته، چې په ما به څه تېر شوي وي؟
تر لږ سکوت وروسته یې چې غریو لږ څه ښنډې ته کړ، ویې ویل :

د مینې کیسه ظاهراً په دې ځای ختمه شوه، خو د زړه زخمونه مې نور هم ژور شوي وو، شلگر راپورې اور شو، چې هرې خوا ته به مې کتل، د گل بختې کجاوه به مې لیده، چې بل کلي ته یې وړي .
چې بیا مو ولېښل او په دامان مو واړول، مور او ورور مې په خدای وسپارل او زه ترې لاړم. په ډیلي، مدراس، بنارس، لکنهو او کلکتې کې مې یوځای هم د زړه دردونو تسکین ونه موند، په هر ښار کې مې څوورځې تېرې کړې، خو زړه مې یوځای هم نه کښېناست، بالاخره له هنده ووتم، برما ته ورسېدم، هلته مې په رنگون کې واړول، څو وخته په یو څه بل څه مصروف وم، څو چې مې هلته هم په کلیو کې د گرځنده بزازۍ لار وموندله، بیا مې یو سایکل واخیست او د هغو خلکو د خوښې ټوکران به مې له ښاره راوړل او په کلیو کې به مې خرڅول، د برمایانو له ژبې، دود، دستور او ذوقونو سره لږ لږ بلد شوم، له یوه کلي بل کلي ته به مې په تتو ځنگلونو کې نرۍ لارې وهلې، د رنگون په ښار کې د مدنیت مظاهر او په طبیعي ځنگلونو کې د طبیعت مناظر سترگې وراړولې، له ځنگلونو د راز راز مرغانو او غیر اهلي څلور بولو اوازونه اورېدل کېدل، د ځنگلونو په منځ کې به د برمایانو واړه واړه کلي پراته وو، د طبیعت غېږ ته مې پناه ور وړې وه، د ښکلو ښارونو تر ښکلو ماڼیو مې د کلیو څېرې ډېر خوښېدل، دلته طبیعي ژوند و، علاوه پر دې ښه گټه او ښه مصروفیت راته میسر و، نور به مې لا له هیلو خالي شوی زړه څه رانه غوښتل؟
دوه درې کاله هلته پاته شوم، ښې ډېرې روپۍ مې گټلې وې، چې که مې وطن ته وړې وای، کافي جایداد وربانديې اخیستل کېده، خو څه به مې کاوه، گل بختنه واده شوې وه، ما ته له سپېرو خاورو، وچو ترخو او ړنگو دېوالونو پرته هېڅ هم نه رایادېدل، په برما کې مې ژوند کاوه، بې هدفه ژوند، یوازې ژوند، صرف د گېټې لپاره ژوند او په گټلو روپو هم نه پوهېدم چې څه به یې کوم؟
اوس زما هم لکه د ځینو سرمایه دارانو د ثروت ډېرول غایه او هدف

ګرځېدلی و. له روپو سره مې مینه پیدا شوې وه، ولې به نه پیدا کېده، دغه د روپو نېستي وه، چې له سیالۍ یې ایستلی وم، ولې به مې له روپو سره مینه نه کوله، روپو خو ما ته نه ټوك خور ویل، نه یې قوال بللم. په هر حال یې زما منډو او ستړیا ته کتل، زما مینه ورته منظوره وه، نه زما سابقه.
ولسوال وپوښت، بیا دی هغه ډېرې روپۍ څه کړې؟
_له بده مرغه د دوهمې جهاني جګړې اور بل شوی و، تاو یې تر ما هم راورسېد، هره لحظه دا وېره وه چې ښارونه او ځنګلونه به په غېږ کې ونیسي. د جاپان پوځونه داسې پرمخ راتلل، لکه له غرونو راتېیټ شوی سېل چې مانع نه پېژني، څرنګه چې زه په برما کې پردی وم او کړه وړه مې هم پیرنګیانو ته ورته وو، زما لپاره هلته پاتېدل له خپل سر سره لوبې وې، هغه وو چې هرڅه ته مې شا کړه، په ځنګلونو کې کله پلی، کله سپور مخ په هندوستان راوخوځېدم، نور هرڅه راڅخه پاته شوي وو، څه نغدې چې په لاس راغلې وې، هغه مې غنیمت ګڼلې، هغه هم په لاره کې شوکمارو راڅخه وتوړلې، یو سر دوه غوږونه کلکتې ته راورسېدم، په کلکته کې مې څو ورځې دیاړي (مرد کاري) وکړه، چې بلد شوم، له پېژندویو پښتنو سره اسام ته لاړم، هلته مې بیا پنډې په کلیو ګرځولې، څو میاشتې مې شا په پنډو وسولوله، هغومره څه راپاته شول، چې ځان ورباندې دېرې ته ورسوم، چې د ژمي ساه د څوړمنې هوا ورتربتوله، دېرې ته ورسېدم، خو ښه وو کډې لا نه وې لېښلې، مور مې وفات شوې وه، ورور مې واده کړی و، د کور ګذاره ښه وه، خو زه تش لاسی ورته راغلی وم، له څو کاله مسافرۍ وروسته په دوی بار شوم، په دوی به بار وم، یا به نه وم خو ما ته ځان بالکل طفیلي ښکارېده، د بل لاس ته کتل، هغه هم د کشر ورور چې ما لغړه خوله پرې ایښې و، ډېر راته سخت و.
څو ورځې وروسته چې لېږد شروع کېده دوی مې وطن ته رخصت کړل او ما له ورور څخه روپۍ واخیستې پنجاب ته مې مخه

کړه، هلته مې بیا هغه زاړه پلونه تازه کړل، زه وم، سایکل و، پنډې وې، منډې وې او د شپې په مخه د قوالانو محفلونه....
که څه هم د پنجاب د ګټو خونده اوبو وړې وه، بیا هم څه څه راته پاتې‌دل، تر بل مني مې څو زره روپۍ ګټلې وې، کډې لا بېرته په دامان کې نه وې ځای پرځای شوې، چې زه وروړسېدم، ورور مې لاس په کار شو، په خپل کلي کې يې کوزده راته وکړه، ژمی لا نه وتلی، چې واده مې هم راوړ، کورونه مو سره ګډ وو، دا د تا او دا زما مولا نه وو سره پېژندلي، د یارۍ او وروري ژوند و، په بهر کې به زه مشر وم، په کور کې مې شرف الدين ته واك سپارلی و، شرف الدين د کور په واکدارۍ خوشحالېده، زه د کور تر لانجو په ډګر خوښ وم، خپلو پښو ته خلاص وم. په ژمي مې ورور ته وويل، په وطن کې مو څه پاته دي؟ تر څو به مو د اوښ لکۍ نیولې وي؟
دلته هم د پنډو ګرځولو خونده راته خړه ښکاربږي، بهتره به دا وي چې د اوښانو له خیره تېر شو، ښې پیسې کوي، اوښان به خرڅ او کوچیتوب ته به سلام وکړو، په ډېره کې به واړوو، یو دکان به ونیسو، د غرمو څه لرو چې دکان ورباندې وچلوو، هم به اوسېده یو، هم به له بېځایه کوچ و باره خلاص شوي یو .
ورور مې راسره ومنله، اوښان مو وپلورل، په ښار کې مې یو کور وموند، هلته ورکډه شوو، څو ورځې په ډېره کې یوه خوا بله خوا ګرځېدم، اخر مې یو مناسب دکان لاس ته راغی، زه لاهور ته لاړم، مال مې راوړ او دکانداري مو شروع کړه، په دکان کې به کله زه کله دی، کله بیا دواړه ناست وو، ورو ورو خلك راسره بلدېدل، بلد شول، ما هم په لږ ګټه قناعت کاوه، هم مې له خلکو سره په خوږه ژبه خبرې کولې، چې کال ووت زموږ دکان تر ډېرو ډېر مشتریان لرل.
څو کاله په ډېره کې پاته شوو، کار و بار مو جوړ و، څرنګه چې دوه کسه وو، ډېرې ناستې ته هم نه وم اړ، چې ژمی به راغی، کله- کله به په دامان کې په خپلو خپلوانو هم راګرځېدم، په دې حال له ژونده

راضي وم .
کله چې پاکستان جوړېدو، موږ ډېر ورته هوسېدو، چې که خدای کول، اسلامي نظام به راشي او هغه قیودات چې انګرېزانو وضع کړي وو، هغه به لیرې شي، ازاده ازادي به وي، هر سړی به د ژوند په ښېرازیو موړ شي، خو په عمل کې داسې ونه شول، صرف د هندوانو په کورونو او دکانونو هم جټانو قبضه وکړه، مشکلات مخ په ډېرېدو وو، نه انګرېزي قوانین بدل شول، نه د خلکو په ژوند او فکر کې څه مثبت بدلون راغی .
په دېره کې پښتانه هم اوسېدل، خو اکثریت د جټانو و، جټان د پاکستان له جوړېدو سره د مظلومیت پرځای متعرض شوي وو، د هندوانو په جایداد یې واړول، نورو ته هم خرپېدل، له ورور سره مې سلا وکړه، چې څو به په پردي وطن کې پراته یو، پردی وطن هرڅه چې وي، پردی دی، که سړی هر څومره ځان ورسره بدل کړي، څوك به ورته د خپل په سترګې نه و ګوري، موږ لا په هر حال په اولادونو مو وېرېږم چې سبا به نه پښتانه وي، نه جټان، یوه خوا به یې هم نه ورخپلوي. که دې خوښه وي، د دې وطن له خیره به تېر شو، خپل وطن ته به لاړ شو، وطن لوی دی، پراخه غېږ لري، یوځای نه یوځای به مو زړونه ولګېږي، چې د هغه هم راسره سلا شوه، دکان مو وپلوره او وطن ته ستانه شوو، څوورځې په شلګر کې وو، بیا زه کندز ته لاړم، هلته مې امامت وموند، راغلم چې کډه ورولو، ورور مې په شلګر کې پښې وخرلې، ما خپله کډه واخیستله، نوره کیسه خو مې ولسوال صاحب تا ته ښه معلومه ده .
ولسوال صاحب چې کیسه واورېدله، څو شېبې پټه خوله په اندېښنو کې ډوب و، ملا صاحب هم د تېرو هېرو خاطرو په دا غمخانو کې توبن و، چې کومه ښه خاطره پیدا او ځانته یې مجسمه کړي، دواړه پټه خوله وو، د ملا صاحب تلاش لکه چې بې ځایه و، داسې خاطره یې نه و مونده، چې دوه دمه یې ښاد کړي، سوړ اوسېلی یې له خولې ووت، ژر یې یوه خوا بله خوا وکتل .

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

ولسوال ورته وويل :
ملا صاحب! ډېره بخښنه غواړم، زاړه زخمونه مې درتازه کړل، که داسې خبر وای، کله به مې دا درباندې لوروليي وای .
_له هغې مرځې چې زه د ګل بختې پلار مايوس کړم او لور يې بل چا ته ورکړه، ما نه د ګل بختې نوم چا ته اخيستی دی، نه مې خپل داستان چا ته وراورولی دی، خو وايي "يار د يار لپاره خوري د غوايي غوښې."
_معلومات لرې چې هغه به ژوندۍ وي، که نه؟
_دومره خبر يم، چې تېر کال لا ژوندۍ وه .
_چې تا بيا ددې نوم نه دی اخيستی، خبر دې څرنګه اخيست، چې ژوندۍ ده؟
_شاعر وايي :
بهر مجلس که جا سازم، حديث نيکوان پرسم که حرف ان مه نامهربان رادرميان پرسم
له کليوالو او د منطقې له خلکو يې د خاوند پوښتنه وکړم، د زامنو پوښتنه يې وکړم، په ترڅ کې د هلکانو د مور پوښتنه وکړم، څه وکړم زړه مې غواړي چې د مرګ خبر يې نه واورم .
_ملا صاحب! که دې خوښه وي، يو درخواست راکړه، د تنظيم امير ته به دې معرفي کړم، کومه مناسبه وظيفه به دروسپاري. په سپينه ږيره به په روزي پسې ستومانه نه يې او زه به هم خپل وجدان ته نه يم خجالت، دومره عمر بدګمانۍ به مې جبيره کړې وي .
_زه په دا منډو خوښ يم، چې کلي په کلي او کمپ په کمپ نه وګرځم، زړه به مې وچوي، ستا يې کور ودان. خدای دې په عزت لره، مور ته به دغه ليکلي وي .
_داسې وظيفه به درته پيدا کړم، چې خپلو پښو ته هم په کې خلاص يې، مبلغينو ته کافي معاش ورکوي، تبليغ هسې هم کوې، نو ولې کافي معاش نه واخلې؟
_دوی به د خپل تنظيم لپاره تبليغ غواړي، زه د جهاد روح د تنظيم

په پنجره کې نه شم تربت کولای. تا ته دې خدای اجرونه درکړي، ما پرېږده چې خپل غمونه د وطن او اسلام په غمونو کې هېر کړم .

## اووه لسمه برخه

خانګي د قوماندان په خدمت کې پوره راستي کوله، زامنو يې هم خپل توان نه سپماوه، د ولسوالۍ او قوماندانۍ تصورات يې داسې په ذهنونو کې پاخه شوي وو، چې بله يې زړه ته نه ولېده .
يوه ورځ قوماندان خانګي ته وويل :
خانګل خانه! لور دې پېغله شوې ده، بايد يوه مسلمان ورور ته يې ورکړې .
_هو، هو! ښه واياست، د قسمت چارې دي، چې له چا سره يې قلم وهل شوی وي..
_که دې لور خالد ته ورکړې، هم به دې غاړې خلاصې کړې وي، هم به دې موږ ته اعتبار ټينګ شوی وي .
خالد چې اصلي نوم يې غلام جان و، د ولسوالۍ د شا و خوا اوسېدونکی، بې تعليمه، بې جايداده ځوان و، چې پخوا به يې ګاډيواني کوله، د جهاد له پيل سره خو وخته د خلقيانو برېښی و، بې تنخوا، مندې به يې ورته وهلې، چې په هغوی ړنګه شوه، له مجاهدينو سره يې ځان ونښلاوه، قوماندان ته ورنژدې شو، اوس د قوماندان معتمد و، خالد يې باله او له قوماندانه وروسته يې امر چلېده. په عين حال کې د يوې ډلې سرګروپ هم و .
خانګي ورته وويل: که اجازه وي، موږ به سلا په کې وکړو!
_له چا سره سلا کوې؟ هغه دې زامن دې دلته موجود دي، نور لا واړه دي، که له ښځې سره سلا کوې، ښځې ناقص العقلې وي، په خير او شر نه پوهېږي .
_بيا هم که څه وخت راکړئ مهرباني به مو وي!
_دوه ورځې مهلت به درکړم، زامن دې درسره بوځه، مشوره سره وکړئ، خو ګوره دا خبره په زړه لره چې خالد اوس غلام جان ګاډيوان نه دی، بلکې خالد سرګروپ دی، د خالد د کور بسيا کول بې

اجر نه پاتې‌ږي .
دربېمه ورځ خانګي مالګه ورکړه، په کلي کې د کلاشينکوفونو ډزو فضا پر سر واخيستله، تا به ويل په کلي ناڅاپه يرغل شوی دی، نر، ښځې، واړه او زاړه درست وارخطا بامونو ته وختل، چا کورونو ته منډې وهلې، څوك له کوره په منډه ووت، څو معلومه شوه چې خير خيرت دی، د خانګي لور يې خالد ته ورکړه، ايله په خلکو کې ساه وچلېده .
واده هم ژر تيار شو، نور ټك ټوك او دود دستور سرخوړلی و، د ناوې تر لاس نيول و او له کوره ايستل .
د خانګي لاس له ولوره ختلی و، له لاسه يې درې څلور زره روپۍ له جېبه خرڅې شوې وې، دې په دې ټوکه ډېر خواشينی و، چې له ځان سره به يې حساب وکړ، وبه يې ليدل چې ولور ورځ په ورځ ډېرېږي، لږ تر لږه يې پنځوس شپېته زره روپۍ له خولې ووتلې، ها خوا ته خالد يو بې کوره بې اوره سړی دی، نه ښه نوم او اخلاق لري نه د جايداد خاوند دی، نه يې څه کسب و کمال شته، د ده لور به ورسره څه کوي؟ خو په عين حال کې به يې خپلو تصوراتو د فکر په سترګو لاسونه ونيول، د ولسوالۍ او قوماندانۍ تمو به يې زړه وتخناوه، لږ څه به ورين شو، چې ښه دی د مجاهدينو اعتماد مې حاصل کړ، خالد که د هر چا زوی او د هر ځای و، پخوانۍ خبرې پاته شوې، اوس مجاهد او د مجاهدينو سرګروپ دی، هر وخت خپل خلك لري او د هرې دورې خپل اشرف دی، په دې خبره به يې په کلي کې سر جګ نيولی و، بيا يې په خر اوبه اوبوله، خو له بده مرغه د اکبر يې هم ژر زوال شو، خبره داسې وه چې خالد څوك نه لرل، په کور کې يو ځری و، د دې لپاره چې ښځه يې په پردي ولس کې يوازې نه وي پرې ايښې، له کوره به نه ووت، ها خوا ته قوماندان واده ورته کړی و، تمه يې وه چې دی به نور هم خوش خدمتي ورته کوي، خو ده له واده سره هرڅه ته شا وراړولې وه، قوماندان ورته غر غر کېده، د ده پرځای يې بل سرګروپ وټاکه،

دی يې وروغوښت او سلا يې هم ترې واخيستله.
دغې برطرفۍ د خالد زړه مات کړی و، خو له جهاد پرته يې بله چاره نه ليده، هرڅه چې وو، هم يې ګذاره وربانديې کېده، هم خلکو ورڅخه سترګه کوله، په بلې غريبۍ پسې ښار ته نه شو تلای، هلته يې هم ګلونه کرلي وو، بل به يې څه کول. خو سرګروپي ګڼ امتيازات لرل، چې هغه نه وي کور چلول هم سخت کار دی، دغو اندېښنو په مخه کړی و، خانګل ته يې ځان ورورساوه، ورته ويې ويل :
تا ته معلومه ده، چې زه څوك نه لرم، كه جهاد ته ځم، يا په بله غريبي پسې وځم، کور مې په ډاګ پاتې‌ږي. كه كور ساتم، ډوډۍ له اسمانه نه راته راځي، چې هره خوا مې وسنجوله، بله لار مې نه وليده، پرته له دې چې راشم او په تا پورې واړوم، بيا به نو له کوره بې‌غمه يم، كه د ورځې ورك وم، كه د شپې، زړه به مې شاته نه وي ختلی، كه دا مشكل نه وای، سرګروپي به مې ولې له لاسه وتله؟
خانګي له مجبوريته ورسره ومنله، خالد او ښځه يې هم ورباندې تېپ شول .
خانګي په مناسب فرصت کې قوماندان ته وويل :
خالد په کور کې محرم نه درلود، اوس يې کډه راوړه، له ما سره اوسېږي. كه خدای كول اوس به شپه ورځ جهاد ته ملا تړلی حاضر وي. او له هېڅ خدمته به دې مخ نه اړوي، که يې بېرته قبول کړې او هغه پخوانۍ وظيفه وروسپارې....
قوماندان په تنده لهجه ورته وويل :
يو لوچك ګاډيوان و، عمر يې په بداخلاقۍ کې تېر شوی و، مجاهد مې کړ، سرګروپ مې کړ، د کور اور خاوند مې کړ، اما ده په هرڅه باندې سترګې پټې کړې، دا چې نور څه نه ورته وايم، خوشحاله دې وي .
_د خپل لاس نيالګی دې دی، وچېدو ته يې مه پرېږده. دی به هېڅکله ستاسې نېکي هېره نه کړي .

_په جهاد کې خوبونه نه کېږي .
_تر اوسه مجبور و، څوك يې نه لرل، ځوانه ناوې يې په پردو خلکو کې يوازې نه شواى پرېښودلاى.
_دى چې جهاد سم نه کړ، کوږ لرګى دى، په بار کې نه سمېږي. بلکې باور ورسره خرابوي، هغه پخوانى لوچکي او بېباکي يې پرې نه ښوولې .
_نوره به يې څه لوچکي وي، خوار دى، بېکسه دى، هستي نه لري چې ښه وخوري، ښه واغوندي او غټ غټ وړغېږي، که ستا له برکته هستمن شو، لوچکي به يې هم ورکه شي .
_زه يې دا لوچکي نه يادوم، چې په تن ښه نه لري، سپکې سپورې او ارجه برجه وايي، له سپکو سره يې پالي او له سپکو سره سپك کارونه کوي. سور د مولا دى خو يو کار يې په شرعه نه دى برابر .
خانګل بيا په خواره خوله ورته وويل :
ما خو خپله لور ستاسو په خوله ورکړه!
_رښتيا وايې، ما ويل چې واده ورته وکړم، له بدو لارو به راستون شي، راستون نه شو، اوس په ده پورې درست ګروپ نه شم بدناملاى، ورته ووايه چې د سرګروپۍ خوبونه دې نه ويني، د عادي مجاهد په حيث به يې ومنم، خو که يې ځان اصلاح نه کړ، د خپلو اعمالو جزا ته دې هم سترګې په لار وي .

## اتلسمه برخه

د خانګل تصوراتو ورځ په ورځ رنګ بايلود. هم يې زوم له ټوپه ولېدلى و، هم يې د مجاهدينو په برياليتوب قطعي باور له لاسه ورکاوه. په کليو کې يې هم د تکيې ځاى نه ليد، فکر يې کاوه، چې که خداى مه کړه مجاهدين ناکام شي، په چا پورې به لاس نيسي. ټول خلك ورته پاخه دي، هر چا ته چې قوماندان بد وررسولي دي، هغه يې له ده ګڼي .
کله به په کليو کې د مجاهدينو بې مسووليته ټولواکي وه، کله به بيا د روسانو قوه راغلې وه، مجاهدين به غرونو ته وختل، عام ولس به د

خدای اسرې ته پاته شوی و، خانګل فکر وکړ، چې "که دواړه ټکاوه، ما مړ وګڼه" تر کله به مې بخت بيدار وي، تر څو به روسان نور نيسي، نور وژني او په نورو به بمونه اوروي، ده او د ده کور ته به خير وي. وايي" سويه، سويه، که دا د تا بغرۍ وه او دا زما لکړه، يوه ورځ خو يې بويه" بهتره به دا وي چې له دې ګنګو باغ او ترخو باغه زړه وصبروم او کډه امن ځای ته ورسوم .

په دغو ورځو کې قوماندان هم له يوه ګروپ مجاهدينو سره پېښور ته تللی و، د ده زامن يې هم ورسره بېولي وو، خانګل خپلې ښځې ته وويل :

زه چې حال ته ګورم، دا وايم چې ښه به دا وي چې له دې ځايه هسې پښې سپکې کړو، نور دلته ژوند نه کېږي، وتل مو په ګټه دي، ښه وخت دی نه قوماندان شته چې راتم مو کړي، نه د پرچميانو راپام کېږي، زامن به مو هم راڅخه بېل نه وي، هلته به يې لنډ راسره ستانه کړو.

_ولې، تا خو به ويل چې مجاهدين به حکومت نيسي، خير الله او سيف الله به يو ولسوال وي، بل قوماندان، اوس دې منډو ته پايڅې دربرو هلې؟

_د کور او د بازار حساب نه سره برابرېږي. هغه وخت هغه فکر ښه و، اوس خير په تلو کې وينم، دا يې ستا زامن دوی ته ډېر منلي، چې کور دې سوی، لوی واړه دې د روسانو او پرچميانو تر تېغ تېر شوي وي، د خيرو دوی ولسوالي او قوماندانې به څه په شمېر درشي؟ نه يې ګورې چې هر وار قوه راشي، مجاهدين درڅخه غره ته وخېژي، يا د ګور تپې په ځنګلونو کې سرونه ننباسي، موږ او تاسې توپونو او ټانکونو ته پرېږدي. څو واره خدای وساتلو، تر قيامته له سره اور سره لوبې ښه کار نه دی، اخر پښېماني لري، بله دا چې څومره دې هلته زامن پر مخ ځي، دلته موږ ته ډېرې سترګې رااوړي، د هر چا راپام کېږي، دا خبرې ټوکې مه ګڼه .

ښځې يې چې د روسي ټانکونو د راتلو تېرې خاطرې ورپه زړه

کړې، ووېرېدله، بې جنجاله يې ورسره ومنله، هفته لا نه وه تېره شوې، چې د خانګي کډه بيا تر سالنګونو اوښتې وه، کابل ته ورسېدل، له کابل شاه جوی ته، له هغه ځايه له نورو کډو سره پاکستان ته واوښتل. هلته يې دېرې ته مخه کړه او په يوه کمپ کې يې واړول .
د وزير ګل کور هم په هغه کمپ کې و، زوی يې له کماندرانو سره ځان جوړ کړی و، دکمپ د يوې برخې مشري وررسېدلې وه، چې د خانګل کډه وررورسېده، منډې يې ورته ووهلې، خېمې، دوه درې راشنونه او څه نوره مرسته يې هم ورته برابره کړه، د خانګي بيا لاړه تېره شوه، له وراره څخه ډېر راضي و، خو په عين حال کې يې سترګې ورته ټيټې وې .
يوه ورځ يې وزير ګل ته وويل :
لالا! تاته ډېر پړ يم، قسمت به نه و کنه له تا به مې ولې غاړه غړوله .

_څوك چې د ښځې په خوله شي، هغه به تل داسې ټکرې خوري، وايي: "لوخې د قام ښه نه غوښته، سر يې په درياب کې وچ شو".
ورونه که هرڅومره سره جلا شي، بيا هم سره کوشير کېږي.
وروري د کوڅې او بازار اشنايي نه ده، د ورونو نه سره رغېږي، په بده ورځ مات لاس غاړې ته ولېږي، په دې خبرو فکر مه خرابوه، چې تېره شوه، هغه به هېر وګڼو، له دې په هيسته خپل ځان، خپل خپلوان او خپل حد وپېژنه، زامن دې راوغواړه، دلته به له حسن ګل دوی سره لاس و پښې وهي، هم به يې سترګې روڼې شي، هم به دې ګذاره ورپورې ښه شي، تر سترګو به دې لاندې وي، له خطره به ووځي، د قوماندانانو په ښوروا يې مه پورې کوه، تر اوسه يې کوم تر سر اړولی يې، چې اوس به دې واړوي...
خانګل ورسره ومنله، بله ورځ پېښور ته روان شو، د زامنو پته يې ومونده، دواړه يې له ځان سره راوستل، د حسن ګل سره به ښوربدل، له پسه غوز دوی ته هم رسېده.

خانګل به له ځان سره چورت واهه، پخوانۍ د خانۍ او ولسوالۍ خوبونه یې بې تعبیره پاته شوي وو، خو سم لاسي یې نن تر پرون ښه شوې وه، نه یې وېره حس کوله، نه د چا محتاج و، روزي په کور وررسېدله، له ځان سره به یې ویل :

څه مې له لاسه وتلي دي؟ هېڅ؛ زما به د خیال دنیا ړنګه شوې وي، دا یې ړنګه، د خانانو او د قدرت د څښتنانو سرونه، مالونه، کورونه، جایدادونه هرڅه تالا ترغۍ شول، په مینه پاته نازولی یې په پردو ډاګونو کې ځای نه مومي، زما حال ته یې سترګې وځي .زما لا څه پاته دي، چې خوابدی شم؟

ملا صاحب هم په هغه کمپ کې اوسېده، یوه ورځ خانګي ورته وویل :

ملا صاحب! باغ، مځکه او چمبر دې نه یادېږي؟

ملا صاحب ورته موسك شو، ویې ویل :

یوه ستن هم چې له چا ورکه شي، نه یې هېرېږي. خو اصلي خبره دا ده چې تر خپل ملك پټي او شخصي ځای جایداد مې د وطن په پردي کېدو ډېره خوا بده ده، تر هغو ونو چې د زړه په وینو مې روزلې وي، تر هغو مې د وطن په بچو ډېره خوا شنه کېږي، چې د کفارو بې‌رحمي یې په تانده ځوانۍ نیمه خوا کوي...

_په بې‌ګناه وژلیو د هر چا خوا بدېږي، لېکن اول ځان دی، بیا جهان دی، چې خپله نه وي وریېښه، پردی غم نیمه ننداره ده .

_هو! هغوی ته نیمه ننداره ده، چې احساس نه ولري، ایمان نه ولري او له سرېتوبه پوره بې برخې وي. ما چې ملك پټی نه درلودل، هم ملا صاحب وم، چې درلودل مې هم دغه شی وم، اوس چې هرڅه رانه پاته شول، دا دی ګورې مې هغه د سرېتوب جامه مې اغوستې ده، هغه څه یم، چې وم. د دنیا مال او اسباب د هندو ږیره ده، نن وي سبا نه وي، ایمان، عقیده او شرافت عاریتي نه وي .

زما و ستا نور هېڅ توپیر نه شته، دواړه انسانان یو، مسلمانان، افغانان او د یوه لاس ګوتې یو، دواړه څپ وهل شوي بېواکه په

پردو خونو کې پراته د بل داد ته ناست وو، نه ډم ته چا د سړي په سترګه کتل، نه ملا ته په ښه نظر؛ خو په ما او تا کې دا توپیر چې تا هم ښه او د عزت ژوند غوښت، ما هم. خو تا په خیالي او هوایي نقشو د نورو په مټ غوښت، چې هر ځل دې د خیال ماڼۍ ورانې شوې دي. له پښېمانۍ پرته دې څه په لاس نه دي درغلي او نورو ته دې څه نه دي ورپاته شوي، خو زه به لګیا وم، ځان به مې خواراوه، کار به مې کاوه، فکر به مې کاوه، خپله نقشه به مې عملي کوله. چې حالات بدل شول، اوس هم په خپلو کړو پښېماني نه راځي، که مې هغه ایښې باغ او ولاړ چمبر اوس په ښه نه راځي، د نورو په ښه خو به ورشي، هغه ما روزلي شاګردان که اوس ما تر لاس نه ونیسي، خپل کورونه خو به وپالي. نو ما څه تاوان کړی دی؟ داسې به یې وګڼم چې پردۍ مځکه مې پاللـه، پردی ناظر وم، د بل چا باغواني مې کوله، خو ته! ته به خپلو بې‌ځایه هیلو ته همېشه سر ټیټی یې، تا په واهي چورتونو ورور، کلی، ولس هم له ځانه خوابدي کړل، حتی خپلې لوڼې دې پوچو تصوراتو سپي او سړي پورې وتړلې. ته له ما مه خوابدی کېږه، ستا لپاره وایم، اوس هم لا د وخت سر دی، له دې په هیسته پام کوه، د بادو پر اس مه سپرېږه، هغه کار کوه او پر هغه لار ځه، چې پښېماني نه درته راولي...

خانګل په دې خبرو اور واخیسته، ویې ویل :

په تا پسې خو به خلکو ویل چې له اصله پیرنګی دی، په جاسوسۍ پسې راغلی دی، که هغه خبر رښتیا وي، اوس څه کول غواړې؟

_په دې کې شك نه شته، چې د خپلو پلانونو عملي کول او له هر چا سره په سړه سینه راشه درشه او خبرې کول، مې د پیرنګیانو خوښ شوي دي، ښه کار که هرڅوك کوي، یا ښه خوی چې د هر چا وي، باید زده یې کړو، دا چې زه اوس څه کوم، یا څه کول غواړم، نه ته ورباندې پوهېږې، نه ورسره دلچسپي لرې، بهتره به دا وي چې برغولی ورباندې کښېږدو .

**نولسمه برخه**

.کله چې د مهاجرو شمېر تر لکونو واوښت، په راشنونو کې کمبود راغی، کله به غوړي نه وو، کله به غنم کم وو، کله به نور څه کنډو شوي وو، د نغدو روپو ذکر په راشن پا سونو کې و، خو چا ته نه ورکول کېدې، دغه شان کمانډران هم بدل شوي وو، د وېش چارې درستې پاکستانیانو په خپل لاس کې واخیستې، د افغانانو لاسونه ترې وختل .

د وزیرګل زامن لا ښه وو، نه یې یو مخ ډول او بیاتي ته ځواب ورکړی و، نه یې په ډېرې فضول خرڅۍ ځانونه روږدي کړي وو، څه زېرمه یې لرله، چې له خپل پلارني کسب سره په کمپ کې دکان پرانیزي، دکانداري یې شروع کړه، نور یې د کمانډرانو له شامنډو، ته ضرورت نه پاتېده .

هرڅه د خانګي بیا لاس په خوله شول، نه نوره موندېده، نه یې سپوره تېرېده، اندېښنې وربانډې اورېدې، خصوصاً هغه وخت چې یوازې تورې ورستې غلې ته کښې‌ناستل. نه یې زامن په کار روږدي کړي وو، نه ده ده څه له لاسه کېدل، زامن یې د واړه پېښور ته لاړل، د ولایتي امر په وره کې کښې‌ناستل، چې جبهې ته یې واستوي، هلته که نور څه نه وي ګېډې خو به وڅروي، امر هم له یوه ګروپ سره ولېږل، خانګی پاته شو، له ښځې او دوو ماشومانو سره، چې د ورور خاطر جمعي ته به یې کتل او خپله پرېشاني به یې لیدله، په زړه به یې اور بل شو .

یوه ورځ وزیر ګل ورته وویل :

ګوره څو واره مې تر غوږ درتېره کړه چې دا راشنونه او کمانډرۍ به تر قیامته نه وي، څه خوره، څه پرېږده، خو تا ته زما خبرې بابېزه ښکارېدې، نغری دې سړېدو ته نه ورکاوه، اوس دې څه ترې جوړ کړه، زامن دې چې د خېټې بندګان دي ترې جوړ کړي وو، کار ته یې ملا نه تیټېده، په بده ورځ کې یې په وچ ډاګ پرېښودلې او دوی په غوړې ډوډۍ پسې درڅخه لاړل .خانګي ته د ورور خبرو خوند ورنه کړ، بې ځوابه ترې پاڅېد او خپل کور ته روان شو، هلته

يې خپلې ښځې ته کیسه وکړه، چې وزیرګل داسې راته وویل:
_نور شمر يې نه دررسېږي، پرته له دې چې پېغورونه درکړي،
په وطن کې دې له دې وروره څه لیدلي وو، چې دلته دې هم په ده
پورې واړول؟ اوس که زما منې، د خدای مځکه ارته ده، بل ځای به
ترې لاړ شو، که وږي وو، که تږي وو، څوك خو به د نېستۍ
پېغورونه نه راکوي.
_دلته چې راورسېدو، سیفو دوی راسره وو، ختې مو سره وتپلې،
کورګی مو جوړ کړ، چې له باد و بارانه په کې خوندي یو، اوس که
بل کمپ ته لاړ شو، کور به په چا جوړوو؟
_اوس لا زموږ څه دي، خېمې لرو، که په خېمو کې ګذاره نه
کېده، لونه دې واده شوې، زامن دې لاړل، دوه موږ یو، دوه مو
زامن دي، یوه خونه مو تر خوله تېره ده، که نور څه نه وو، ستا د
ورور او ورېنداري ایرغندي خو به نه اورو.
خانګی یې په دې خبرو په پښو کړ، چې بل کمپ ته د تلو سرشته
ونیسي، څو میله لیرې یې په بل کمپ کې د چا پرې ایښې مېنه پیدا
کړه، تر هغې یې ناړې وګرځولې، بېرته راغی، ښځې ته یې وویل:
چې ځای مې وموند، یوه خونه، یو پخلنځی یې ولاړ دی، خو ورونه
او تیران یې ترې ایستلي دي .
_پروا نه کوي، موږ به هم خپل بامونه واړوو، تیران به یې له
ورونو سره وباسو، هغه خونې به پرې پټې کړو.
سبا ته خیرو بام ته وخوت، د بامونو پر لوڅولو یې برید وکړ،
وزیرګل چې ورته وکتل، ورغی پوښتنه یې ترې وکړه.
خانګي له پاسه ځواب ورکړ:
په هغه بر کمپ کې مې یو دوه خونې پیدا کړې دي، غواړم هلته کډه
یوسم، تیرانو ته ضرورت لرم .
_دلته دې څه بد لیدلي دي، چې په پردو خلکو کې اړوې؟
_چې سړي ته له خپلو بد نه وورورسېږي، له پردو نه وررسېږي .
_مه لېونی کېږه، په لوی لاس په روغ سر داغونه مه ږده، چې

0787899692 0776484320

خپل دې په ښه در نه شي، پردي به دې هېڅکله په ښه در نه شي.
دومره د ښځې مه منه، که دې دا ښځه درته ژوندۍ وه، تر ډېرو کمرو به دې راوغورځوي .
_لا دې زړه نه دی راباندې سوړ شوی؟ اوس مې په تېر عمر له ښځې هم جلا کوې؟
_له ښځې به دې ولې جلا کوم، دومره درته وایم چې لږ فکر دروړاندې کوه، هره خبره مه منه.
_فکر مې راوړاندې کړی دی .
_ګوره مه کوه، ستا لپاره وایم، ځان مه ورکوه، بیا به پښېمان یې.
_خدای مې دې له پښېمانۍ ساتي، که وړی وم، که تړی وم، پېغورونه خو به نه اورم .
_خوښه دې، زه به څه درته وایم؟
چې دا یې وویل، وزیرګل خپل کاله ته ننووت، خانګی خپلو بامونو ته اړم شو، چې ژر یې واړوي، تر غرمې یې یو بام، له غرمې وروسته یې بل بام هم لوخ کړ، دغه شان یې د یوې خونې ور هم وایست. یوه خونه یې سالمه پرېښوده، چې تر لېښلو یې سر پناه وي.
سبا ته یې تیران هغه کمپ ته وچلول، هلته یې د ګاونډیانو په مرسته خونې پټې کړې، هفته لا نه وه وتلې، چې دوی ورکډه شول .
په دغو ورځو کې ملا صاحب په کور نه و، تر لیرې کمپونو تللي وو، چې کله راستون شو او د خانګي له کیسې خبر شو، ورغی وزیرګل ته یې وویل :
خانګی له عقله پل سړی دی. په خیر او شر نه پوهېږي، ته خو پوهېږې، ولې دې پرېښود چې لاړ شي؟ هلته به څه کوي؟ یو نیم نمیشوره راشن یې و، هغه به هم په لاس نه ورځي .
وزیرګل ورته وویل: ملا صاحب ته ښه وایې، خو چې د چا ورځ وګرځي، چاره یې نه شته، ډېر مې ورته وویل، کاشکې د منلو سړی وای .
_رښتیا وایې، ته هم ورور ژوندی وخوړلې، زه هم، خدای دې

Rahmatullah.shaker@yahoo.com Rahmatullahshaker.cs2015@gmail.com

هدايت ورته وکړي .
خانګل په نوي کمپ کې نور هم بېوزلی شو، ځکه چې هغه نیمګړی راشن يې هم له لاسه وتلی و، نېستۍ او پرېشانۍ ورځ په ورځ لاندې کاوه، ځانته يې توکل خو ګڼڼه يې نه لرله، ښځې ته يې هم په زړه کې نيمه سينه نه وه، چې له ځانه سره به يې محاسبه وکړه، خپلې ټولې بدمرغۍ د هغې له لاسه ورښکارېدې، د هغې لوی لوی تړپونه، بېځايه هوسونه، بې موجبه بدبېنۍ چې هرځل يې دی تاواني کړی و، ورپه زړه کېدې، خو دا وروستۍ لېږد يې لا پر زخمونو مالګې شيندلې. که دې نه وای مجبور کړی، په هغه کمپ کې يې څه بد ليدلی و، ورور يې ورور خوابدی کړ، راشن يې راشن له خولې ووته، زړه يې ورته ويل چې اوس هم کېدای شي چې بېرته ورشي، ټوپ کړي، نوه ټوپ کړي، هرڅه چې دی وزيرګل يې ورور دی، له ځانه به دې نه و شړي. بيا به دې ورپورې تم کړي، که نور څه نه وکړي، يوه سمه لار خو به دروښيي...
فکر يې سر ته راغی، چې دا يې وزيرګل په هرڅه پښه تېره کړې، چې ورځې به چېرې اړوې؟ هغه دوه درې خونې خو چې دوی درسره جوړې کړې وې، په خپل لاس ورانې کړې او دېوالونه دې هم وپلورل .
نور يې فکر لار ورکه کړه، چې څه وکړي، ښکاره نېستي او پټو غمونو يې سېکه ترې وړه، ورو ورو يې د سترګو نور هم پېڅې ورټولولې. نظر يې کمزوری شو، ښځه يې مجبوره شوه، چې په کمپ کې ګدايي وکړي، د ګدايي په ټوکانو به يې د ژوند ډېوې بلې ساتلې، که به يې کله د چا له کوره په لوښي کې څه دال، سابه راوړي وو، هغه شپه به په دوی د برات شپه وه .
وزيرګل چې خبر شو، ورغی ورته ويې ويل :
ما دې دغه ورځ ليده، خو تاسې په لويو ټالونو زنګېدئ، زه دښمن درته ښکارېدم، له خپلې بېعقلۍ موڅه جوړ ه کړه؟ اوس مې زړه درته خوړل کېږي، خو څه وکړم تاسې ما ته هم په کور کې پوزه نه

ده راپرېږ ايښې، چې سملاسي مو راسره په مخه کړم، دا دوه سوه روپۍ درواخلئ .
څو وخته ورباندې ګذاره وکړئ، زه به لاړ شم، کوښښ به وکړم، چې ښځه او زامن مې راسره سلا کړم، بیا به درپسې راشم، څه وکړم ښځه او زامن هم د دنیا سیالان دي، بله دا چې لاس مې ورلاندې دی، که د دوی رحم نه درته وپاروم او په خپل سر مو راسره روان کړم، زما انجام به هم ستاسې غوندې شي .
دریمه څلورمه وزیرګل له خپل یوه زوی سره ورغی او د دوی کډه یې بار کړه، بله ورځ یې خانګی د سترګو ډاکټر ته وروست، ډاکټر چې یې سترګې ولیدې، ورته ویې ویل، په سترګو دې پردې راغلې دي، شپږمه میاشت چې پخې شي، راشه چې اپرېشن یې کړم .
چې بېرته سره راغلل، دا خبره یې په کور کې وکړه، د وزیرګل ښځې بې ارادې له خولې ووتل :
پر دې به نه وي وازدې به پرې اوښتې وي .
خانګې او ښځې دا خبره واورېدله، خو اوس نه هغه خانګل خان و، نه هغه د خانګل خان مېرمن چې مچ یې پر پوزه نه پرېښوده، هېڅ یې هم نه وویل، سرونه یې ټیټ وځړول .

## شلمه برخه

ملا صاحب به هغه شان له ټیپ او کسټونو سره په کمپونو ګرځېد، یوه ورځ یې د میاولۍ د کمپ په جامع جومات کې تبلیغ وکړ، بیا یې له لمانځه وروسته له جوماته بهر خپل کسټونه مهاجرو ته وراورول، چې څه کسټونه یې وپلورل شي، یوه ځوان تر لاس ونیو ورته ویې ویل :
ملا صاحب! له ما سره به لاړ شې، چای به راسره وڅښې او شپه به دې هم له ما سره وي .
_ایمان دې په نصیب شه، چای به درسره وڅښم، ځکه چې د ترخو چایو سخت عملي یم، د شپې تکلیف نه درکوم، شپه به پل جومات ته ورسوم .

_خیر، د شپې خبره به بیا سره کوو، اوس راځه چې چای سره وڅښو.
ملا صاحب ورسره روان شو، د هغه کور جومات ته نژدې و، د ځوان ژبه، جامې او کړه وړه د وطندار سړي ورته ښکاره شول، په لار کې یې ورته وویل :
ځوانه! ما ته د شلګر د شا و خوا ښکارېږې.
_هو د شلګر یو، نوم مې شهباز خان دی .
_زه هم د شلګر یم، خو عمر مې اکثر په نورو وطنونو کې تېر شوی دی، اوس نوي ځوانان نه پېژنم.
په دې وخت کې د شهباز خان کور ته ورسېدل، شهباز خان له مخه شو، ملا صاحب ته یې وویل :
راځئ څوك نه شته، ملا صاحب هم ورپسې ورننووت. د شهباز خان تر کور ټیټ دېوالونه ګرځېدلي وو، دوړانګې یې درلود، د انګې په یوه خوا کې دوه خونې او یو دهلېز د اوسېدو لپاره ټیټ پوښل شوي ول، خونو یوه یوه وړه درڅه او ټیټ ورونه لرل. ملا صاحب یې یوې خونې ته ورووست. په خونه کې یو سور وطني ګیلم غوړېدلی و، چې ملا صاحب ته یې توشك وغوړاوه او بالښتونه یې هم ورته کښېښودل، مور ته یې نارې کړې، مور یې راغله، له ملا صاحب سره یې ستړې مشې وکړه، په عمر پخه ښځه وه، د سر وېښته یې ډېره برخه سپین شوي او په مخ کې یې ګونځې راپیدا شوې وې.
داسې معلومېده چې په ځوانۍ کې به ډېره ښایسته وه. ابۍ په بیړه لاړه ووتله، څو شېبې وروسته بیا راغله، دم کړی چای یې د ملا صاحب مخ ته کښېښود. په خپله ملا صاحب ته مخامخ کښېناسته، ټیکری یې لږ په ټنده راټیټ کړ، نور یې د مخ پټولو دوران تېر شوی و، ملا صاحب څو ځله بې ارادې ورته وکتل، بیا به یې سترګې ترې واړولې، شهباز خان د چایو پیالې ډکې کړې. مور یې ملا صاحب ته وویل :
ملا صاحب! د خدای کړه دي، له کلي کوره یې راورك کړو، دلته په

پردي وطن کې د خدای هیلې ته پراته یو، تاسې چېرې اوسئ؟
_زه په دېره کې اوسم .
_ملا صاحب! له تاسې به هم زموږ غوندې ملك، پټی، کلا، مال او هرڅه هرڅه پاته شوي وي؟
_هو! زه هم هلته داسې یو بهلول یو کچکول نه وم، باغ، پټی او ځانته چمبر مې درلود، چې د کفر حکومت راغی، هرڅه ته مې شا کړه، ترې راووتو.
هغې وویل :
موږ هم هرڅه په خدای وسپارل، خدایزده چې بیا به یې ګورو.
_دا د شکر ځای دی، چې روغ راوتلي یاست، د ډېرو خلکو په مېنه سپي هم نه دي پاته شوي .
_هو! ښه وایې، خدای دې ناراضه نه شي، دا زمن ګي چې راته ښوري، یوه باچهي ارزي .
بیا یې له ملا صاحب پوښتنه وکړه: ملا صاحب! ته زامن لرې؟
_زوی نه لرم .
_خدای دې زېرمه وکړه. کاشکې دې یو زوی لرلای، اوس به په سپینه ږیره ولې کلي په کلي ګرځېدای؟
_دخدای رضا به دغسې وه، ) په عین حال کې ملا صاحب بیا ورته وکتل او ولده یې سترګې کښته واچولې .(
_ملا صاحب! تاسې پخوا چېرې اوسېدئ؟
_زه په شلګر کې زېږېدلی یم، پلرونه مې کوچیان وو، بیا زه ډېر کلونه په لیرې ملکونو کې وښورېدم، پنځلس شپاړس کاله پخوا کندز ته لاړم، هلته د ملك پټي خاوند شوم، چې ساه مې وربانډې جوړه وه، د خلقیانو اله ګوله چې شوه، ترې راووتم. تاسو د شلګر په کوم کلي کې اوسېدئ؟
_زما پلار، د حکیم خان د کلا و، خو زه یې په بختیارو واده کړم، خاوند مې شېرزمان نومېده، که یې پېژنې!
د ملا صاحب په غوږونو کې انګازه شوه، څه شېبه یې سر کښته

اچولی و، زړې خاطرې یې تر سترګو تېرېدې، د ویالې پر غاړه جینکۍ یې لیدې، چې جامې مینځي، سره خاندي او شور یې دی .
شوخې بېباکې پېغلې ناوې، لوڅ مخ او خلاصې غاړې.. صرف یوه یې پلو مخې ته ونیسي، چې په هغه یوه حیاناکه کرشمه یې د غرونو ورغو نو غرڅه کړي، هغه یوه چې له کوچي ملا، قوال ملا او بیا د هند او برما د ځنګلونو مسافر جوړ کړي، هغه یوه چې د نیم مخ لیدو یې نیمه پېړۍ له ده ارام او کرار اخیستی و...
نن هغه کوچی ملا د هغې حیاناکې ښکلې مېلمه دی، نن له هغې سره خواله کوي، لوڅ مخ ورته ناسته ده..
بې ارادې یې ورته وویل :
زه هغه کوچی ملا یم، چې که دې ښه نه یم لیدلی زما کیسې به دې ضرور اورېدلې وي .
ابۍ ژر ټیکری پر مخ راټیټ کړ او په ټیټ اواز یې ورته وویل :
هغه کوچی ملا چې مینې لېونی کړی و؟
_هو! هغه کوچی ملا چې ببرسر، ببرې څګنې به کلي په کلي ګرځېده او د فراق سندرې به یې ویلې، اوس هم کمپ په کمپ ګرځي او سندرې وایي. هغه وخت یې د دوو بڼورو لېمو له لاسه لېمه نه سره ورتلل، اوس یې له هغو یادو سره د دین، مذهب، قوم، وطن او ملي خپلواکۍ غمونه هم مله شوي دي او په سپینه ږیره یې خوب او ارام ترې اخیستی دی.

Download from: aghalibrary.com